

# د ادب او ژورنالېزم
# ګډې خواوې او ژانرونه

لیکوال :
استاد شیرشاه همدرد

## دلیکوال لنډه پیژندنه



**زده کړه : د پښتو** ادبیاتو ماسټر
شیرشاه همدرد د الحاج ګل جان زوی،په ۱۳۵۳ ل – کال د ننګرهار د بهسودو په ولسوالی کې وزیږید،له ادب او فرهنګ سره یې مینه په فطرت کې اخښل شوی وه.

دی لا دمنځنې ښوونځې زده کوونکې و،چې له شعر اوادب سره یې دژورې مینې له امله د ښوونځې په ځانګړو غونډو کې پر دریځ را ځرګند شو.

دده فطرې جرءت او استعداد دې لا ډیر وهڅاو او دویاندې په فن کې د ښوونځې ښوونکو او دده ټولګیوالو هڅونې دی د یو فعال او باجرته ویاند په توګه راوځلاوه.

په ۱۳۶۹ کال کې کله چې په ټول هیواد د ناپایه جګړې سیورې خپور و، دی د ننګرهار پوهنتون دادبیاتو پوهنځې په پښتو څانګه کې د زده کړې لپاره کیناست او خپل فطرې استعداد او ذوق خړوبونې ته یې لا ډیره مخه پرانیستل شوه.

په ۱۳۷۳ کال کله چې دی د ننګرهار پوهنتون څخه په اعلی درجه فارغ شو، نو پر هیواد د ویر، وحشت،ډار، وژنو، وهنو او ټړنو یو سراسري سیورې خپور و، دخپل اسکیرلي،نتلي او ځپلې ټولنې د محرومو خو مقاومو خلکو د غږ اوچتولو په موخه یې ژورنالیزم ته مخه وکړه او ادبیات، فرهنګ او ژورنالیزم یې په یو وریښمین ادبي

مزي سره وتړل او چې پر هیواد د یو ملي بدلون او اوښتون څپه راواوښته ، نو دی د ژورنالیزم په ډګر کې نومیالی شو.
په دغه ډګر کې دی هم د نورو غوندې دی هم وحشت او دهشت ، ویرې اوترهې په لاسونو او ګواښونو وویرول شو،وډار کړای شواو وځپل شو، خو دده ذهن ،فکر او قلم نه یوازې داچې پڅ نه شو ، بلکې لا ډیر تیره شو او دریځ یې کلک او مقاوم شو.
نه یې د زندانونو پروا وساتله او نه یې د ویرې او ډار ... په ډاډه زړه یې د خپل ولس د غږ اوچتولو توغ په لاس کې رپانده وساته ، سره له دې چې ژورنالیزم دده ادبې فعالیتونو لږ څه ټکنې کړل،خو دادی د لویو او نویو ادبې زیږونو او پنځونو لپاره دده د خلاق فطرت یوازې دمه اوساه اخیستنه وه.
اوس چې لږ له ساه ډوبې چاپیریال نه راوتلی،نو دادی خپل اصلي رسالت او مسوولیت ته بیا هځیدلی، دکتابونو په لیکنو ، د سفرنامو ، خاطرو ،یادداښتونو په خوندې کولو او دخپل زړه غږ د خپل ولس او خلکو سره په شریکولو خپل ادبي مسولیت سرته رسوي .
د (دادب او ژورنالیزم ګډې خواوې)دده د وروستیو پنځونو بیلګه ده، وایي چې زده کړه له کوره ترګوره پکار ده، ښاغلی همدرد اوس اوس د پښتو ژبې ا وادبیاتو دماسټرۍ زده کړې بشپړې کړي او د ماسټر په سویه ټولنې د خدمت لپاره وړاندې شوی، زه یې دادب ، فرهنګ ، ژورنالیزم او کولتوري پراختیا په ډګر کې تر دې دسترو بریاوو هیله من یم.

په درنښت
په اسلام او پښتونولی مین
محمد داود وفا

دکتاب ځانګړنې :

=========================

دکتاب نوم : دادب او ژورنالیزم ګډې خواوې

لیکوال : استاد شیرشاه همدرد

اړیکې : ۰۷۰۸۱۹۸۳۰۲

**Sh.hamdard@yahoo.com**

کمپوز : پخپله لیکوال

ډیزاین : ډاکټر انتظاراحمد همدرد

چاپ شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه

انلاین خپرونکې : کتابتون

# نيوليک


| موضوع | مخ |
|---|---|
| تقريظ/ | ا |
| د پيل خبرې/ | ج |
| د ليکنې اهميت/ | و |
| د موضوع د ټاکلو لاملونه/ | ح |
| د ليکنې موخه/ | ط |
| د ليکنې ستونزې/ | ى |
| د څېړنې ميتود/ | ک |
| د موضوع شاليد/ | ل |
| سريزه/ | ۱ |
| د ادبياتو پېژندنه/ | ۳ |
| د ژورنالېزم پېژندنه/ | ۹ |
| د ادبياتو ځانګړنې / | ۱۶ |
| د ژورنالېزم ځانګړنې / | ۱۷ |
| ګډې خواوې/ | ۱۸ |
| توپيرونه / | ۲۵ |
| د ادب او ژرونالېزم ژبه/ | ۳۲ |
| ژورنالېزم د ادب د وړاندې کولو وسيلې په توګه/ | ۳۸ |
| په ژورنالېزم کې ادبي برخې ته اړتيا/ | ۴۱ |
| ادبي ژانرونه / | ۴۲ |
| ژورنالستيک ژانرونه/ | ۵۸ |
| خبر/ | ۵۹ |
| د خبر ډولونه/ | ۶۷ |
| رپوټ/ | ۹۳ |
| مرکه/ | ۹۶ |
| FOOC د خبريال د سترګو ليدلى حال/ | ۱۰۴ |
| Walk Talk يا د قدم وهلو مرکه/ | ۱۱۶ |
| په ژورنالستيکو ژانرونو کې ادبي برخې/ | ۱۱۷ |
| د ادب او ژورنالېزم ګډ ژانرونه/ | ۱۱۹ |
| پکېج/ | ۱۱۹ |
| ادبي خوا/ | ۱۲۴ |
| ژورنالستيکه خوا/ | ۱۳۵ |
| فيچر/ | ۱۲۶ |
| ادبي فيچر/ | ۱۲۷ |
| ژورنالستيک فيچر/ | ۱۲۸ |
| يونليک/ | ۱۳۲ |
| ادبي يونليک/ | ۱۳۳ |
| ژورنالستيک يونليک/ | ۱۳۴ |
| ژورنالستيک سفرونه/ | ۱۳۵ |
| راپورتاژ/ | ۱۳۹ |

ادبي راپورتاژ/ ۱۴۰
ژورنالستیک راپورتاژ/ ۱۴۰
طنز/ ۱۴۲
تمثیلي پارچه/ ۱۴۳
ډرامه/ ۱۴۴
سریالونه/ ۱۴۵
ادبي خپرونې/ ۱۴۶
د ګډو ژانرونو ګټې او زیانونه/ ۱۴۷
ګټې/ ۱۴۷
زیانونه/ ۱۴۸
پایله/ ۱۴۹
مناقشه/ ۱۵۰
پایلیزه/ ۱۵۱
وړاندیزونه/ ۱۵۲
ماخذونه/ ۱۵۳

# تقريظ

د ادب او ژورنالېزم ګډې خواوې او ژانرونه داسې يوه څېړنيزه موضوع ده، چې هم د ادب او هم ژورنالېزم لپاره د يو ښه لاسوند او ماخذ په توګه ترې ګټه اخيستل کېدلای شي.
دا موضوع خورا نوې او د اوسني پېر لپاره ډېره مهمه ده.
ښاغلی شېر شاه همدرد يو له هغو ماستر کانديدانو څخه دی، چې په خپل نوښت، زموږ سره په مشوره او د ماستری بورد په تائيد يې دغه سکالو غوره او دا دی په برياليتوب سره يې پای ته ورسوله.
ما د غه څېړنيز اثر له سره تر پايه ولوست او ځای ځای مې د اثر د لا غني کولو په موخه ښاغلي څېړونکي ته د لارښودې استادې په توګه مشورې ورکړې او ځينې اړين ماخذونه مې ورته په واک کې ورکړل، چې د تېزس په بشپړولو کې په علمي ميتود ترې ګټه واخلي.
د تېزس ليکنې ټول علمي معيارونه په پام کې نيول شوي او د نوې علمي ميود په رڼا کې د اړتيا پرمهال ځای ځای ماخذونه يې هم ښودلي دي.
دا څېړنيزه موضوع د څېړنې د دوو ميتودونو (کتابتوني او ساحوي) په رڼا کې بشپړه شوې او له معتبرو علمي ماخذونو څخه پکې ګټه اخيستل شوې.
دا تېزس د سريزې، د ليکنې اهميت، د موضوع د ټاکلو لاملونه، د ليکنې موخه، ستونزه، شاليد، تګلاره، اصل موضوع، وړانديزونه، مناقشې او د ښکلې پاېلې لرونکی دی.
په اصل موضوع کې لومړی د ادب په باب رڼا اچول شوې، بيا د ژورنالېزم په اړه په تفصيل سره خبرې شوي.
دغه راز د ادب او ژورنالېزم ګډې خواوې او توپيرونه په ګوته شوي او هم د ادب او ژورنالېزم ګډو ژانرونو باندې بحث شوی.

زه دغه څېړنيز اثر د ماستر کانديد د ماسترۍ پوړۍ لپاره کافي بولم، وړانديز کوم، چې کانديد دې د ماستر په سويه تائيد شي، ترڅو له امتيازاتو څخه يې برخمن شي.
ښاغلي همدرد ته په ګانده کې د نورو څېړنيزو اثارو د ليکلو او لابرياوو هيله کوم.

درنښت

پوهندوی ډاکتره زرغونه زېور رښتين

# د پیل خبرې

د معمول سره سم د ماسترۍ هر محصل په دې مکلف دی، چې د ماسترۍ زده کړې په څلورم سمستر کې پر یوې نوې موضوع خپل څېړنیز اثر (تیزس) بشپړ او ادارې ته یې وسپاري، چې له بشپړېدو، لارښود استاد او ادارې له تائید وروسته د ماسترۍ د فراغت سند مستحق ګرځي.

زه هم غواړم، چې پر یوې خورا نوې موضوع چې کېدای شي، تر دې وړاندې بل چا پرې کار نه وي کړی (د ادب او ژورنالېزم ګډې خواې او ژانرونه) څېړنیز اثر باندې د لارښودې استادې ډاکټر زرغونې زېور ښتین تر نظر لاندې کار پیل کړم.

په دې اثر کې به ادب او ژورنالېزم په مقایسوي ډول وڅېړل شي او ګډ ژانرونه به تر غوره شي، دا سمه ده، چې ژورنالېزم د یو جلا مسلک په توګه اوس په پوهنتونونو کې د بیل پوهنځي او جلا تعلیمي نصاب په چوکاټ کې مطالعه او زده کېږي، خو له ادبیاتو هېڅکله هم نه شي جلا کېدلای، ځکه چې ژورنالېزم له ادبیاتو رازېږېدلی او تقریباً په ځینو مواردو کې د ټولنې پروړاندې یو ډول مسوولیت اداء کوي.

بله مهمه خبره دا ده، چې ډېری ژورنالستیک ژانرونه د ادبیاتو او ژورنالېزم ګډ ژانرونه دي، که ژورنالېزم له ادبیاتو جلا شي، بویه چې په لویې لاس مور د ژبې او ثقافت د کوټه کولو هڅه کوو، په داسې حال کې چې رسنۍ او رسنوال د ټولنې د بېدارۍ، پیغام رسونې، خبرونې او تفریح ترڅنګ د ژبې او کولتور د بډاینې او کره کولو پازه هم لري.

د دې څیړنیز اثر لیکلو له امله مې د ادب او ژورنالېزم ډېر کتابونه مطالعه کړل، د پښتو ادب د پنځو ستورو ژوند او ادبي هڅې مې د وتلي پوهاند، صدیق الله رښتین په اثر د پښتو نثر هنداره کې له نظره تېر کړ، یقیناً چې د ادب او ژونالېزم په برخه کې د پښتو ادب د پنځو ستورو یادونه چې د

موضوع په شالید کې به پرې مفصل بحث وشي؛ غني موادو ترلاسه کړل.

دغه راز د ادب په برخه کې د لیکوالی فن، د پښتو ادب د تیوری اساسووه، د نثري ادب ډولونه، په پښتو ادب کې ادبي راپورتاژ، د پښتو نظم کلاسیک ژانرونه، د هند سفر، د پښتو تاریخي سیمینار، ادبي لیکونه او ځینې نور کتابونه مې لټ په لټ کړل.

د ژورنالېزم په برخه کې د اوسني ژورنالېزم بنسټونه، د اوسني ژورنالېزم نچوړ، کالم، فیچر او تبصره، راډیويي ژورنالېزم، تود خبر او سوړ خبر، مرکه، ژورنالېزم، عملي ژورنالېزم، د سولې ژورنالېزم، تاکنیز ژورنالېزم او دې ته ورته نور کتابونه مې هم ولټول.

بیا هم د موضوع اصلي روح پرې نه روښانه کېده، اړ شوم، چې د څېړنې له ساحوي میتود څخه کار واخلم، د ادب او ژورنالېزم د ګډو ژانرونو او ګډو خواوو په اړه مې د پوهنوال لعل پاچا ازمون او پوهنمل محمد داوود وفا، چې دواړه د ادب او ژورنالېزم په برخه کې کافي مطالعه، تجربه او لیکلي اثار لري، خبرې وکړې او د موضوع د توثیق په موخه مې د هغو له تجربو او لکچرونو هم ګټه واخیسته، چې له امله یې له کافي کړاوو او زیار وروسته د دې څېړنیز اثر په بشپړولو بریالی شوم.

زما د تېزس موضوع دومره نوې وه، چې په اړه یې کافي ماخذونه موجود نه وو، ما هڅه وکړه، چې لومړی د ادب په برخه کې کار وکړم، وروسته بیا د ژورنالېزم برخه وڅېړم او بیا د ادب او ژورنالېزم ګډ ژانرونه په نښه او وړاندې کړم.

په پای کې یوه نتیجه د وړاندیزونو سره مل وکښم.

ماخذونه مې هم د الفباء په سیستم وړاندې کړي دي.

زه نه وایم، چې په دې برخه کې به دغه اثر بسنده او بشپړ وي، خو هغه څه چې زما په وس پوره وو، هڅه مې وکړه، چې بشپړ اثر وړاندې کړم.

هيله لرم، چې له ما وروسته نور څېړونکي هم په دې برخه کې کار وکړي او يا که په دې اثر کې کومه نېمګړتيا ويني، د بل چاپ لپاره يې له ما خپلې مشورې او لارښوونې ونه سپموي.

د يادونې وړ بولم، د څېړنې پرمهال مې وخت نا وخته خپلې لارښودې استادې پوهندوی ډاکټرې زرغونې زېور رښتين سره موضوعات شريکول او په سړه سينه يې راته لارښوونه کوله.

درانه استاد ډاکټر صاحب محمدا جان حقپال، استاد ازمون او استاد وفا هم هغه استادان دي، چې تل يې په خپلو مشورو زما په علمي کارونو کې اسانتياوې رامنځته کړي دي. له دې امله له خپلو ټولو مربيانو، استادانو او په ځانګړي ډول له خپلې لارښودې استادې څخه د زړه له تله مننه کوم، چې تل يې له خپلو لارښوونو برخمن کړی يم.

درنښت

شېرشاه همدرد

# د لیکنې اهمیت:

د دې لیکنې اهمیت په دې کې دی، چې تراوسه رسنوال او اکثراً ژورنالستان د ادب او ژورنالېزم په تفکیک نه پوهېږي، دغه راز پخوا ژورنالېزم وچ په وچه په ژورنالستیکي ژانرونو بنا وو، خو د بدلون په لسیزه کې کله چې په افغانستان کې ژورنالېزم ته په اکادمیک ډول پاملرنه وشوه او د ډېرو رسنیو په رامنځته کېدو، اړتیا پیدا شوه، چې د خلکو د بوختونې او ادبي ذوق خړبونې لپاره له ادبي ژانرونو کار واخلي، په لږ تغییر دغو ژانرونو ته ژورنالستیکه بڼه ورکړل شوه او تر دا مهاله ترې کار اخیستل کېږي.

دا موضوع په خپله ځېړنې ته اړتیا لري، چې دواړه ژانرونه تفکیک او ګډې خواوې ځرګندې شي، همدارنګه دغو ژانرونه لا غني شي، چې په رسنیو کې ځېړنیزه تشه محسوسه نه شي او هم ژورنالستان په تیوریکي ډول د ژانر په پېژندنه، د ادبي او ژورنالستیکي ژانرونو په تفکیک او د ادب او ژورنالېزم په ګډو ژانرونو وپوهېږي.

نن سبا په دې برخه کې د ازاد رقابت مسئله ډېره مطرح ده، د ژورنالېزم په ډګر کې هم ازاد رقابت دومره زیات دی، چې د هرې رسنۍ مسوولین هڅه کوي، له بل نه میدان وګټي، خپل لیدونکي، اورېدونکي، لوستونکي او مینه وال زیات کړي.

پخوا یوازې یو دولتي تلوېزیون او یوه دولتي رادیو وه، که هر ډول خپرونې وړاندې کولې، خلک اړ وو، چې دغه بې رقیبه رسنۍ وګوري، واوري او یا یې هم ولولي.

خو اوس هر څه برعکس دي، که هره رسنۍ په رسنیز ډګر کې د سیالۍ جوګه نه وي، یا له منځه ځي او یا هم ډېر وروسته پاتې کېږي.

په ژورنالېزم کې نوښت او هر رنګی د سیالی ګټونکي ټاکي، هغه رسنۍ چې وچه په وچه ژورنالېزم وړاندې کوي، هم له سیالۍ پاتې کېږي او که یوازې په ادب شخوند وهي، بیا هم سیالي نشي ګټلی.

رسنوال اړ دی، چې د ادب او ژورنالېزم په کارولو خپل مینه وال زیات او خپله رسنۍ مخکښه کړي.

بل پلو خلک هم لېوالتیا لري، چې له هر رنګ نه خوند واخلي، انسان تفریح، اطلاعاتو، ښوونې، روزنې، پیغام رسوونې او اخیستنې ته اړتیا لري. که دغه اړتیا د ادب په ضم رنګین وي، د خلکو د دلچسپي او ښې اخیستنې سبب ګرځي.

همدا علت دی، چې نړیوالې رسنۍ هڅه کوي، د ژورنالېزم په برخه کې داسي ژانرونه رامنځته کړي، چې د دوی رسنۍ تل پاتې بڼه غوره کړي او دا نوي ژانرونه چې وروسته به پرې په تفصیل بحث وشي؛ ادبي رنګ او خوند لري.

هماغسې چې ادب او ژورنالېزم ټولمنلی تعریف نه لري او د وخت د غوښتنې سره سم د بدلون او پرمختګ په حال کې دي. د ژانرونو بڼې یې هم بدلېږي او جلا رنګ او خوند ځان ته غوره کوي، چې په غیر ارادي ډول ادب ته داخلېږي.

همدا علت دی، چې اوس په رسنیو کې ادیب، لیکوال او شاعر ژورنالستان ښه جذبېږي او تر ډېره دوی په خپلو کارونو کې بریالي هم دي.

دې ټولو ارزښتونو ته په پام، اړتیا ده، چې موږ د ادب او ژورنالېزم په ګډو ژانرونو او خواو ډېر کار وکړو.

## د موضوع د ټاکلو لاملونه:

عمده علت يې د داسې لاسوند او ماخذ رامنځته کول دي، چې د ژورنالېزم په ډګر کې مسلکي ژورنالستان له هغه څخه ګټه واخلي.
بل لامل يې دا و، چې ژورنالېزم وچ په وچه مطالعه نه شي، بلکې د ادب په دايره کې ترې ګټه واخيستل شي.
دريم لامل يې دا و، چې له دغسې څېړنو پرته وچه په وچه د ژورنالېزم په پخوانيو تعريفونو کې چې د ژبې په ساده والی ټينګار کېده، که مسايل پرېښودل شي، د بازاري او کوټه کليمو او الفاظو د داخلېدو سبب به شي.
څلورم عمده لامل يې دا و، چې رسنۍ د يوې ژبې د کره والي او ادب د بډاينې او پرمختګ سبب شي، نه دا چې د ټولنې اخلاق، کمزوری خوا ته سوق کړي، ځکه خو د دغو مسايلو څېړلو ته اړتيا شته او عمده لامل يې د ادب او ژورنالېزم په برخه کې د يو ګډ اثر رامنځته کول دي.
که څه هم، ما د لسانس او ماستری زده کړې د پښتو ژبې او ادبياتو په برخه کې ترسره کړې، خو شل کاله مې د ملي او نړيوالو رسنيو د ژورنالېزم په برخه کې کار وکړ او اوس هم د ژورنالېزم په برخه کې په کار او فعاليت بوخت يم.
ومې پتيېله، چې د خپلو زده کړو او عملي کار نتيجه د ادب او ژورنالېزم په ګډو ژانرونو کې وازمايم.
همدارنګه زموږ اديبانو يوازې د ادب او ژورنالستانو يوازې د ژورنالېزم په برخه کې تجربې کړي دي، داسې يو اثر چې د دواړو استازيتوب وکړای شي او يا هم د ادب او ژورنالېزم توپيرونه او ګډې خواوې څرګندې کړي؛ زما په نظر نه دي راغلي، ځکه ومې غوښتل، چې دغسې يوه هڅه زه وکړم، ګوندې زموږ د رسنوالو د ګټې اخيستنې وړ وګرځي.

## د ليکنې موخه:

د دې ليکنې او څېړنې موخه په پښتو ادب کې زياتونه، په ژورنالېزم کې رنګينې او د ټولنيز اخلاقو لوړتيا ده.
ادب د ادب لپاره نظريه نه، بلکې ادب د ټولنې لپاره نظريې پياوړي کول دي، ځکه چې زموږ ټولنه جګړو دومره ځپلې ده، چې

فکري بيارغاونې ته اړتيا لري او دا هله کېداى شي، چې ادب د ژورنالېزم له لارې عام شي او عامه افکار تنوير کړي.
همدارنګه په ژورنالېزم کې بوختوونکي پروګرامونه لکه، موسيقي، تمثيل، طنز ... هغه څه دي، چې اصلاً په ادب کې مطالعه کېدلاى شي، خو په يو ډول نه يو ډول دا برخې د ژورنالېزم په اډانه کې ځاى پر ځاى شوې دي، ځکه خو اړتيا ليدل کېږي، چې دا دواړه خواوې په پرتله ييز ډول وڅېړل شي او د لا پرمختګ لپاره يې کار وشي.
بله موخه مې دا ده، چې د دې اثر په بشپړېدو زموږ ليکوال او ژورنالستان به لا وهڅېږي، چې د نوو ژانرونو په رامنځته کولو د ژورنالېزم لمنه لا پراخه او رنګينه کړي.
که اوس يو ژورنالست له يوې پېښې وچ په وچه رپوټ وړاندې کوي، له دې وروسته هغه طلسم مات کړي، چې بې خونده رپوټ په خلکو واوروي او يوازې خلکو ته معلومات وړاندې کړي، بلکې له داسې روشونو کار واخلي، چې په ادبي ژبه او رنګينو الفاظو هم خلکو ته معلومات ورسوي او په ټولنه کې د عاطفې په زېږولو د ناخوالو مخه ونيسي او هم دغه ژورنالستيک رپوټ په ادبي رنګ سره په خلکو ځانګړى اغېز پرېباسي.

# د لیکنې ستونزې:

په لومړي سر کې ما ګومان کاوه، چې دا څېړنه به اسانه وي او ډېر مواد به ترلاسه کړای شم، خو کله مې چې کار پرې پیل کړ، پوه شوم، چې په خپل ګومان کې تېروتی یم، ځکه کله چې ژورنالستیک کتابونه مې مطالعه کول، هغه به داسې ژورنالستانو لیکلي وو، چې وچ په وچه به ژورنالېزم پوهېدل، یا یې د ادب برخې ته پام نه و شوی.

کله به مې چې ادبي کتابونه مطالعه کول، عین ستونزه به وه، داسې یو اثر مې ونه موند، چې د ادب او ژورنالېزم په برخه کې ژوره کتنه کړې وي او یا لږ تر لږه د ادب او ژونالېزم په ګډو خواوو او توپیرونو رڼا اچولې وي.

دغه راز په ننګرهار کې د یو مجهز کتابتون نه شتون بله ستونزه وه.

د موضوع سره د ځینو کادرونو نابلدتیا بل سر خوګی و.

خو د ټولو ستونزو سره سره د خپلو قدرمنو استادانو او په خانګړي ډول خپلې لارښودې استادې د لارښوونو او مشورو پرمټ مې خپله څېړنه بشپړه کړه.

## د څېړنې میتود:

په دې څېړنه کې به د څېړنې له دوو میتودونو کار اخیستل کېږي، کتابونو ته به مراجعه کېږي، چې دا به یې کتابتوني میتود وي، خو ځینې ژانرونه نوي ایجاد شوي، چې تراوسه دا په شفاهي ډول دي او تجربه کارو ادیبانو او ژورنالستانو هغه کارولي دي، لازمه ده، چې د هغوی سره د هغوی د تجاربو په اساس خبرې وشي، چې دا به ساحوي برخه وي.
د ځینو استادانو او با تجربه ژورنالستانو سره د هغوی د تجربو په اساس دومره ډېرې خبرې موجودې دي، چې کېدای شي، لا تراوسه لیکنۍ بڼه نه وي غوره کړې، ځکه نو دا میتود هم راته ډېر مهم دی.
له همدې امله ما دا څېړنه په دوو میتودونو ترسره کړه.
لومړی یې کتابتوني و، چې د ادب او ژورنالېزم د معتبرو کتابونو په اخذ ولیکل شو او دوهمه برخه یې ساحوي ده.
په ساحوي برخه کې مې د ژورنالېزم په ټولګیو کې د ځینو استادانو له لکچرونو او د یو شمېر هغو استادانو چې د ادب او ژورنالېزم په برخه کې کافي تجربه لري د مرکې ترې ګټه واخیسته.

## د موضوع شالید:

موضوع ډېره نوې ده، ما ته تراوسه داسې کوم اثر نه دی تر سترګو شوی، چې بل چا پرې کار کړی وي، په نا ځان خبري ډول عملاً ترې ګټه اخیستل کېږي، خو په لیکني چوکاټ کې راداخل شوي نه دي، زه غواړم چې دا برخه هم په لیکني او ادبي چوکاټ کې داخله کړم.

دا چې په افغانستان کې د ژورنالېزم ډګر د علمي او څېړنيزو اثارو او کتابونو له پله ډېر غني نه دی، هيله مې دا ده، چې دغه هڅه به نورو ته د لا ډېرو څېړنو مخه خلاصه او د موضوع پراختيا ته يې وهڅوي.
خو که د ادب او ژورنالېزم تاريخ ته کتنه وشي، ډېری داسې خلک شته، چې هم د ادب او هم د ژورنالېزم په برخه کې يې کار کړی دی او د قدر وړ هڅې يې ترسره کړي دي.
موږ د موضوع د لنډون په موخه هغه کادرونه، نه يادوو، چې يا يوازې د ژورنالېزم په برخه کې ځلېدلي او يا هم يوازې د ادب په برخه کې، بلکې د هغو پوهانو يادونه کوو، چې په معاصره دوره کې هم د ادب او هم د ژورنالېزم په برخه کې کار کړې وي.
له دې جملې د پښتو ادب د پنځو ستورو يادونه کوو او د موضوع په شاليد کې پر همدې بسنه کوو:

## ۱: پوهاند صديق الله رښتين:

### ادبي هڅې:

پوهاند رښتين د پښتو ادب له پنځو ستورو څخه يو و، چې لسګونه ژبني، تاريخي، علمي او ادبي کتابونه يې تاليف کړي دي.
روسي پوهندوی ګيرس يې په اړه وايي:
((رښتين په پښتو نثر د بديع اثر څښتن دي، مګر د ده ژبنی څېړنې، تاريخ ليکل او شعر ويل يې د ده د نثر نه سبقيت لري، د ده د هند سفر يو په زړه پورې اثر دی))
پوهاند حبيب الله تږی بيا د کابل کالنۍ د ۱۳۳۹ کال په ګڼه کې د پوهاند رښتين په اړه ليکلي دي:

((رښتين د خپل وخت نوميالی ليکوال او قومي نثر ليکوونکی دی، زما په عقيده د هند سفر د رښتين شهکار او د پښتو يو ډېر قيمتي اثر دی))

د پښتو غزل پلار او بابا امير حمزه شينواری په خپل کتاب (نوی پښتون) په ۴۲۰ مه صفحه کې ليکي:

((رښتين د پښتو ژبې يو دروند او ځلاند ليکوال دی، ښه محقق او نکته رس پښتون دی))

د پوهاند رښتين چاپ اثار په لاندې ډول دي:

- پښتانه شعرا دوهم ټوک
- پښتو کلي شپږم ټوک
- پښتو لومړی ليارښوونکی
- د پښتو ادب تاريخ
- د پشتو اشتقاقونه او ترکيبونه
- د پښو لوی ګرامر په فارسي
- نوی ژوند
- د پښتنو مجاهدې
- پښتو قيصې
- د هند سفر
- پښتو ليار
- د معارف دوهم ټولګي لوستنه
- د معارف درېيم ټولګي قرائت
- د مئينو هندار – له عربي نه ترجمه
- د معارف شپږم ټولګي دنيات
- د موند عبدالحميد ديوان
- د خوشال د بازنامې چاپونه
- د ژوند سندره
- پشتو ژبښودنه
- د پښتو مصدرونو لارښود

- پښتو عروض
- د پښتونستان پېښې
- د پښتو ادبيات
- د پښتو نثر
- د پښتو ادب درې کورنۍ
- ګرامي اصطلاحات
- د پښتو او سنسکرت نژدېوالی

پورته ذکر شوي کتابونه چاپ شوي دي.

**د پوهاند رښتين په قول دغه کتابونه يې ناچاپ دي.**

- پښتنې مېرمنې ډرامه
- د زلمو وظيفې ترجمه
- د پښتو شعر قسمونه
- پښتو څېړنه
- نوميالي شاعران
- د ژوند پلوشې نثري مجموعه
- د نثر تاريخچه
- د ننګرهار سفر
- د کتغن سفر
- د شوروي اتحاد سفر
- د مصر سفر
- د پېښود سفر
- د دولسم ټولګي قرائت

## ژورنالستيکې هڅې:

د پښتو ټولنې غړيتوب: پښتو ټولنه هغه مهال د ادبي فعاليتونو ترڅنګ مطبوعاتي فعاليتونه هم کول، پښتو کتابونه يې چاپول، چې پوهاند رښتين يې په مطبوعاتي برخه کې ډېر

فعال و او د دایرة المعارف د څانګې مسوول و، که څه هم چې وروسته د پښتو ټولنې مشر شو، خو هغه یې په ادبي فعالیتونو کې راځي. د سموونې چارې مطبوعاتې اړخ لري.

دغه راز د پوهاند رښتین د نشراتو د لومړنۍ څانګې مدیریت هم د هغه د مطبوعاتي فعالیتونو څخه ګڼلای شو.

په ۱۳۲۱ لمریز کې په ګردیز کې د (وړانګې) او فراه کې د سیستان جریدو تاسیس او په دغو ولایتونو کې په لومړۍ ځل د چاپخانو فعالول یې د ژورنالېزم په ډګر کې بل نه هېرېدونکی خدمت دی.

پوهاند رښتین څه موده د هېواد اخبار او کابل مجلې چلوونکی هم پاتې شوی دی، چې د هغه مهال لپاره دا ستر ژورنالستیک فعالیتونه وو، چې ده به ترسره کول.

لوی استاد پوهاند صدیق الله رښتین د مولوي تاج محمد خان زوی، په ۱۳۳۵ کال شاوخوا د موندو په سره کمر کې زېږېدلی دی.

دی په پښتو، دري، اردو او عربي ژبو پوهېده او لیکنې هم پرې کولای شو.

پوهاند صدیق الله رښتین زموږ د ادب او ژورنالېزم هغه نومیالی پوهاند او لیکوال دی، چې په دواړو برخو کې د ټولنې د پرمختګ او ذهني تنویر لپاره یې د قدر وړ هڅې کړې او له خانه یې له ویاړه ډکې کارنامې پرېښې دي.

# ۲: مولوي قیام الدین خادم:

## ادبي هڅې:

خادم صاحب د ادب په برخه کې د لوی لاس خاوند و، ځکه دی ښه شاعر و، د پوهاند رښتین په خبره چې پوخ لیکوال او نومیالی ادیب و، د ده اثار په لاندې ډول دي:

- معلم پښتو
- پښتو کلي لومړی، دوهم او درېیم ټوکونه
- د کوچنیانو اخلاقي پالنه
- روحي ګلونه چې د پښتو شعرونو ټولګه ده
- نوی ژوندون
- د ملغلرو اصیل (خپل شعرونه یې دي)
- پښتونولي
- بایزید روښان
- د شریف سرګذشت ( له اردو نه د یوې افسانې د یوې برخې ژباړه ده)
- مکارم الاخلاق له عربي نه ترجمه ده
- خیالي دنیا
- نوې رڼا
- نبوغ او عقریت

## ناچاپ اثار یې دا دي:

- لوی رحمابان
- مکالمات په فارسي
- د پښتونولی پور
- اجتماعي مقالې
- نصوص الحکم
- ادبي قیصې
- سور ګل ډرامه

- مجلسي شاعران
- د پښتو فني ليكوال
- كره پښتو
- يو مسلمان او ټول پورپ – ژباړل شوې ډرامه ده

## ژورنالستيكي هڅې:

د پښتو ټولنې د تاليف او ترجمې، د زېري جريدې او دايرة المعارف مديريتونه يې ترسره كړي دي.

دغه راز دى د اتحاد مشرقي، د كندهار طلوع افغان، كابل مجلې او اصلاح مسوول مدير او چلوونكى هم پاتې شوى دى. څه موده د هېواد اخبار مسوول هم و.

اديب او ژورنالست چې په دواړو برخو كې كار كړى، هغه خادم صاحب دى.

مولوي قيام الدين خادم د ملا حسام الدين زوى د ننګرهار په كامه كې زېږېدلى دى.

قيام الدين خادم هم په پښتو، دري، اردو او عربي ژبو پوهېده او ګڼ شمېر اثار يې ليكلي دي.

# ۳: ګل پاچا الفت:

## ادبي هڅې:

استاد ګل پاچا الفت د ادب په برخه كې لاندې اثار ټولنې ته وړاندې كړي دي.

- د سپرلي نغه
- عالي افكار
- د ازادى پيغام
- غوره اشعار او د زړه دنيا، ټول يې منظوم اثار دي
- بله ډيوه
- لغوي څېړنه
- پښتو سندرې
- ليک پوهه
- ادبي بحثونه

- پښتو کلي پنځم ټوک
- منطق
- لوړ خیالونه او ژور فکرونه
- غوره نثرونه
- املا او انشاء (لیکوالي)
- نوی سبک او نوی ادب
- ملي قهرمان خوشال خان ختک یې نثري چاپ اثار دي
- نوی څرک
- څه ګورم، څه اورم
- اجتماعي نظریات
- ښه لمسون
- د ټولنې علم او موفقیت لار یې ناچاپ اثار دي

## ژورنالستیکې هڅې:

د انیس ورځپاڼې کارکوونکی و، بیا د زېرې جریدې د صحافت د څانګې مدیر شو، وروسته په اصلاح ورځپاڼه کې د سلاکار په توګه دنده سرته رسوله، بیا د پښتو ټولنې عمومي مبصر شو.
دغه راز د کابل مجلې چلوونکی و، څخه موده د اتحاد مشرقي مدیر و او د ولس ملي ورځپاڼه یې هم چلولې ده.
استاد ګل پاچا الفت د میر سید پاچا زوی په ۱۳۲۹ هـ ق کال د لغمان په کڅ کې زېږدېدلی دی.
الفت صاحب هم هغه څوک دی، چې هم یې په ژورنالېزم او هم په ادب کې د پوره شهرت لرونکی دی.

## ۴: عبدالروف بېنوا:

### ادبي هڅې:

بېنوا صاحب د ادب په برخه کې لاندې اثار لیکلي دي:

- پښتو کلي درسي کتاب

- پردیس د اردو ژبې د لیکوال ډاکټر اقبال د مسافر ژباړه ده
- پښتو د شاهانو په دربار کې رساله
- پښتنې مېرمنې
- میرویس نیکه
- د غنمو وږی (نظم دی)
- ادبي فنون
- چند اهنګ ملی (په فارسي ژبه د پښتو اهنګونه)
- خوشال خان خټک څه وایي؟
- د ډار مسټر پښتو ځېړنې چې د حبیبي صاحب په ملګرتیا یې ژباړلې ده
- پښتونستان
- پرېشانه افکار
- د ګیتا نجلی ژباړه
- د زړه خواله
- پښتو قرائت
- هوتکي ها (په فارسي ژبه د هوتکیانو تاریخ دی)
- خوشال او سپرلی (وړه رساله ده)
- باچا خان (د فارغ بخاري له اردو نه ژباړه نه)
- اوسني لیکوال دریم ټوکه
- نظري به پښتونستان
- لیډران امروزي پښتونستان
- زو ګنهګار او زلمي شهید یې ډرامې دي
- ویښ زلمیان (د ده په اهتمام چاپ شوی)
- د خټکو دوره،

## ژورنالستیکي هڅې:

د عبدالروف بېنوا ژورنالستیکي هڅې په لاندې ډول دي:

کله چې بېنوا صاحب د پښتو ټولنې غړی شو، څه موده وروسته د پښتو ټولنې د صحافت څانګې مشري وروسپارل شوه، بیا د کابل مجلې چلوونکي شو، د هېواد ورځپاڼې لومړی ګڼه هم د ده په مشرۍ چاپ شوه، بیا د مطبوعاتو د مستقل ریاست د نشراتو مدیر شو.

وروسته په هند کې د افغانستان سفارت مطبوعاتي استازی وټاکل شو.

په ۱۳۳۵ کال کې د کابل راډیو رئیس شو، په ۱۳۴۱ کال کې په مصر کې د افغانستان سفارت مطبوعاتي استازی وټاکل شو، په ۱۳۴۴ کال کې بیا د کابل راډیو رئیس شو او بیا د مطبوعاتو وزیر شو.

دغه راز رحمان بابا، کاظم خان شیدا او پیر محمد کاکړ هم د ده په سریزو او سموونو چاپ شوي دي.

- اشتباه
- اشیانه عقاب
- زرنګ او حکومت بیدار است یې فارسي ډرامې دي.

د بېنوا صاحب ادبي او ژرنالیستیکي هلې ځلې د ادب او ژورنالېزم د تاریخ برخې جوړوي.

عبدالروف بېنوا په ختټه علي زی د ملا عبدالله زوی دی، چې په ۱۳۳۲ هـ ش کال د کندهار په پاشمول کلي کې زېږېدلی دی.

بېنوا صاحب په پښتو، عربي، اردو او فارسي ژبو پوهېده.

## ۵: پوهاند عبدالحی حبیبي:

### ادبي هڅې:

د حبیبي صاحب ادبي اثار په لاندې ډول دي:

- سپڅلې پښتو چې لس زره لغتونه لري
- پسرلنی سنده (نظم دی)
- تاریخچه ادبیات پښتو
- د پښتو ادبیاتو تاریخ دوه ټوکه
- پښتانه شعرا اول ټوک
- د ډار مسټر د پښتو هارو و بهار پښتو ترجمه چې د بېنوا صاحب په ملګرتیا یې ترسره کړې
- مشاهیر ابدالیان
- پښتو او پښتونواله
- خود اموز پشتو
- پښو و لویکان غزنه چې په پښتو ژبه کې نوې پلټنه ده
- پر دې سربېره د خوشال خان کلیات، د عبدالقادر خټک دیوان، د احمد شاه بابا دیوان او پټه خزانه هم د ده په سموونه او څېړنه چاپ شوي دي.
- حبیبي صاحب په فارسي ژبه کې هم کتابونه لیکلی دي، چې رشته اکثراً یې په تاریخ او ثقافت پورې اړه لري، په فارسي نظم یې هم ځینې رسالې لیکلي دي، لکه: غزنه او پیغام شهید.
- په اردو ژبه یې هم یو کتاب لیکلی دی، چې ( ملتان کا لودهي خاندان) نومېږي او په لاهور کې چاپ شوی دی. (د پښتو نثر هنداره ۳۱۸ صفحه)
- د شاهنامې په فرهنګ او طبقات صوفیه کې یې هم بشپړه څېړنه کړې ده.

## ژورنالستیکي هڅې:

د پښتو ادب مورخ او دغه پیاوړی لیکوال په خپلو ژورنالستیکي هلو ځلو د ژورنالېزم بازار څه نا څه ګرم ساتلی وو.

حبیبي صاحب د دې ترڅنګ چې مورخ و، قوي څېړونکی، پیاوړی لیکوال او ښه ژورنالست هم و.

په ۱۳۱۰ کال کې د کندهار د طلوع افغان مدیر شو او ۱۷ کاله یې کار وکړ، د طلوع افغان له لارې یې خپلو ژورنالستیکو فعالیتونو ته دوام ورکړ، وروسته کابل ته راوغوښتل شو او د پښتو ټولنې لوی مدیر شو، ځینې نور ریاستونه او مشاورتونه او وکالت التجار یې په ژورنالستیکي هڅو کې نه راځي، ځکه ترې تېرېږو.

پوهاند عبدالحی حبیبي د اخندزاده عبدالحق زوی و، چې په ۱۲۸۹ هـ ش کال په کندهار کې زېږېدلی دی. حبیبي صاحب هم په پښتو، فارسي، اردو او عربي ژبو پوهېده.

د پښتو ادب پر ذکر شویو ستورو سربېره برهان الدین کشککي هم د ادب او ژورنالېزم په برخه کې دومره کار کړی دی، چې دلته یې یادونه حق بولم.

# برهان الدین کشککي:

## ادبي هڅې:

ده د معارف لپاره ډېر درسي کتابونه په پښتو لیکلي دي او یا یې له فارسي نه پښتو ته ترجمه کړي دي.

په فارسي ژبه هم اثار لري، چې مشهور یې (نادر افغان) دی، یو ناول یې هم لیکلی، چې (په پټه د پټو پلټنه) نومېږي.

بل پښتو مشهور اثر یې د هند علامه شبلي نعماني د سیرت النبي ترجمه ده، په دې برخه کې یې بله مهمه هڅه د مولانا شیخ الهند د اردو تفسیر موضوع القرآن پښتو کول دي، چې په دریو ټوکونو په کابل کې چاپ شوې دی.

یو بل ناول یې پټه مینه نومېږي.

ده د شعر العجم درېیم ټوک په فارسي ژباړلی دی

د ادب او ژورنالېزم په برخه کې انقلابي شاعر اجمل خټک هم د یادونې وړ دی، ځکه چې دی له بنده وروسته څه موده د انجام

په ورځپانه کې د پښتو برخې چلوونکی و او په پښتو بزم ادب کې ډېره موده سکرتر و.
د غیرت چیغه او کچکول یې مهم اثار دي، چې چاپ شوي دي.
مسافر د ده نثري اثر دی، چې چاپ شوی نه دی.

## ژورنالستیکي هڅې:

کشککي صاحب په ۱۹۱۷ کال کې د اتحاد مشرقي اخبار مدیر شو، بیا د امان افغان مرستیال شو، څه موده د حبیب الاسلام مدیر و، له انقلاب وروسته لس کاله د اصلاح ورځپاڼې چلوونکی و، څه وخت لپاره یې د عمومي مطبعې ریاست هم کړی دی.
دی هم په پښتو، دري اردو او عربي ژبو پوهېده.
کېدای شي ځینې نور ادیب ژورنالستان هم تېر شوي وي، خو هڅې یې دومره نه وې، چې د ذکر شویو ادیب ژورنالستانو سره سیالي وکړای شي او هم د موضوع د لنډون په موخه په همدې بسنه کوو.
کشککي په ۱۲۷۳ د ننګرهار سره رود په کشکک کلي کې زېږېدلی دی، لومړنۍ زده کړې یې له خپل پلار مولوي احمد علي خان سره کړي، بیا هند ته تللی او هلته یې عربي مروجه علوم یې ولوستل او مولوی شو.
پوهاند رښتین د پښتو نثر هنداره نوې اثر په ۳۸۴ مخ کې د ښاغلي کشککي په اړه داسې لیکلي دي:
((د پخې او کلکې ارادې خاوند، د کار او فعالیت نمونه، د قانون او قاعدې تابعدار، په معارف او مطبوعاتو کې هر کار ته تیار و، په دغو دواړو ځایونو کې هر ډول مسلکي او اداري چارې سرته رسولي دي))

# سريزه

مخکې له دې چې د ادب او ژوناليزم په ګډو خواوو او ژانرونو بحث وکړو، لازمه ده، چې لومړی ادب وپېژنو، بيا ژورناليزم، د دواړو پرتله هم وړاندې کړو، هله به د ادب او ژورناليزم د ګډو خواوو او ژانرونو په څرګندولو کې سره د قناعت وړ ټکي پيدا کړو.

د ادب په باب په بېلابېلو ماخذونو کې بېلابېلې پېژندنې وړاندې شوي دي، چا ادب د ټولنيز ژوند يا د يو ولس د افکارو وروستی او عالي افاده بللې، چا د يو ملت د ملي شعور تدريجي تکامل ګڼلی، ځينې بيا وايي چې ادبيات ټولنيز واقعيتونه د هغو انځورونو په مرسته څرګندوي، چې د ژبې په وسيله جوړېږي او بې له انځوره کېدون نه لري، خو سرڅېړونکی دوست شينواری (د ادب د تيوری اساسونه) کتاب کې بيا ادب په لغوي او اصطلاحي معنی هر اړخيز څېړلی او ريښه يې هم موندلې ده، ده د اريانا دايرة المعارف په حواله ليکلي: ((ادب عربي کلمه ده، چې هم د روزنې، ښه معاشرت، ښو کړو وړو حرمت او نمانځنې معنی لري او هم په عنعنوي توګه هغې ژبنی پوهې او ژبني هنر ته ويل کېږي، چې پخوانيو پوهانو پکې ژبني علوم يعنې ژبپوهنه، صرف، نحوه، معاني، بيان، بديع، عروض، قافيه، حتی د ليک او لوست قوانين، اشتقاق، انشاء او تاريخ شامل کړي وو، چې اوس مجموعاً د (ادبياتو) په نامه يادېږي.

دغه راز ژورناليزم بيا د جلا ژانر په لرلو د ادب ترڅنګ اوړه په اوړه عين موخې تعقيبوي، توپير يې په دې کې دی، چې ژانرونه يې بيل دي او په ژورنالېژم کې د ژبې پر ساده والي تاکيد کېږي.

که د ادبياتو ځينو تعريفونو ته ځيرشو، نو ويلای شو، چې ژورناليزم هم ادب دی، يا د ادب يوه څانګه ده، چې د ځانګړو اصولو او چوکاټونو په لرلو د خپرونې، بوختوونې، پيغام رسوونې، ټولنې پرمختګ اصلاح او سمون پازه ترسره کوي.

د دې لپاره چې دغه پوښتنې: آیا ژورنالېزم ادب دی؟ که ادب ژورنالېزم دی؟ که دواړه بېلابېل فنون دي؟ ګډې خواوې یې څه دي؟ هغه توپیرونه، چې ژورنالېزم له ادب څخه جلا کوي، کوم دي؟ او هغه ګډ ټکي چې د ادب سره یې یوځای کوي، کوم دي؟ په ښه ډول ځواب شوې اوسي، هڅه مې کړې، چې د بېلابېلو سرلیکونو لاندې دغو پوښتنو ته ځواب پیدا کړم.

د دې لپاره مې د ادب او ژورنالېزم په اړه لسګونه لیکل شوي کتابونه لوستي او د اړتیا وړ ټکي مې ترې اخذ کړي دي.

دغه راز انټرنیټي سایټو نه مې هم پلټلي او د موضوع په باب د نویو څېړنو په لټه کې شوی یم، چې بیا مې هم موضوع په سمه توګه روښانه نه کړای شوه.

اړ شوم چې د څېړنې له ساحوي میتود څخه کار واخلم او د مرکو او ځینو استادانو له لکچرونو په ګټې اخیستنې تر خپلې وسې مې هڅه کړې، چې موضوع ښه وڅېړم او مطلوبه نتیجه ترې وباسم.

درنښت

# د ادبیاتو پېژندنه

ادبیات ادب ته منسوبه جمع ده او د هغو ژبنیو علومو مجموعې ته وایي، چې په پورته معنی (ادب) پورې اړه ولري.[1]
ارواښاد استاد ګل پاچا الفت هم د ادب په اړه په زړه پورې بحث لري، دی وایي: د ادب د کلیمې اصل (هذب) دی، چې د بې عیب معنی لري، د (هذب) کلمه په اصل کې د هغې ونې لپاره استعمالېده، چې ځینې ښاخونه به یې پرې کړای شو او صافه به شوه، وروسته دا کلمه له محسوساتو څخه معنویاتو ته رانقل شوه او هغه چا ته هم وویل شوه، چې عیبونه به یې ورک شول، یعنې (مهذب) به شو.
د مهذب کلمه د کامل انسان لپاره د ونې له (تهذیبه) رااخیستل شوی دی.[2]
ښاغلی دوست شینواري د (تیوریهای ادبي و نقد ادبي) په حواله لیکي:
د ونې د محسوس او د انسان د معنوي تهذیب په شان د ژبې صنعت هم دی، ژبه چې په ادبي صنایعو، نزاکتونو، او لفظي ښکلاوو وپسوللّه شي، هر ډول نظر، ابډیال او تخیل پکې ځای شي، هغې ته ادبي ژبه ویل کېږي، همدغه کیفیتونه د ژبې د ژبې د (ادب) او د هغو په رموزو اشنایي ادبپوهنه ده.
ځینې پوهان په دې نظر دي، چې د ادب کلمه د اوېستا له (دب) څخه چې د لیکلو په معنی ده او د (دبیر) او (دبستان) کلمې ورنه جوړې وې، اخیستل شوې ده.[3]
د ادب پورتنۍ پېژندنې زموږ د اصلي بحث او موضوع لپاره مهم دي، ځکه وروسته د ژورنالېزم سره د پرتلې لپاره به له همدې پېژندنې نه ګټه واخلو.
حبیب الله جاج پښتونزوی وایي:

[1] د ادب دتیوری اساسونه
2 : ادبي بحثونه، مقدمه
3 تیوري های ادبي و نقد ادبي

دهر ملت ادبيات ځان ته تاريخ لري، چې مضمون يې د ملي شعور تدريجي تکامل دی، له تاريخ نه يې مراد دا دی، چې د تدريجي تکامل د علمي قانونمندۍ له مخې د يو ملت ادبيات بايد داسې يو له بلې څخه راوتلې مختلفې دورې ولري، چې داخلي ارګانيک او سيستماتيک دوام او انکشاف يې پکې څرګند وي او هره وروستۍ دوره يې په نسبي توګه تر مخکنۍ دورې، بشپړه او د فکري مضمون په لحاظ نوې وي. [4]

اروا ښاد استاد محبوب شاه ارزومند د خپل ماسترۍ تيزس (د پښتو نظم کلاسيک ژانرونه) کې د جاج پښتونزوۍ په حواله کاږي.

ادبيات په شکلو الفاظو او کلموم د يوه ولس د افکارو وروستۍ او عالي افاده ده، چې د ودې او انکشاف ارګانونيک دوام يې مهم خصوصيت دی او له ګړنې (شفاهي) او ليکنې (تحريري) عنعنې بېلوي. [5]

دی بيا په خپله زياتوي:

(( دا چې ادبيات په ټولنې پورې اړه لري او د ټولنيز ژوند په ځلونه يعني انعکاس کې ستره اغيزه لري، نو ويلای شو، چې د ټولنيز ژوند په بهير کې له ټولنيزو بدلونونو سره سم بېلابېلې بڼې غوره کړي دي))

د اجتماعي ريالېزم موسس، نامتو ليکوال، ماکسيم ګورکي ادب داسې تعريفوي:

((ادب د اجتماعي طبقاتواو ډلو د ايډيالوژۍ، احساس، تفکر، هوډ او هيلو تصويري افاده ده، هغه د طبقاتي روابطو خورا زيات رسا او رښتونې تجسم دی... دا تل تر تله د څه لپاره يا د څه په خلاف مبارزه ده، بې تفاوته هنر نشته او نه امکان لري چې وي به، ځکه چې انسان د عکاسۍ کمره نه ده، دی ټول واقعيت نه ثبتوي، بلکې يا يې تائيدوي، يا يې په ورانولو لوږوي. [6]

---

4 د پښتو نظم کلاسيک ژانرونه
5 د پښتو نظم کلاسيک ژانرونه
6 (د ادب د تيورۍ اساسونه) (۱۵) مخ

هندي ليکوال رابندر رانا ټاګور بيا وايي:
ادبيات هغه نازک او لطيف فن دی، چې د هنري ځېرو تر سيم په الفاظو سره کوي.
د ادب په باب دې ته ورته خورا زيات نور تعريفونه هم شته، خو موږ د خپلې څېړنې د اثبات او ژورناليزم سره د پرتلې په موخه يوازې هغه تعريفونه رانقل کړل، چې زموږ د موضوع سره اړخ لګوي، لکه د ګورکي په تعريف کې چې انسان د ټولنيزو واقعيتونو پروړاندې غبرګون ښيي، يا يې تائيدوي، يا يې ردوي او يا هم د ټاګور په تعريف کې چې د هنري ځېرو ترسيم په الفاظو سره ادبيات بولي.
په ژورناليزم کې ډېرى داسې ژانرونه شته، چې دغه تعريف پرې صدق کوي، لکه پکېچ چې وروسته به پرې مفصل بحث وشي، واقعيتونه پکې انځورېږي.

ادبيات په عمومي ډول په دوو برخو وېشل کېږي، چې هغه عبارت دی له نظم او نثر څخه.
نظم او نثر څه ته وايي؟
په دې برخه کې به هم لنډ معلومات وړاندې کړو.

## نظم:

نظم په لغت کې پر مزي د مرغلرو پېيلو ته وايي، په ادبي اصطلاح کې هغه وينا ده، چې وزن ولري، پخوا يې قافيه هم شرط و، خو اوس قافيه څوک د نظم اساسي رکن نه ګڼي، لکه ازاد شعر.

## نثر:

نثر عربي کلمه ده، چې په لغت کې تيتولو او پاشولو ته وايي او په ادبي اصطلاح کې هغه وينا ده، چې د وزن او قافيې له قيده ازاد وي.
که موږ په ادبياتو کې هر ډول ژانر لولو، که موږ په ادبياتو کې هر ډول ژانر تر بحث لاندې نيسو، يا به نظم وي او يا به نثر، چې دا دواړه برخې ځانګړي ژانرونه او شکلونه لري او هر ډول يې بيا د محتوا له پلوه هم بېلابېل ډولونه لري.
په نظمي ادبياتو کې دوه ډوله شعرونه پېژنو، يو د شعر يا نظم هغه فورمول يا چوکاټونه چې د عربي ژبې څخه پښتو ته راغلي وي، خو دلته زموږ په ژبه کې دود شوي دي.، لکه: غزل، قطعه، قصيده، مثنوي، مستظات، مثلث، مربع، مخمخس، مصدس، ترجيع بند، ترکيب بند، معشر او داسې نور...
دويم د شعر يا نظم هغه فورمونه او چوکاټونه دي، چې هغه په خپله د پښتو شاعرۍ زېږنده دي، لکه لنډۍ، سروکی، کاکړۍ غاړې، د اتڼ نارې، ببولاله، چاربيته، بدله، بګتۍ، لوبه او نور دي.
اوس لا ازاد شعر، ټپيزي او ټکورېزې هم پرې ورزيات شوي دي.
په نثري برخه کې هم د نثر بېلابېل ډولونه پېژنو، پوهاند صديق الله رښتين د پښتو نثر هنداره کې نثر په دوه ډوله وېشل:

لومړی: ساده یا مرسل نثر
دوهم: مسجع نثر
د معنی له مخې یې په درې ډولونو وېشي:
اول: خبرې اترې، (محادثه)
دوهم: وینا (خطابه)
درېیم: لیکنه (تحریر)
دی وایي: ساده یا مسجع نثر د قافیې او سجع له قید څخه خلاص وي، او مسجع نثر هغه نثر ته وایي، چې د جملو په اخر کې سجع او قافیه ولري، لکه د پیرروښان د خیرالبیان نثر.

**خبرې اترې:** هغه خبرې اترې، چې خلک یې یو د بل د پوهولو او راپوهولو او مطلب شکاره کولو لپاره کوي، د خبرو اترو نثر بلل کېږي.

**خطابي نثر:** هغه خوندورې او اغېزناکې وینا ته ویل کېږي، چې پوهان او مشران یې د مهمو مقصدونو لپاره په لویو غونډو او ټولنو کې کوي.

**د لیک او تحریر نثر:** هغه نثر ته وایي: چې د علمونو، کتابونو او اثرونو د لیکلو لپاره ورڅخه کار اخیستل کېږي.
(د پښتو نثر هنداره ۱۳ او ۱۴ مخونه)

ځینې ادبپوهان بیا د محتوا او منځپانګې له مخې ادبیات په دوو لویو برخو وېشي: یوې ته یې تخلیقي یا هنري ادبیات او دویمې ته یې تحقیقي یا څېړنیز ادبیات وایي.
تخلیقي ادبیات هماغه د شعر او نثر بېلابېل ادبي ژانرونه دي، چې د تخلیقي بڼه لري او تحقیقي یا څېړنیز ادبیات بیا پر دغو پنځول شویو یا تخلیقي ژانرونو تحلیلي، تفصیري او تشریحي بحثونه یا لیکنې دي، چې په ادبي څېړنو پورې اړه لري.
په ځینو ادبي څېړنو کې بیا ادبیات د بڼې له مخې ادبیات په څلورو ډولونو وېشل شوې دي:

۱: شعري ادبیات، ۲: داستاني ادبیات، ۳: نثري ادبیات، ۴ ډرامه يي ادبیات.
دغه وېشنه په لرغوني یونان او اروپايي هېوادونو کې دود وو، خو زموږ په فرهنګي او ادبي کړيو کې د شکل له مخې ادبیات په دوو ډولونو وېشل شوې چې نظم (شعر) او نثر دی، چې هر يو يې د محتوا له مخې بیا په بېلابېلو ډولونو وېشل شوې دي.
دا چې زموږه موضوع د ادبیاتو او ژورنالېزم د ګډو ژانرونو څېړل دي، ځکه نو دا بحث نور نه غځوو، راځو دې ته چې د ادب او ژورنالېزم ځانګړنې څه دي:

# د ژورنالېزم پېژندنه:

هماغسې چې نور ټولنيز علوم ټولمنلی تعريف نه لري، دغسې ژورنالېزم هم کوم ټولمنلی تعريف نه لري، هر يوه يا هر مسلکي يې له خپله انده پېژندنه وړاندې کوي، څوک يې د رښتيا او حقيقت ويلو مسلک ګڼي او څوک يې هم د پيغام رسولو، خپروني، تفريح او بوختولو وسيله. هغوی چې د رښتيا او حقيقت ويلو پر تعريف ټينګار کوي، کره کتونکي يې په دې اند دي، چې ډېری واقعيتونه او حقيقتونه شته، چې ژورنالېزم يې نه څېړي، لکه کورني رازونه، د والدينو د اړيکو څرنګوالی او دې ته ورته نور، دوی ټينګار کوي، چې هر حقيقت د ويلو نه دی، بلکې هغه واقعيتونه او رښتيا چې خلکو ته پر زړه پورې وي، د خلکو په ژوند په مستقيم او يا هم غير مستقيم ډول اغېز ولري او ټولنه پرمختګ او سمون خواته بيايي ژورنالېزم دی.

که د ژورنال لغوي څېړنې ته ځير شو، راته جوتېږي، چې ژورنال د يادښتونو ټولګه او ييزم مکتب ته وايي، يادښتونو کې طبعاً اطلاعات او خبرونه وي، که ووايو، چې ژورنالېزم يعنې خبري مکتب، نو تعريف به يې هم لږ روښانه شي.

په هر حال دلته به لومړی ژورنالېزم د پوهانو له نظره وڅېړو او بيا به د خپلې تجربې په اساس د خپل فکر تعريف هم وړاندې کړم.

# د ژورنالېزم په اړه بېلابېل نظرونه:

هماغسې چې مخکې مو یادونه وکړه، ټولنیز علوم ثابت تعریف نه لري، د وخت په تېرېدو، تغیر کوي او هر څوک یې له خپله انده تعریفوي، ژورنالېزم هم د ټولنیزو علومو د یوې څانګې په توګه له دې مستثنی نه دی، یو وخت ژورنالېزم یوازې په چاپ او صحافت تعبیرېده، د راډیو په رامنځته کېدو یې بڼه واوښته، د تلوېزیون او د انټرنېټ رامنځته کېدل د ژورنالېزم لمنه دومره پراخه کړه، چې د ژوند هره برخه رانغاړي او هرې غوښتنې ته ځواب وایي. دغه راز د نوې ټېکنالوژۍ پرمټ د نړۍ خلکو ترمنځ دومره نږدېوالی رامنځته کړی، چې نړۍ اوس د یوه کلي حیثیت لري، نن که په افغانستان کې څه پېښېږي، د ټېکنالوژۍ پرمټ د ژورنالېزم په واسطه په ټوله نړۍ کې یې خلک ګوري او حس کوي یې.

که په امریکا یا کوم بل پرمختللی هېواد کې کوم انکشاف کېږي، په افغانستان کې هم خلک ترې اغېزمن کېږي، دا چې په راتلونکې کې به د ژورنالېزم بڼه څنګه وي، کوم نوي شیان به پکې داخلېږي، دا به وخت ځوابوي، خو د اوس لپاره ژورنالېزم د یو مسلک په توګه ددغو بېلابېلو تعریفونو په رڼا کې پېژندل کېږي.

د بي، بي، سي، خبریاله صفیه حلیم په خپل کتاب ژورنالېزم کې ژورنالېزم د رښتیا ویلو او واقعیت بیانولو مسلک ګڼي، رښتیا او حقیقت د ژورنالېزم بنسټ ګڼي، د خپلې ادعا د ثبوت لپاره د هغه پاچا کیسه بیانوي، چې د خپل خوب په تعبیر د یوه سر کټ کوي او بل مکافات کوي.

دا وایي: ((یو باچا د شپې خوب ولیدو، چې ټول غاښونه یې غورځېدلي دي، سهار یې خپل نجومي راوبللو او خوب یې ورته بیان کړو، نجومي ورته وویل: د باچا سلامت ټول خپلوان به دده په ژوندون مري.

باچا په قهر شو او د نجومي د وژلو امر يې وکړ، بيا يې بل نجومي راوبلو او هغه ته يې هم خپل خوب بيان کړو، دې نجومي ورته وويل: باچا سلامت به تر ډېرو کلونو ژوندی وي، باچا خوشحاله شو او هغه ته يې انعام ورکړ، په ظاهره دواړو نجوميانو په خبرو کې توپير ښکاري، خو په اصل کې د خوب معنی يوه وه.))

له دې کيسې نه هدف دا دی، چې رښتيا خوبه وايو، خو څنګه به يې وايو، د همدې رښتيا ويلو هنر ته ژورنالېزم وايي.

دا تعريف تر ډېره د ژورنالېزم په بنسټ، چې هغه رښتيا ويل او د حقايقو بيانول دي صدق کوي، خو د اوسني ژورنالېزم بشپړه پېژندنه نه شي کولای.

مسعود مومن چې د سولې ژورنالېزم په نوم کوم کتاب ليکلی، د دې کتاب په پښتی کې رسنۍ حساسه وسيله ګڼلې، دی وايي:

((رسنۍ هغه حساسې وسيلې دي، چې کېدای شي، په بېلابېلو ان متعارضو موخو ترې کار واخيستل شي، هم کولای شي، د يوې وسلې په توګه د کړکېچ او جګړې په ګټه کړنې ترسره کړي او هم کولای شي، د کړکېچ د اوارولو او سولې ټينګښت او پاېښت لپاره په مرستندويه وسيلو بدلې شي))

په دې تعريف کې رسنۍ ته د سولې او جنګ له زاويې کتل شوي، د سولې ژورناليزم په کتاب کې دا تعريف جامع دی، خو په عام مفهوم د ژورنالېزم يا رسنيو پېژندنه نه شي کولای.

عبدالمالک عاصم په خپل کتاب (نوی راډيو خبريالي) کې ژورنالېزم داسې تعريفوي:

((ژورنالېزم د واقعيتونو نړۍ ده، ... ژورنالېزم د درغل کوونکو او سياستوالو د مهار کولو او خلکو ته د هغوی د کړنو روښانولو دنده ده... داسې دنده، چې د عادي وګړو ترمنځ اړيکې ټينګوي))

دا تعريف هم تر ډېره د ژورنالېزم په رول رانغاړل شوی، ليکوال د خپلو تجربو له مخې د ژورنالېزم ارزښت بيانوي، خو د ژورنالېزم جامع تعريف ورته نه شو ويلی.

پاکستاني ژورنالېست او لیکوال افتخار عارف د کالم، فیچر او تبصرې نومې کتاب په سر خبرو کې لیکي:

((ژورنالېزم ډېره مهمه ستن ګڼل کېږي، یوه داسې ستن چې د نړۍ د حکومتونو د شپې او ورځې په لوړو او ژورو کې ډېر مهم او اغېزمن رول ادا کوي، د اوسني پېر نوې تکنالوجۍ ابلاغیاتو ته د یو اغېزمن او منظم علم درجه ورکړې ده))

د همدې کتاب په سریزه کې بل پاکستانی لیکوال او ژورنالېست محمد اسلم ډوګر لیکي:

((په اوسني پېر کې د ژورنالېزم رول دومره پراخه شوی دی، چې د ژوند هېڅ څانګه یې له اغیز څخه خوندي نه ده، دا مهال ژورنالېزم یوازې د پېښې خبرونه نه برابروي، بلکې ځینې وختونه پېښې داسې رپوټ کوي، لکه ژورنالېزم چې تاریخ تشکلیوي))

ډاکټر عبدالرشید خورشېد وایي، صحافت کلیمه له صحیفې نه اخیستل شوی، چې معنی یې کتاب یا رساله ده.

لېزلي ستیفن په دې اند دی، چې ژورنالېزم د هغو چارو د لیکلو نوم دی، چې په اړه یې تاسو هېڅ نه پوهېږئ.

اېرېک هوډنګز Erich Hodings بیا په ژورنالېزم کې په هوشیارۍ او امانتدارۍ ټینګار کوي او وایي:

ژورنالېزم په دیانتدارۍ او هوشیارۍ له یوځای څخه بل ځای ته د معلوماتو د رسولو هغه انداز دی، چې په هغه کې رښتینولي برلاسی وي او د پېښو، خبرتیا، ژر نه، بلکې په کراره مګر سمه څرګندوي.

ایف فریندز باند وایي، د خبرونو راټولول، پر خبرونو تبصرې کول او خلکو ته یې پر وخت رسول ژورنالېزم دی.

ژورنالېزم عمومیت رامنځته کوي، ټولنه ځاري او پاېلې یې بېرته ټولنې ته وړاندې کوي، چې په دې ډول سره یوه ټولیزه رښتینولي یا حقیقت راجوړوي.

د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي استاذ محمد داود وفا په خپل اثر (دنوي ژورنالېزم بنسټونه) کې وایي:

«هغه ټول فعاليتونه چې د خلکو د خبروني او پوهوني لپاره، د عامه ډله ييزو ارتباطي او اطلاعاتي وسايلو له لارې خپرېږي، ژورناليزم ګڼل کيږي».

زما په نظر ټول نظرونه په خپل ځاى سم دي او ژورناليزم د پېژندني لپاره ممد واقع کېدلاى شي، خو د استاذ محمد داوود وفا تعريف د اوسني ژورناليزم رښتينى او بشپړه پېژندنه په ګوته کوي.

دلته بايد د خبريال او ژورنالست توپير وشي، خبريال هغه څوک دى، چې د پېښو خبرونه برابروي، راټولوي يې، سموي يې ترتيبوي يې او د ډله ييزو اطلاعاتي وسايلو له لارې يې نشر ته سپاري، خو که يو څوک په يوه راډيو او يا تلوېزيون کې تفريحي برنامه پرمخ وړي، يا د اخلي، پخلي برنامه تنظيموي، يا د ماشومانو او ځوانانو لپاره مطالب چمتو او بيا يې وړاندې کوي، يا دا چې د مېرمنو عادي او نورمال پروګرامونه د رسنيو له لارې تنظيموي، پرته له دې چې هغه خبري بڼه ولري، د پروګرام متصدي او وړاندې کوونکى وي او يا هم نور بېلابېل پروګرامونه د رسنيو له لارې خلکو ته وړاندې کوي، دى هم ژورنالست دى.

يعنې هر خبريال ژورنالست دى، خو هر ژورنالست خبريال نه دى، خبريال هغه څوک دى، چې د پېښو په اړه معلومات راټولوي، خبر ترې جوړوي او د رسنيو له لارې يې خپروي، ځکه زه وايم، چې د استاذ وفا تعريف په کچ مېچ برابر دى، کېدلاى شي، دا مهال لوستونکو ته پوښتنه راولاړه شي، چې خير پروډيوسر څه معنى؟ نطاق څوک دى؟ تخنيککر چاته وايي؟ بيا دوى ژورنالستان دي، که خبريالان، که يو هم نه؟

د دې پوښتنو بشپړ ځوابونه به په پنځم څپرکي کې (د ژورنالستيکي ويونه او اصلاحګانې) سرليک لاندې په مفصل ډول ولولى، دلته همدومره ويل اړين بولم، چې هوکې! دوى ژورنالستان دي، خو خبريالان نه دي، يو وخت چې د ژورناليزم يا صحافت لمن ډېره پراخه نه وه.

د دې ويـيـونـو تـــوپـيـر هــم چـــا دومـــره نـــه کـــاوه، خـــو اوســـنـي ژورنـالـېزم تـه پـه کـتـو دا هـر څـه څـرګـنـد او ښـکـاره شـوی دی.

## د ادبیاتو ځانګړنې:

- ادبیات موضوعات په خورا ښکلیو انځوریزو او رنګینو کلمو رانغاړي او ټولنې ته یې وړاندې کوي
- د تخیيل په ځواک د احساس او عاطفې په کارونې مسایلو ته ښکلی رنګ ورکوي او په یوه ادبي اډانه کې یې د ټولنې د وېښتیا، پرمختګ او اصلاح لپاره یې وړاندې کوي.
- ادبیات ځینې داسې خیالي او تصوري مسایل وړاندې کوي، چې اصلاً ممکن نه وي، لکه شیدا چې آسمان ته د خیال زینې ږدي. یعنې مبالغه او غلو پکې موجود دي.
- مینه، عاطفه، خیال او احساس د ادبیاتو لپاره مهم توکي دي.
- رمزونه، اشارې، استعارې، کنایې د ادبي ژانرونو روح تشکیلوي.
- انځورګري او خیال پردازي په ادبیاتو کې جواز لري.
- د ادبیاتو ژبه د رنګینیو او خیالي لفظونو ډکه وي.
- په ادبیاتو کې هر څه کېږي، مطلب مخامخ په ساده ډول نه ویل شي، بلکې په بله بڼه ویل کېږي.
- په ادبیاتو کې نازکي او لطافت ډېر په پام کې نیول کېږي.
- ادبیات ټولنیزو پېښو ته ښکلی رنګ ورکوي او ټولنې ته یې وړاندې کوي او داسې نور...

## د ژورنالېزم ځانګړنې:

- ژورنالېزم پېښې او مسایل په عام فهمه او ساده ژبه خلکو ته وړاندې کوي.
- په ژورنالېزم کې د ادبیاتو بالعکس خیال پردازي، احساس او عاطفې ته ځای نشته. په دې معنی، چې خبریال حق نه لري، د خبر یا رپوټ لیکنې پرمهال عاطفي یا احساسي

برخورد وکړي، بلکې پېښه که ښه وي يا بد هماغسې بايد وړاندې شي.

- په ژورنالېزم کې مبالغې او درواغو ته ځای نشته، ژورنالېزم څه چې پېښ شوې دي، پرته له تغيره يې ټولنې ته وړاندې کوي.
- د ژورنالېزم په ژبه کې استعارې او کنايې لپاره ځای نشته، بلکې مسايل مخامخ په خبله بڼه څرګندوي.
- په نګه ژورنالېزم کې تاکيد په دې کېږي، چې له تخييل او احساس نه کار وانه خيستل شي.
- په ژورنالېزم کې بې طرفي يو اصل دی، يعنې په هر حالت کې ژورنالست بايد بې طرف اوسي.
- په ژورنالېزم کې د مسايلو په اړه د نظرونو توازن او انصاف په نظر کې نيول حتمي دي.
- ژورنالېزم څه چې پېښ شوې وي، هماغه وړاندې کوي، خيالي مسايل نه رانغاړي.
- په ژورنالېزم کې دقت، کره والی، رښتيا او حقيقت نړيوال اصول دي.
- ژورنالېزم د ادب د ترويجولو وسيله ده او ادب بيا د ژورنالېزم د تقويه کولو سرچينه ده او داسې نور...

## ګډې خواوې:

که د ادب او ژورنالېزم تعريفونو ته ځير شو، ډېرې ګډې خواوې ترې راڅرګندېږي، د موضوع د لا رڼاوي په موخه دلته مهمو ګډو خواوو ته نغوته کوو.

۱: ادب هم د ټولنيزو واقعيتونو غبرګون او انعکاس دی او ژورنالېزم هم.

۲: د ټاکور په تعريف کې چې تاکيد د هنري څېرو ترسيم په الفاظو سره شوی، په ژورنالېزم کې هم ډېرې داسې ژانرونه شته، چې ټولنيز واقعيتونه، پېښې او مسايل په انځوريزه بڼه چې په الفاظو او کليماتو سره ترسيم شوي؛ شته، لکه پکېج او

فیچر، د ژانرونو په برخه کې به په دغو دوو ژانرونو مفصل بحث ولرو.

۳: په ادب کې هم ریالېزم شته، یعنې یوه برخه یې د ریالېزم په بنا رامنځته کېږي او ژورنالېزم هم ریالېزم دی، یعنې پېښې او مسایل څنګه چې وي، هماغسې یې وړاندې کوي. د کابل پوهنتون استاد پوهنوال استاد لعل پاچا ازمون چې د ژورنالېزم په یوه ټولګي کې د ۱۳۹۴ کال د کب په اتلسمه په همدې موضوع لکچر ورکاوه، وویل: ((فصاحت او بلاغت هغه څه دي، چې هم په ژورنالېزم او هم په ادب کې مشترک دي، یعنې په دواړو کې کارول کېږي. خبره د ژبې ده، که موږ مسایل او پېښې په ساده او عام فهمه ژبه کاروو، دا ژورنالستیکه ژبه ده، خو که استعارې، تشبېع ګانې او کنایې پکې کاروو، دا ادبي ژبه ده.))

دا هغه څه دي، چې د ژورنالېزم په ځینو ژانرونو کې کارول کېږي، لکه فیچر او پکېج.

په فیچر او پکېج کې ژبه نسبتاً ادبي وي، چې وروسته به پرې په تفصیل سره بحث وشي.

پوهنمل محمد داوود وفا، چې څه نا څه شل کاله یې د ژورنالېزم په ډګر کې کار کړی دی او د ادب په برخه کې هم لسګونه کتابونه لیکلي دي، د ادب او ژورنالېزم په باب خپل نظر داسې څرګندوي:

((ژورنالېزم په حقیقت ولاړ وي او ادبیاتو د تخییل زېږنده وي، ژورنالېزم هم خلک د نېکمرغه کېدو په هدف خبروي او ادبیاتو خلک ښه فکر، ښه پرمختګ او مثبت لیدلوري ته برابروي.

ژورنالېزم ته ځکه حقیقت وایو، چې پېښې خپروي، یا د احتمالي پېښو په اړه په وړاندوینو په بحثونه کوي.

په ژورنالېزم کې زیات وخت نقل قولونه وي، عیني شاهدان وي، یا د خبریال لخوا د پېښو مخامخ راپور ورکول وي، چې ژبه

روانه او ساده وي، خو ادبیات بیا ژوند د خیال په ژبه داسې تشریح کوي، چې کېدون یې ممکن وي.
د ادبیاتو تخیلي وینا ژوند په ښکلې او ښایسته انداز کې تشریح کوي، خلک ژوند نه خوند اخیستو ته هڅوي، ذهني تفریح، د ښکلا په اړه یوه شېبه فکر کول او بیا ژوند په تخیلي بڼه انځورول د ادبیاتو دنده ده.))
د استاد وفا په نظر کې هم څه داسې څه پیدا کولای شو، چې د ادبیاتو او ژورنالېزم ترمنځ ګډ دي، مثلاً د ژوند د پرمختګ او ښکلا مسئله.
په ژورنالېزم کې ځینې داسې ژانرونه شته، چې د خوند او ټولنې د اصلاح لپاره دي، لکه پکېج او فیچر.
استاد ازمون هم، چې د ادب او ژورنالېزم په ډګر کې د شلو کلونو څخه زیاته تجربه لري؛ بیا وایي:
((د سترګو صفت لیدل دي، که وایو: احمد د خپلو سترګو لیدلی حال بیانوي، دا یوه ژورنالستیکه جمله ده، خو که وایو، چې احمد په سترګو کې خبرې کوي، دا یوه ادبي جمله ده.
یا که وایو، پسرلی راغی، ونې پاڼې وکړې.
دا ژورنالستیکي جملې دي، خو که وایو د ځمکې مخ شین شو. غوټۍ خپله خوله خلاصه کړه، ادبي رنګ یې غوره کړی دی.
خبره خیال ته لاړه.
بله بېلګه: باد ونه وخوځاوه، دا یوه ژورنالستیکي جمله ده.
خو که وایو، باد د ونې پر سر نڅېده، دا یوه ادبي جمله ده.
نو ویلای شو، چې ژورنالېزم واقعیتونه په ساده ژبه وړاندې کوي، خو ادب په شوې پېښه کې حقیقتونه لټوي او د مجاز رنګ ورکوي))
د اوسني ژورنالېزم ځینې ژانرونه پېښې داسې وړاندې کوي، چې هم ادبي او هم ژورنالېستیکي ژبه پکې کارول کېږي، لکه پکېج، فیچر، تبصره، سرمقاله.

استاد فضل ولي ناګار د طالبانو د واکمنۍ پرمهال د ننګرهار ورځپاڼې مسوول مدیر و، د ده د هغه مهال سرلیکنې او تبصرې که ولولو، له ادبي انځورونو خیالي او ادبي جملو ډکې دي.

دا د ژورنالست په استعداد او ذوق پورې اړه لري، چې د ژورنالېزم او ادب په ګډو ژانرونو کې جملې څنګه کاروي.

په یوه سرمقاله کې مې یو وخت یو سرلیک لوستی و، چې لیکلي و: ((د شیطان په لکۍ سور ائیتلاف))

دا سرلیک د استعارې او کنایې ډک سرلیک دی او کاملاً ادبي رنګ لري، ولې په یو ژورنالستیک ژانر کې استعمال شوی و.

دلته به د استاد وفا یو بل نظر هم راواخلو:

((ژورنالېزم او ادب خور او ورور دي او یو له بله نشي جلا کېدای، ادب تل شکلا بیانوي، د شکلا د تشخیص اصلي سرچینه بیا هم حقیقت وي او ژوند په حقیقي معناوو ویني، ځکه د یو ادیب د فن سرچینه په خپله ژوند، ژوندي موجودات، طبیعیت او پېښې وي.))

لیکوال اسدالله غضنفر (د ادب او ژورنالېزم شریکه ساحه) ترسرلیک لاندې یو مضمون لیکلی، چې زموږ د موضوع سره اړخ لګوي، ځکه په امانتدارۍ یې دلته کټ مټ رانقلوو:

((که د ۱۳۹۳ د حمل تر وروستۍ اوونۍ پورې چې ګابریل ګارسیا مارکیز لا ژوندي و، چا پوښتنه کړې وای چې د نړۍ په ژوندو لیکوالو کې تر ټولو لوی ناول لیکونکي څوک دي؟ نو شاید ګڼو کسانو بې له ځنډه ویلي وای: مارکیز. ځینې کسان لا ژوندي وي خو دا ثابته وي چې د تاریخ تلپاتې څېرې دي. ګابریل ګارسیا مارکیز همداسې مقام ته رسیدلي و. مارکیز اووه اتیا کاله عمر وکړ. د جنوبي امریکا په کولمبیا کې دنیا ته راغی. په ماشومتوب کې یې له نیکه او انا څخه د سیمې ولسي نکلونه او د پیریانو، دیوانو او ارواګانو کیسې واورېدلې. دغو نکلونو ژور اثر وربانديې وکړ. البته، مارکیز دومره ساده سړی نه و چې په افسانو کې ایسار پاتې شي. دي سترګور بنیادم و او چاپیریال ته یې په دقت سره کتلای شوي. ده د خپل وطن تاریخ ته په ځیر وکتل او استبداد یې له خپلو ټولو بدرنګیو سره احساس کړ. پلار

يې غوښتل چې حقوق وربانديې ولولي خو دي، چې په نوي ځواني کې يې ګڼ ادبي آثار ولوستل، د ادب او ژورناليزم شوقي و. د کيسو ليکلو ته يې متې راونغښتلې او ورو ورو يې خپل سبک چې په کوډګر رياليزم مشهور دي، پوخ کړ. په دې سبک کې خيال او واقعيت داسې سره غاړه غړې کيږي چې بيليدل يې نشته. مارکيز ويلي وو چې د لاتيني امريکا د خلکو ژوند له نکلونو، کوډو او اساطيرو سره اخښلي دي او د دې سيمې د خلکو واقعيتونه له ذکر شويو خيالي عناصرو نه بيليږي.

مارکيز نه يوازې د کيسو او ناولونو لوي ليکوال شو، بلکې د ژورناليزم په دنيا کې هم ډير وځليد او مهمې ليکنې ورنه پاتې شوې. دا هم د مارکيز قول دي:« زما په نظر ژورناليزم يو ادبي ژانر او د تياتر او داستان په څير د واقعيت د وړاندې کولو او تعبير يو ډول دي. د ژورناليزم په کار کې ډير سختګير او واقعيت ته خورا دقيق يم خو واقعيت ته د کتلو او په هغه کې د انتخاب طريقه مې ډيره ادبي ده... له ادبياتو سره د تعلق په وجه په واقعيت کې هغه څه وينم چې نورو ته نه ورښکاري. له بلې خوا، د ژورناليزم کار راسره مرسته کړې ده چې د ادب په کار کې له واقعيته بيل نه شم«.

د شلمې پيړۍ درې، څلور تر ټولو مشهور او منل شوي ناولونه که يادوو، يو به يکې خامخا د مارکيز( سل کاله يوازيتوب) وي. دغه ناول په ۱۹۷۶ کې خپور شو او مارکيز يې تر خپريدو شپږ کاله وروسته د نوبل ادبي جايزه وګټله. داستان او ژورنالستيک آثار په ظاهره ډير توپير سره لري. داستان خيالي اثر وي او ژورنالسيتک اثر د تاريخي رپورټ غوندې بايد خامخا واقعي وي. د ژورنالستيکو آثارو په باره کې ويل شوي دي چې يوازې د نن لپاره لوستونکي لري خو داستانونه يوازې د نن لپاره نه ليکل کيږي. دغه توپيرونه شته مګر که د رپورټ ليکونکي له کليشو ځان وساتي، نثر يې يو څه تصويري وي، انداز يې يو څه ډراماتيک وي او موضوع ته يې له نوې زاويې کتلي وي، نو داسې څه وړاندې کولای شي چې د تاريخ او داستان دواړو تنده ورباندې ماته شي.

مونږ ته د رپورټ کلمه معمولا خبري راپورونه رايادوي خو رپورټونه مختلفې بڼې لري او ځينې يې د عالي هنري اثر غوندې شکلي وي. په خبري رپورټ کې اول يوه پيښه واقع کيږي او بيا د خبر د عناصرو په مټ د هغې رپورټ برابريږي مګر د رپورټ په نورو ډولونو کې د ليکنې اډانه په خبر نه وي ولاړه او يا ليکنه بيخي خبري اړخ نه لري.

زموږ په مطبوعاتو کې له مشهورو کسانو سره مرکې زياتې خپريږي، خو که د ټولنې له يوه عادي وګړي سره، له يوه اوښپه، يوه بزګر، يوه ترکاڼ، يوه ملنګ يا د ښاروالي له يوه جاروکش سره مرکه وشي او د هغه خصوصي ژوند راوسپړل شي او بيا مرکه په رپورټ بدله شي او په رپورټ کې يو نيم ځل د هغه خبرې رانقل شي، ممکن د ښې کيسې غوندې هنري ليکنه ورنه جوړه شي.

زموږ لوستونکي له يونليکونو سره هم اشنا دي. په يونليک کې ليکوال معمولا هغه څه ليکي چې په سفر کې ورسره مخ کيږي خو يو ځاي ته دسفر په رپورټ کې ليکوال د لنډې کيسې غوندې د واقعيت يوه خاصه برخه رااخلي چې خاص تاثر او پيغام وليږدوي. دا ضرور نه ده چې سړي لري او نااشنا وطن ته لاړ شي او رپورټ يې وليکي. که ليکوال سترګې وغړوي او په نوي نظر چاپيريال ته وګوري، د نويو او جالبو موضوعاتو کمي نشته. د اوړي جمعه پغمان په باغ عمومي کې څه ډول تيريږي؟ او د بانډې د سکون او تنهايي شپه په هغه چا څنګه سبا کيږي چې د ښار له شورماشوره ورغلي دي؟

د زيارت يوه زړه دروازه، د اوبو يوه ژرنده، د کليوال هغه بايسکل چې څو څراغونه، ځوهينداري او د رنګارنګ پلاستيکو پوښ لري او داسې نور په زرګونو شيان د هنري راپورونو په موضوع بدليدلاي شي. موږ په افغانستان کې د شيانو په باب رپورټ ليکلو ته هم توجه نه ده کړې. د مشاهدې، مصاحبې او مطالعې په مټ، د تصويري او توصيفي نثر په ذريعه په يو، يونيم مخ کې د ګڼو شيانو خصوصا هغو شيانو په باب چې په يادونو او خاطرو کې يې ځاله کړې ده، ښکلي رپورټونه ليکل کيداي شي. موږ خبري رپورټونه لرو، له علمي- تحقيقي راپورونو سره څه نا څه بلد

یو خو هنري رپورټونو ته مو خاصه توجه نه ده کړې. په یوه هنري رپورتاژ کې د ادب او ژورنالیزم د ملګرتیا په برکت واقعیت د خیال غونډې جاذبه پیدا کوي.))

نو په دې توګه ادبیات د ژوند د تشریح بالقوه او ژورنالېزم یې مخامخ بڼه ده.

## توپیرونه:

د نورو توپیرونو ترڅنګ مهم توپیر یې دا دی، چې ادب پېښې او مسایل په تخنیکي او شکلي بڼه وړاندې کوي، عاطفه، احساس او رنګیني پکې د لیکوال لخوا ځایېږي، د استعارو او کنایو څخه کار اخیستل کېږي، خو ژورنالېزم پېښې او مسایل په ساده ژبه پرته له تخییل او احساسه وړاندې کوي.

ژورنالېزم څه چې واقع شوې وي، یا واقع کېږي، څېړي او ټولنې ته یې وړاندې کوي، خو ادب هغه څه دي، چې لا واقع نه وي، یو ارمان وي، خیال وي، په شکلي بڼه وړاندې کوي.

ادب خپل چوکاټونه، ژانرونه لري، چې د ادبي قواعدو او ځانګړنو تابع وي، خو ژورنالېزم همدا مسایل په ژورنالستیکي ژانرونو او چوکاټونو چې د ادبي هغه سره توپیر لري؛ وړاندې کوي.

استاد محمد داوود وفا په خپل اثر د ژورنالېزم بسټونو په اتم مخ کې د ژورنالېزم او ادبیاتو ترمنځ توپیر په دې ډول وړاندې کوي:

((ژورنالېزم د عامه اړیکو د وسایلو له لارې له نویو او یا په زړه پورې پېښو نه د خلکو خبرونه ده، خو ادبیات شکلي وینا او شکلي لیکنه ده، ژورنالېزم هغه څه چې په رښتینې توګه پېښ شوې دي، یا پېښېدونکي دي، بیانوي، خو ادبیات د تخییل په مرسته ډېر څه چې لا نه وي پېښ شوي، خو پېښېدل یې امکان لري. موږ ته ښیي، چې پر ذهن او فکر ژور اغېز پرېباسي.

ژورنالست هڅه کوي، په عامه او روانه ژبه واقعیتونه او یا د واقعیتونو په باب تحلیل کټ مټ لوستونکو یا اورېدونکو ته ورسوي، خو ادیب هڅه کوي، په شکلیو الفاظو او ویناوو د خپلو مخاطبانو زړونه وګټي))

دغه راز احمدالله ارچيوال چې د ادب او ژورنالېزم برخو کې کافي تجربه لري، د ادب او ژورنالېزم ترسرليک لاندې يو مضمون چې زموږ د موضوع سره اړخ لګوي، په انټرنټ کې خپور کړی دی، رانقلوو:

ځينې خلك ژورناليزم او ادب يو صنف ګڼي. کېدای شي دغه خلك د خپل عامه فکر لپاره ډول، ډول دليلونه ولري، ولې ځينې داسې برخې شته چې يکې ژورناليزم او ادب له يو بل سره ورته موخې لري. د بېلګې په ډول ژورناليزم کېدای شي د يوه خاص دور تاريخ وګڼل شي چې د اوچتې پايې ادب هم همدا ځانګړتيا لري. همدارنګه که د ناخوالو پر خلاف ژورناليزم غږ پورته کړی، ادب هم چوپ پاتې شوی نه دی او په يو ډول يې د ظالم پر خلاف څه ويلي او مظلوم يې ستايلی او د ظلم پر خلاف په هڅو يې پر شا ډبولی دی.

په افغانستان کې د شوروي د يرغل پر مهال که ژورناليستانو د نړيوالو او داخلي خبري سرچينو له لارې نړيوالو ته د افغان جهاد په اړه خبرونه ورکول، اديبانو هم د يرغل پر خلاف او د مجاهدينو په ملاتړ شور جوړ کړی ؤ. که دا او ځينې نورې برخې په نظر کې ونيول شي، دواړه تر څه بريده سره ورته والی لري، خو د دوی دا ورته والی د دې لامل کېدای نشي چې دواړه يو صنف وګڼل شي، بلکې دواړه له يوه بله جدا صنفونه دي او له يو بل سره ډېر توپير لري.

ډېر ژورناليستان شته چې له ادب نه ژورناليزم ته راغلي دي چې تر لږ وخت وروسته دوی ادب ته شا کړې او د ژورناليستانو لاره يې غوره کړې ده او که ژورناليست ادب پرېښبږدي، کولای نشي چې ژورناليستيکي وکړي. که څه هم زموږ په هېواد کې ډېر خلك په دې اند دي چې ادب او ژورناليزم يو شی دی، نه يوازې دا چې دواړه صنفونه له يو بل نه جدا او مختلف دي، بلکې د دوی تر منځ توپير د ادبي او ژورناليستيکي ژبو تر بريده رسېدلی دی او د شاعر او ژورناليست تر منځ توپير خو د دوی له زېږېدو نه پيلېږي. شاعر د مور له خېټې نه شاعر زېږي او

د وخت په تېرېدو سره د شاعر شعر ویل وده کوي، ولې ژورنالیسټ بیا داسې نه دی، لکه (Journalists are made, not born.) : یانې ژورنالیسټ، ژورنالیسټ نه زېږي، بلکې جوړېږي.

دا چې ادب پیاوړی دی که ژورنالیزم؟ په دې اړه مختلف خلک مختلفې تیوری لري، خو یوه خبره جوته ده او هغه دا چې تر څو ادیب خپله لار پرېنږدي، ژورنالیسټ جوړېدلی نشي.

د افغاني ټولنې په شان د درېیمې نړۍ په ټولنو کې عموماً د زده کړو له مخې وګړي په درې ډوله دي. یو د لوړو زده کړو لرونکي، دویم د منځنیو زده کړو لرونکي او درېیم د لږو زده کړو لرونکي وګړي دي. په ژورنالیزم کې چې څه لیکنې کېږي، هغه د ټولنې د ټولو وګړیو لپاره وي او آن په راډیویي ژورنالیزم کې چې د راډیوګانو په مټ خپرېږي، نالوستي وګړي هم پرې پوهېږي. ولې که ادب کې څه لیکل کېږي پر هغو له خاصو وګړیو پرته عام ولس نه پوهېږي. په ادب کې هغه شخص پیاوړی ګڼل کېږي چې په خپله لیکنه کې له کاره لوېدلو کلیمو ته ځای ورکړي او د چا خبره چې څومره ډېره لغت پرانې پکې وشي، لیکنه خوندوره بلله کېږي. له بده مرغه چې دې کار زموږ د ځینو هېوادوالو په لیکنو کې هم لاره پیدا کړې ده چې د خبرونو په لیکلو کې ګرانې کلیمې کاروي چې د لوستلو پر مهال ځینې لوستونکي مجبور دي چې له بل چا نه یې په اړه پوښتنه وکړي چې دا کار د ژورنالیزم د آرونو خلاف دی. ژورنالیسټ بیا مجبور دی چې په ګرنیزه ژبه لیکل وکړي، ځکه چې د هغه لومړنۍ موخه د واقعاتو نه د خلکو خبرول دي او که هغه په لیکنه کې ګرانې کلیمې وکاروي، هغه موخې ته رسېدلی نشي او په نیمه لاره کې پاتې کېږي.

په ادبیاتو کې که ادیب له چا سره شخصي تضاد ولري، پر خلاف یې چې څه وغواړي، لیکي او که څوك یې زړه ته نږدې وي، بیا یې له دې پرته چې څه ثبوت ورته پیدا کړي، په شعر او یا نثر د مبالغې تر بریده صفت کوي. له بلې خوا ژورنالیسټ هغه که وغواړي او که نه، له ثبوت پرته د چا په اړه څه لیکلی

نشي. د ټولو اړخونو سره به ورته چلند کوي او د قضيې ټولو اړخونو ته به موقع ورکوي، تر څو د خپل ځان نه دفاع وکړي.
آن په ژورناليزم کې خو له ثبوت پرته د صفاتو پر کارولو هم بنديز دی او که څوك کوم صفت وکاروي، بايد ثبوت ورته ومومي. مثلاً که يو څوك وليکي چې: ((د ننګرهار عالي لېسې زده کوونکي د هېواد په کچه تر ټولو لايقه زده کوونکي دي.)) ليکوال شايي چې خپلې دغې ادعا لپاره داسې ثبوتونه ولري. د بېلګې په توګه که د ننګرهار عالي لېسې زده کوونکي د هېواد په کچه د کانکور په ازموينه کې د نورو لېسو تر زده کوونکيو پرمختللي وي يا داسې يو بل دليل وي. د دغه خبرې ليکل پر ځای دي او که داسې نه وي، نو ژورناليزم ليکوال ته د داسې ليکنې اجازه نه ورکوي.
په ادب کې په ځينو خاصو شرايطو کې لاندې ليکنې کېږي، که اديب يوه خاصه منظره ووينې يا خوشاله شي يا غم پرې راشي، ليکنه کوي. يانې په ادب کې ليکونکی خپل احساسات څرګندوي او که د احساساتو تر سيوري لاندې رانشي، په نورمال حالت کې ډېر کم داسې پېښېږي چې څه وليکي. ژورناليست خوشاله وي او که خپه، واده وي او که غم، څه چې پېښېږي يوازې هغه ليکي او خپل احساسات شا ته ږدي. ادب د ليکوال د احساساتو راسپړل دي، ولې په ژورناليزم کې بيا احساسات نه ځايېږي.
په ژورناليستيکي ليکنه کې ژورناليست مهمې پېښې يا واقعات په يو ځل د لوستونکيو مخې ته ږدي، خو په ادبي ليکنه کې اديب د اصل واقعاتو له وړاندې کولو نه مخکې ډېرې نورې خبرې ليکي او په پای کې بيا اصل خبرې ته راځي. لکه د خبر په ليکلو کې چې په لومړي پراګراف کې ژورناليست د پېښې د ځای، د څرنګوالي، وخت، ولې، څومره او... په شان اساسي پوښتنو ته ځواب وايي او لوستونکي اړ نه نه دي چې تر پايه ټول خبر ولولي، خو په ادبي ليکنه کې لوستونکي اړ دي چې تر پايه ليکنه ولولي او که داسې ونه کړي، د ليکنې پايلې ته رسېدلی نشي. په ژورناليزم کې حقايقو ته زيات اهميت ورکول

کېږي، هغه څه چې د راډیو پر څپو خپرېږي او یا د ورځپاڼو پر مخونو لیکل کېږي، باید حقایق وي او که لیکل شوي مطالب یا د راډیو پر څپو خپاره شوي موضوعات رښتیني نه وي، دغه راډیو یا ورځپاڼه د وګړیو تر منځ خپل باور له لاسه ورکوي او وګړي بیا نوموړې ورځپاڼه نه لولي او دغه ډول راډیو ته د غوږ نیولو زحمت نه باسي یانې په ژورنالیزم کې خیال هیڅ ځای نه لري. له بلې خوا د ادیب لپاره ضروري نه ده چې لیکنې یې پر حقایقو ولاړې وي. ادیب ځینې وخت خیالي ناولونه او کیسې لیکي او ځینې وخت یې لیکنې بیا پر حقایقو ولاړې وي.

په ادب او ژورنالیزم کې د حقایقو د وړاندې کولو لارې هم له یو بل نه توپیر لري. ژورنالیسټ چې څه لیکي، هغه په ناپېیلي ډول وړاندې کوي. هیڅکله ژورنالیسټ ته اجازه نشته چې په لیکنه کې خپلو احساساتو ځای ورکړي، خو د ادیب لیکنې د احساساتو ښکارندویه دي، ځکه ژورنالیسټ که وغواړي یا ونه غواړي، پېښې باید ولیکي، خو ادیب بیا داسې نه دی. ادیب هغه وخت لیکنه کوي چې خوشاله یا خپه شي او کله چې پر انسان دغه ډول حالت راشي، بیا انسان توازن له لاسه ورکوي او څه چې یې زړه غواړي، هغه لیکي چې ځینې وخت پکې د څه شي، ځای یا کوم شخص ستاینه او ځینې وخت د دغو شیانو پر خلاف لیکنې کوي.

په ژورنالیزم کې د پېښو وخت په نظر کې نیول دي. ژورنالیسټ مجبور دی چې ډېر ژر واقعات ولیکي او خلکو ته یې وړاندې کړي چې نن سبا آن د دقیقو په حساب ژورنالیستان له یو بل نه د مخکې کېدو هڅه کوي، خو په ادب کې وخت اهمیت نه لري. د ادیب په ذهن کې ښایي د څو کلونو مخکینۍ پېښه لتې ووهي او په اړه یې لیکنه وکړي. په ادب کې ادیب واقعاتو ته د خپل ذهن له زاویې څخه ګوري، خو ژورنالیسټ داسې نشي کولای. هغه باید حقایقو ته په بېطرفه ډول انعکاس ورکړي. ژورنالیسټ مجبور دی چې په یوه ټاکلي وخت کې خپله لیکنه

بشپړه کړي، ځکه خو ژورنالیستې تل د لیکنې پر مهال بیړه کوي، خو ادیب د فکر کولو لپاره ډېر وخت لري او مجبور نه دی چې په ټاکلي وخت کې خپله لیکنه بشپړه کړي.

د ژورنالیستې دنده خلکو ته د حقایقو وړاندې کول دي، ځکه په ډېره ساده ژبه لیکنه کوي، خو ادیب بیا د لیکنې لپاره ډېر وخت لري، نو ځکه پر کلیمو او متنونو فکر کوي او رنګینې کلیمې او متنونو کاروي او د ادیبانو مقصد د خلکو متاثره کول دي.

# د ادب او ژورنالېزم ژبه:

د ژورنالېزم ژبه او د ارایې چوکاټ له ادب نه بېل دی، ژورنالستیک ژانرونه لکه، خبر، رپوټ او نور خپل ځانګړي جوړښت، پیل، منځ او پای لري، خو ادبي ژانرونه بیا له دغو نه جلا خپل سکښت او جوړښت لري، چې هر یوه بیا د پیل، منځ او پای او په دغو چوکاټونو کې د راغلیو مطالبو د لیکنې د قواعدو له پلوه خپلې سره بیلې ځانګړتیاوې لري.

ژورنالېزم د ژبې په ساده والي او عام فهمی تاکید کوي، خو ادبي ژبه بیا له رنګینو، نازکخیالیو او ادبي رنګه ډکه وي.

د بېلګې په ډول، که موږ د پسرلي په اړه ووایو:

پسرلی راغی، ونې پانې وکړې، ځمکه شنه شوه، دا ژورنالستیکه ژبه ده.

خو که ووایو:

پسرلی راغی، ونو په پاڼو مخونه پټ کړل، ځمکې شنې بخملي ټادرې واغوستې. دغه رنګیني او خیال پردازي بیا ادبي ژبه ده.

د ادبیاتو په ژبه کې د استعارو او کنایو استعمال ته جواز شته، خو د ژورنالېزم په ژبه کې جواز نه لري، بلکې پېښه باید په مخامخ ډول لکه څنګه چې وي، هماغسې وړاندې شي.

د بېلګې په ډول احمد چې ډېر زوړ ځوان دی، په توره او مېړانه کې ستر نوم لري، ادیب حق لري، چې هغه ته زمري خطاب وکړي او ویې ستایي، خو ژورنالست بیا دا حق نه لري، چې دغسې ژبه ورته وکاروي، بلکې د احمد مستعار نوم (زمری) د بل چا له قوله رپوټ کولای شي، یعنې که څوک یې زمری بولي د نقل قول په توګه یې ژورنالست وړاندې کولای شي.

ادیب پیغام په خپله جوړوي، ادبي رنګ ورکوي او بیا یې ټولنې ته وړاندې کوي، خو ژورنالست د بل چا پیغام، وینا او ستونزې رااخلي، په ساده ژبه یې ټولنې ته وړاندې کوي.

همدارنګه کله کله ادبیان په سمبولیکه ژبه مسایل رانغاړي او په کنایو کې یې تر خلکو یا چارواکو رسوي، خو

ژورنالستان بیا سمبولونه نه کاروي، بلکې مخامخ، خبره څنګه چې وي، همغاسې یې ټولې ته وړاندې کوي، یا تر چارواکو یې رسوي.

د ادبي او نا ادبي ژبې په اړه اجمل ښکلی په خپل کتاب (څو انتخابه) کې یو مضمون خپور کړی، چې زموږ د دې بحث سره ښه اړخ لګوي، دغه مضمون دلته په امانتدارۍ په بشپړل ډول رانقلوو:

((ژبه د انځورونو له پلوه دوه ډوله ده، یوه بیاني ده، بله تصویري، رسمي مقالې زیاتره په بیاني ژبه وي، خو په کیسو او شعرونو کې تصویري ژبه ارزښمنه وي، بیاني ژبه درته یوه کیسه کوي، خو تصویري ژبه یې دربانـدې ګوري او لسم کوي. پوهانو ادب تر نقاشۍ په دې هم پراخه ډګر بللی، چې سړی پکې خبرې هم کولای شي او د نقاشۍ تصویرونه هم جوړولای شي، خو په نقاشۍ کې انځورونه په رنګونو او په ادب کې په لفظونو جوړېږي.

په لیکنو یا مقالو کې چې د لوستونکي قناعت در په غاړه وي او دلیلونه وایي، تصویرونو ته به دې پام نه وي، خو په کیسو او شعرونو کې چې لوستونکی له ځان سره بیایي، نو حواس به یې دګډوې او حواس په تصویرونو درګډېږي، بل دا چې لوستونکو ته د کرکټر د څېرې او د پېښې د وخت و ځای د ښوونې لپاره بې له تصویرونو بله لار نشته، چیخوف وایي، چې بنځګر شیان څکي، لمس کوي، اوري او ویني، نو د چیخوف په خبره پنځګر تر بیاني ژبې تصویري ژبې ته ډېر اړ دی، لوی لیکوال او شاعران په کیسو او شعرونو کې انځورونو ته ډېر پام کوي.

دا جمعه په افغان ادبي بهیر کې د نور محمد سعید پر یوه نثر کره کتنه وه، د نثر ژبه خوږه وه، ځای په ځای پکې تصویرونه هم ووو خو بیاني ژبې یې د ډېرو انځورونو مخ ډب کړې وه، یوه جمله پکې دا وه:

سړي ماشومې ته په مینه وکتل.

دا بیاني ژبه ده، لیکوال راته کیسه کوي، یا بیانوي، چې سړي ماشومې ته په مینه کتلي دي، خو راباندې ګوري یې نه، چې دا د مینې کتل دي څنګه؟ دا جمله داسې تصویري کېدای شي:
سړي ماشومې ته وکتل، سترګې یې راښکلې.
نور نور وضاحت ته بله جمله نه غواړي، چې ... په مینه یې وروکتل...
تر لومړۍ جملې دویمه څکه اغېزمنه ده، چې صحنه درباندې ګوري، لکه فلم چې ګورې.
زموږ زیاتره کیسې او شعرونه څکه کمزوري دي، چې تصویریونه پکې نه وي، په بیاني ژبه لیکل شوې وي.
کاروان وایي:
ټپ شي ټپ شي ټکی ټکی پرخه پر ګلپاڼو
کله کله سوې قلقله راشي د زاڼو
باد هم یاغي اس دی خرپ یې وایستو د کاڼو
کله په دره کې ششنې وکاندي د بیاڼو
شغ شو شوپرک مې د بڼو په خوا کې تېر شو
په دې شعر کې لوی کمال تصویرونه دي، چې ځینې یې محض دي او ځینې یې د کلمو له تکرار او تشبیه نه راپیدا شوي دي، خو لوی کار پکې همدا تصویرونه دي، کاروان دا نه وایي، چې پر ګلپاڼو پرخه ودرېده، یا باد کاڼي ورغړول او یا مې شوپرک د بڼو په خوا کې تېر شو. که داسې یې ویلي وای، بیا به بیاني ژبه وه او دومره خوند او هنري ارزښت به یې نه و، نو د (ټپ شي ټپ شي، ټکی ټکی، خرپ او شغ) په انځورونو کې یې راته ښیي.
انسان په حواسو ژوند دی او له حواسو بره شیان په اسانه شي، درک کولای ځینې فلسفې خو حتی د مادي وجود له حواسو ګڼي، نو تصویري ژبه چې حواسو ته متوجه وي احساس یې اسانه وي.
لوستونکی پېښې په اسانه درک کولای شي او ځان درسره په کیسه کې شریک ګڼي، خو که په بیاني ژبه ورته لګیا وې، نو د ذهن

پر پرده به یې مبهم تصويرونه جوړېږي، نو تصويرونو ته ځکه اړتيا ده، چې انساني ذهن د هرې پېښې انځور غواړي.
تصويري ژبه تر بياني ژبې دقيقه وي او صحنه دقيقه انځوروي، خو بياني ژبه پر صحنه سرسري تېرېږي او تشې خبرې کوي.
تصويرونه په ذهن کې پاتېږي او نقش پرېږدي، خو د پېښو بيان له ذهنه ژر ووځي.
انځور چې اوس ورته ډېر پام اوښتی په بديع کې مطالعه کېږي. د بديع صنعتونه د بيان له صنعتونو لکه تشبيې، استعارې، سمبول، کنايې او مرسل مجازه راولاړېږي. ادبپوهان د معاني مباحث او د بيان صنعتونه د بديع د صنعتونو ظروف بولي. نو تصوير په تشبيه، استعاره، سمبول، کنايه او ... کې هم وي او همداسې هم وي، چې محض انځورونه ورته وايي، د حميد بابا په دې بيت کې په تشبيهاتو کې تصويرونو ته ورګوئ.
خط پر مخ د صنم راغی، که سپوږمۍ په شوه هاله کې
دا یې غاښ په خوله کې زېب کا، که ژاله په شوه لاله کې
د مخ او خط لپاره سپوږمۍ او هاله او د سپينو غاښونو او سرې خولې لپاره د ژاله او لاله تصويرونه کارېدلي، خو په دې تصويرونو کې د جملې نورو اجزاوو هم برخه اخيستې. په محض انځورونو کې خو ټوله جمله مهمه وي او جمله تصويري جمله بالله شي، ځکه چې د جملې هر ټوک يا جز د تصوير په ترسيم کې لاس لري. (څوانتخابه ۳۰/ ۳۱ او ۳۲ مخونه)
په دې مضمون کې د ادبي او نا ادبي يا بياني او تصويري ژبې ډېرې ښې بېلګې بيان شوي دي، همدا چې بياني جملې څنګه تصويري کېږي، هم مفصلې بحث پرې شوې دي، د دې بحث په پايله کې هم دې نتيجې ته رسېږو، چې ژورنالېزم بياني ژبه کاروي او ادبيات تصويري ژبه، خو په ژورنالېزم کې ډېرې داسې ژانرونه شته، چې تصويري ژبه پکې کارېږي، هم د استعارې او کنايې څخه پکې ګټه اخيستل کېږي، لکه پکېچ، فيچر، کالم، سرمقاله، ژورنالستيک سفرونه، تبصره او نور... چې هم ادبي او هم بياني ژبه پکې کارول کېږي، ځکه يې د ادب او

ژورنالېزم ګډ ژانرونه بولو. یوازې ادبي ژانر یې ځکه نه ګڼو، چې دغه ژانرونه د لیکنې ځانګړي چوکاټ لري، چې دادبي ژانرونو څخه یې بیلوي)).

## ژورنالېزم د ادب وړاندې کولو د وسیلې په توګه:

له ټولو بحثونو څخه دا معلومه شوه، چې ادب او ژورنالېزم یو د بل لازم او ملزوم دي، که ژورنالېزم او رسنۍ نه وي ادب هغسې چې اړتیا ده، وده او پرمختګ نه شي کولای، دغه راز که ادب نه وي ژورنالېزم هم نېمګړی دی، ځکه چې ژورنالېزم له ادب نه پرته نشي مطالعه کېدلای، د بېلګې په ډول که موږ وچ په وچه د ژورنالېزم نګه ژانرونو باندې بسنه وکړو، یقیناً چې خپل لیدونکي، اورېدونکي او لوستونکي به له لاسه وکړو، که خپرونو ته ادبي رنګ ورکړو، رسنۍ هم تفریحي بڼه غوره کوي، هم څېړنیزه تشه پرې ډکېدلای شي، که موږ هنر او ادب له ژورنالېزم نه وباسو، وچ په وچه د خبرونو او رپوټونو وړاندې کول د خلکو د ورځني ژوند اړتیا نه شي پوره کولای، د رسنیو مسوولین اړ دي، چې په رسنیو کې څلور اصله په پام کې ونیسي.

### ۱: اطلا عات:

ټول خبري معلومات هغه که سیاسي دي، که امنیتي، او که ټولنیز، د خبرونو او رپوټونو په بڼه وړاندې کېږي.

### ۲: ښوونه او روزنه:

خلک اړتیا لري، چې له رسنیو زده کړه وکړي، همدې اړتیا او د خلکو غوښتنو ته په پام، د رسنیو مسوولین ښوونیزې او روزنیزې خپرونې وړاندې کوي، چې ادب ترې بیلېدلای نه شي.

### ۳: تفریح او بوختونه:

موسیقي، سریالونه، فلمونه، لوبې، ادبي خپرونې، طنز، شعر و شاعري، ادبي ناستې، راډیویي او تلوېزیوني سفرونه، په چاپي خپرونو کې یونلیکونه.... او داسې نور چې ټول د ادب

او هنر په چوکاټ کې مطالعه کېدلای شي، خو ژورنالېزم يې د وړاندې کولو د وسيلې په توګه ګڼلی شو.

## ۴: د مدنې ټولنې جوړېدو او پرمختګ لپاره هڅې:

دا موخه له بېلابېلو لارو تعقيبېدلای شي، چې هم ادبي ژانرونه او هم ژورنالستيک ژانرونو نه ترې ګټه اخيستل کېږي، دغه د ادب او ژورنالېزم ګډو ژانرونو نه هم ترې ګټه اخيستل کېدای شي، د بېلګې په ډول که موږ د تمثيل له لارې د وحشت او بربريت پرضد خپرونې کوو او يا هم د خبر او رپوټ په چوکاټ کې چې نګه ژورنالستيک ژانرونه دي او يا هم د پکېج او فيچر له لارې چې د ادب او ژورنالېزم ګډ ژانرونه دي، په حقيقت کې موږ د مدني ټولنې د جوړولو هڅه کوو، چې بيا هم ژورنالېزم او رسنۍ د ادب د وړاندې کولو د وسيلې په توګه کارېږي او ادب نسبت له کتابي بڼې په رسنيزه بڼه پرټولنې ژر او ډېر اغېز ښندلی شي.

زموږ شعر و شاعري که هغه په هر فورم کې وي، غزل وي، نظم وي، ازاد وي، که قافيه وال او يا هم عروضي فورمونو کې ويل شوې وي او يا هم په پښتو ولسي اوزانو برابر ويل شوي وي، دغه راز داستاني ادبياتو په فورمونو کې لنډه کيسه وي، که ناول وي که رومان، يا هم ادبي ټوټه، تکل يا ځان پېښې ټول نګه ادبي ژانرونه دي، چې پخوا يوازې په کتابي بڼه خوندي کېدل او لوستونکي به يې هم د ګوتو په شمار و، ځکه يې پر ټولنه اغېز هم ډېر نه محسوسېده، خو له کله نه چې دا ژانرونه د رسنيو له لارې خپرېږي، مينه وال يې هم زيات شوي، اغېزې يې هم زياتې شوي او آن د ټولنيزو بدلونونو سبب شوی دی. هره رسنۍ د ادب برخې لپاره ځانګړی ځای لري، ځکه نو ويلی شو، چې ژورنالېزم د ادب وړاندې کولود بهترينې وسيلې په توګه پېژندل کېږي.

## په ژورنالېزم کې ادبي برخې ته اړتيا:

که د ژورنالېزم پېژندنې او تاريخي شاليد ته ځير شو، وچ په وچه په ساده ژبه د پېښو وړاندې کول او خلک له پېښو خبرول د ټولنې اړتيا نه شي پوره کولای، که موږ غواړو، چې رسنيز رسالت چې وړاندې په څلورو بنسټونو کې ورته نغوته وشوه، ترسره کړو، ادبي ژانرونو ته يکې اړتيا ليدل کېږي، هغه خيال او فکر چې په ادبي ژانرونو کې ټولنې ته وړاندې کېدلای شي، په وچو ژورنالستيکي ژانرونو کې نشي وړاندې کېدلی.

دغه راز يوازې ژورنالستيک ژانرونه خلک بوخت نشي ساتلی، دا ادبي ژانرونه دي، چې د ډېرې تلوسې او پيغامونو له لارې د خلکو توجه ځان ته راواړي. همدارنګه د ادب ترڅنګ د هنر مسئله هم په رسنيو کې ډېره مهمه ده، خو ادب هم د هنر د يو ښاخ په توګه، هنري رسالت ادا کولای شي.

رسنۍ خپلې ټولې خپرونې د ټولنې د بېلابېلو قشرونو لپاره جوړوي، خو ځوانانو ته يکې ډېره پاملرنه کېږي او د ځوانانو تنده يوازې ژورنالستيک ژانرونه نشي پوره کولای، بلکې ادبي او هنري ژانرونه يې ښه خړوبولی شي.

که موږ په رسنيو کې د ادب برخې ته پام ونه کړو، په لوی لاس به مو خپله ژبه او کولتور پيکه کړی وي او په لوی لاس به مو د ټولنې اخلاق، ذوق او استعداد د تهذيب پرځای نامهذب توب او بازاري توب خوا ته سوق کړی وي.

د رسنيو په پېژندنه کې رسنوال رسنۍ ژرنده بولي او وايي، که چېرې ژرندې ته دانې ونه رسېږي، سوځي، که په رسنيو کې نوي مواد نه وي، رسنۍ د سقوط سره مخ کېږي او دا ټوله تشه يوازې ژورنالستيک ژانرونه نشي ډکولی، تر هغې چې له هنري او ادبي ژانرونو نه کار وانه خيستل شي او تشې پرې ډکې نه شي.

# ادبي ژانرونه

ادبي ژانرونه په دوو برخو کې مطالعه کولای شو، لومړی نظمي ژانرونه، دوهم نثري ژانرونه.

په نظمي ژانرونو کې هم هغه ژانرونه دي، چې له عربي څخه پښتو ته راغلي، دیواني یا عروضي ژانرونه یې بولي، دوهم هغه شعري فورمونه، چوکاټونه یا نثرونه دي، چې هغه په خپله د پښتو شاعرۍ زېږنده دي.
په دې بحث کې به هر شعري چوکاټ په ډېر لنډ ډول راوړل شي.

## الف: عروضي چوکاټونه:

- **غزل:** هغه شعري فورم یا چوکاټ دي، چې د یوې مطلعې لرونکی وي، یعنې لومړی بیت یې معضی وي او د نورو بیتونو دویمه مسره یې د مطلعې قافیه تعقیت کړي.

غزل له پنځو تر پنځلسو بیتونو پورې وي، له استثنایي حالاتو پرته، نور د څپو شمېر یې معمولاً سره برابر وي.

- **رباعي:** دا هغه عروضي شعري فورم دي، چې څلور مسرې لري، له دریيمې مسرې پرته ټولې مسرې یې د لومړۍ مسرۍ قافیه تعقیبوي، په رباعي کې هم د غزل په شان ردیف اختیاري دی، د ټولو مسرو د څپنو شمېر مساوي وي، مګر استثناً کېدای شي، ځینو په درېیمه مسره کې ځینې زیاتې یا کمې شي، درېیمه مسره یې قافیه نه لري.
- **قطعه:** هغه شعري فورم دی، چې دوه بیته یعنې څلور نیم بیتي لري، د رباعي سره یې توپیر په دې کې دي، چې لومړۍ او څلورمه مسره یې سره هم قافیه او دویمه او درېیمه مسره یې د قافیې له قید څخه خلاص وي، خو په رباعي کې یوازې درېیمه مسره بې قافیې وي.
- **قصیده:** په پښتو کې ورته بوله وایي، قصیده عربي کلمه ده،، په لغت کې قصد کړای شوي ته وایي او په عربي اصطلاح هغه شعر ته به ویل کېده، چې د بیتونو شمېر به یې تر ۱۶ یا ۱۷ کم نه وو او دا نوم د قصد له معده جوړ شوی دی، چې معنا یې استقامت، سموالي، برابري او سوچه توب و.

دا شعري فورم هم کله غزل لومړنی بیت یې هم قافیه او د نور بیتونو دوهم نیم بیتي یې د مطلع قافیه تعقیبوي، د غزل سره یې توپیر په دې کې دی، چې غزل په له پنځو تر پنځلسو بیتونو وي، خو قصیده له شپاړسو بیتونو کم نه وي او آن تر دوه سوو یا له دې څخه هم زیاتو بیتونو غځېدلی شي.

- **مثنوي**: په پښتو کې ورته دویزه وایي، دا هغه شعري فورم دی، چې هر بیت یې په خپلو کې هم قافیه وي، د بیتونو شمېر یې ټاکلی بدید نه لري، شاعران د لویو موضوع ګانو لپاره دغه فورم ټاکي، تر هغې غځېدلی شي، چې موضوع خلاصه شي، د ټولو بیتونو وزنونه یې ګډ دي، ځینې یې ردیف لري او ځینې نور یې بې ردیفه هم وي.
- **مثلث**: په پښتو کې یې دریېز بولي، هغه شعري فورم ته وایي، چې درېواړه مسرې یې هم وزنه وي او یوشان قافیه تعقیبوي، ردیف پکې اختیاري دی، لومړۍ درې مسرې یې هم قافیه وي، خو د بندونو درېیمه مسره یې لومړیو مسرو قافیه تعقیبوي او نور دوه بندونه یې خپلو کې هم قافیه وي.
- **مستزاد**: د رباعی، قصیدې یا غزل په هرې مسرې چې یوه لنډه مسره زیاته شي، مستزاد ګڼل کېږي، معنی په لومړۍ مسره کې بشپړه وي، لنډه مسره ورته یو ډول وزن او قافیه ورکوي.
- **مربع**: په پښتو کې ورته څلوریز ویل کېږي، هغه شعري فورم ته ویل کېږي، چې د لومړۍ بند یا مطلع څلورواړه مسرې په خپلو کې هم قافیه وي، خو د نورو بندونو درې مسرې یې په خپلو کې هم قافیه او څلورمه مسره یې د لومړۍ بند قافیه تعقیبوي.
- **مخمس**: په پښتو کې یې پنځه ییز بولي، د جوړښت له مخې د مربع سره یوشان دی، توپیر یې په دې کې دي، چې په مخمس کې یوه مسره له مربع څخه زیاته وي، د لومړي بند پنځه واړه مسرې یو ډول قافیه لري، د نورو بندونو څلور

مسرې يې په خپلو کې هم قافيه او پنځمه مسره يې د لومړي بند قافيه تعقيبوي.

- **مسدس:** په پښتو کې يې شپږيز بولي، هغه شعري فورم دی، چې لومړی بند يې شپږ مسرې لري، چې ګډه قافيه تعقيبوي، د نورو بندونو پنځه مسرې خپلو کې هم قافيه او شپږمه مسره يې د لومړي بند قافيه تعقيبوي، رديف پکې اختياري دی.
- **مسبع:** په پښتو کې ورته اوه ييز وايي، هغه شعري فورم ته وايي، چې لومړی بند يې هم قافيه مسرې لري او پاتې نور بندونه يې شپږ مسرې يې په خپلو کې هم قافيه او اوومه مسره يې د لومړي بند د قافيې تابع وي، ځينې يې رديف لري او ځينې نور يې نه لري.
- **ثمن:** په پښتو کې دغه فورم ته اته ييز وايي، د لومړي بند اته مسرې يې په خپلو کې هم قافيه او د نورو بندونو ۷ مسرې يې هم قافيه خو اتم مسره يې د لومړي بند د قافيې تابع وي، رديف پکې اختياري دي.
- **معشر:** مشعر ته په پښتو کې لسيز وايي، دا هغه شعري فورم دی، چې د لومړي بند لس واړه مسرې يې خپلو کې هم قافيه او د نورو بندونو نهه مسرې يې هم قافيه تابع وي، رديف پکې اختياري دی، دا ټول يو ونز کې ويل کېږي.
- **ترجع بند:** هغه شعري فورم ته ويل کېږي، چې له لومړيو څو بيتونو څخه وروسته يوه مقضى بيت پکې ورولوېږي، وروسته د لومړي بند د بيتونو په اندازه بله قافيه تعقيبېږي او کله چې مقضى بيت پکې لوېږي، د لومړي بند مقضى بيت د قافيې تابع وي، رديف پکې اختياري وي او ټول په يو وزن کې ويل کېږي.
- **ترکيب بند:** هغه شعري فورم دي، چې د لومړي بند ټولې مسرې سره يې هم قافيه وي، بيا په بله قافيه يو بيت پکې ولوېږي، په نورو بندونو کې هم جلا قافيه تعقيبېږي

تاو بل مقضی بیت هم چې پکې لوېږي، د لومړي بیت له مقضی بیت د قافیې تابع نه وي، یو ډول وزن تعقیبوي او د ټولو بندونو مسرې یې سره مساویوي.

- ټول قافیز: دا هغه فورم دی، چې هره مسره یې قافیه لري او ټولې مسرې یې یو ډول قافیه تعقیبدېږي، د هرې مسرې د څپو شمېر د بلې مسرې سره مساوي وي، ټولې مسرې یې ټاکلي وزن تعقیبوي.

## ب: د پښتو خپل شعري فورمونه:

- لنډۍ: دا د پښتو شاعرۍ هغه ولسي فورم دی، چې د معنی له پلوه ډېر غني خو د تکل له پلوه یوازې دوه مسرې وي، لنډۍ قافیه نه لري، لومړۍ مسره یې نهه څپې او دویمه یې ۱۳ څپې لري، د پښتو لنډۍ د نړۍ په شاعرۍ کې ساری نه لري، هره لنډۍ مستقله معنی لېږدوي، د هرې لنډۍ په زور ۵ باندې پای ته رسېږي او اهنګ یې هم په همدې برابرېږي، لنډیو ته ټیکی او ټپه هم ویل کېږي.
- سروکی (نیمکۍ): دا هغه شعري فورم دی، چې د لنډیو په واسطه بشپړېږي، لومړۍ سروکی ویل کېږي، بیا لنډۍ وراچول کېږي، له سروکي سره ټولې لنډۍ ویل کېږي، لنډۍ په هر بند کې بدلېږي، خو سروکې د هرې لنډۍ په پای کې په مکرر ډول راځي، سروکي کله یو بیت وي، چې اوله مسره یې لنډه او دویمه یې اوږده وي، کله چې دویمه مسره یې لنډه او درېیمه یې اوږده وي، کله دوه سریز، درې سریز، څلور سریز او کله هم پنځه سریز وي.
- کاکړۍ غاړې: دا شعري فورم هم د لنډیو په شان دی، چې د پښتو د ژوند بېلابېل بعدونه، اقتصادي، رزمي، بزمي او نور ولسي افکار منعکسوي، له دوو مسرو څخه جوړې وي، چې کله کله یې د دواړو برخو سیلابونه سره برابر او کله کله توپیر سره لري او دواړو مسرو وروسي توري سره یو رنګ لري.

- د اتڼ ناري: لکه څنګه چې له نامه څخه يې څرګندېږي، دا نارې په اتڼ کې ويل کېږي، په پښتني کلتور کې د خوښيو مراسم په اتڼ نمانځل کېږي، ښځې او نارينه دواړه اتڼ کوي، خو د ښځو نارې بيلې او نارينه وو بيلې وي. دا معمولاً درې سريز يا څلور سريز وي او په دواړو ډولونو کې د مسرو شمېر سره مساوي نه وي، په نارو کې منځنۍ سره لنډه او وروستۍ لويه وي، په دې سريزه نارو کې معمولاً لومړۍ او وروستۍ مسرې سره هم اهنګه وي او په څلور مسريزو کې لومړۍ او څلورمه سره هم اهنګه وي.
- ببولاله: دا شعري فورم هم سنديزه بڼه لري او کله چې نارې ټيکارېږي، اکثراً ښځې په ترنم کې وايي، دا هم څلور مسرې وي، د ببولالو لومړۍ او څلورمه سره په خپل منځ سره هم قافيه وي، خو دويمه يې له قافيې ازاد وي.
- چاربيته: دا پښتني شعر هغه سوچه فورم دی، چې له څلورو مسرو هېڅ کم نه وي، چاربيته يې ځکه بولي، چې څلور بيتونه لري، يعنې اته مسرې لري او په ملي موسيقۍ کې ځان ته اهنګونه او خوږې نغمې لري، د بندونو شمېر يې ثابت نه وي، خو هر بند يې جلا قافيه لري، يوازې وروستۍ سره يې د لومړي بند د قافيې سره سم ويل کېږي.
- مقام: د مقام لغوي معنی ځای دی. مقام ته ځينې رباعي هم وايي، معمولاً مجلسيان يې د مجلس په پيل کې وايي، وروسته سندرغاړې چاربيته، بګټۍ، لوبه يا غزل ورپسې وايي، کمال يې په دې کې دی، چې مقام ورو او په معقول انداز کې ويل کېږي، چې ټول مجلس ورته غوږ وي، وروسته يو شور او زوږ جوړ شي، په مقام کې معمولاً نصيحتونه رانغاړل کېږي، له همدې امله يې اغېز پر خلکو ډېر وي.
- بدله: پښتانه ټولو سندرو ته بدلې وايي، خو دا بدله ځانګړی فورم لري، لومړی يو کسر يا يوه مسره لري او ورپسې بندونه وي، هر کسر يې له يوې اوږدې او يوې لنډې

مسرې څخه جوړ وي، د بندي هر بيت يې خپلو مسرو کې سره هم قافيه وي او د بند په پای کې د بدلې لومړی بيت بيا تکراريږي.

- **لوبه:** دا شعري فورم هم د پښتو ولسي شاعری ځانګړی فورم دی، چې د بګتيو سره ورته والی لري، ځينې خلک لوبه او بګتی يو ډول بولي، خو لوبه جلا شعري فورم دی، چې له بګتی نه چابک ويل کېږي، د لوبې لومړی مسره اوږده او دويمه يې لنډه وي، په بندونو کې لومړی دوې مسرې خپلو کې هم اهنګه او دريېمه مسره يې اوږده په وزن کې د لومړۍ مسره رره هم اهنګه او وروستی لنډه مسره يې تکرار راځي.
- **داستان:** ولسي منظوم داستانونه د فورم له پلوه مثنوي او قصيدې ته نږدې دي، توپير يې په دې کې دی، چې د قافيې ازادي لري، ډېرې اوږدې کيسې پکې پيانېږی، چې هم ديني، هم عشقي، هم ادبي او هم فوکلوريکې موضوعات پکې رانغاړل کېږي. لومړی دوه مسرې يې لنډې لنډې وي، خپلو کې هم اهنګه وي، دريېمه مسره يې اوږده او څلورمه يې لنډه وي، خپلو کې هم قافيه وي، بله بڼه يې مثنوي ته ورته فورم دی، چې هر بيت يې خپلو کې هم قافيه وي.
- **بګتی:** بګتی هم د بدلو او چاربيتو په څېر کيسه لري، کيسه يو بيت وي، بندونه يې هم ډېرې مسری نه لري، د څلور مسرو په شاوخوا کې وي، کله کم کله زيات. ولسي سندرغاړي يې له مقام نه وروسته د مجلس په منځ کې د مجلس د ګرمولو په موخه وايي، چې خلک په شور راولي. لومړی بيت يې د لنډۍ په شان وي، بندونه يې خپلو کې هم قافيه او د پای مسره يې د لومړي بيت قافيه تعقيبوي، ځينې ولسي شعري فورمونه هم شته، لکه منظوم متلونه، ناولونه، د بي بي ولسي سندرې، ازاد شعر، لنډکی، برغازي، سلسلې اتکی يا چغان کيسې، ولسي ننداري، د

نکلونو ناري او نور چې د لنډون په موخه يوازې د نومونو په ذکر کولو ترې تېرېږو.

اوس به راشو نثري ادبي ژانرونو ته :

په دې ادبي ژانرونو کې معمولاً کیسه یي ژانرونه شامل دي، لکه لنډه کیسه، لویه کیسه، ناول، رومان، ادبي ټوټه او نور چې دلته به هر یوه ته ځغلنده نظر واچوو:

- **لنډه کیسه:** لنډې کیسې ته په دري کې داستان کوتاه او انګلیسي کې شارت ستوري وايي، هغه لنډه داستاني لیکنه ده، چې پیل، منځ او پای لري، تلوسه او منظر کشي پکې مهمه ده، کله چې ويل کېږي، له نیم ساعت څخه تر دوو ساعتونو پورې وخت نیسي، پوه پېښه پکې بیانېږي، د کرکترو شمېر یې محدود وي او مرکزي کرکتر یې یو وي، یعنې یوه پېښه پکې پیانېږي.
- **داستان:** دا له لنډې کیسې نه اوږده او له ناول نه لنډ وي، نور د لنډې کیسې په شان وي. یا په بله ژبه د لنډې کیسې اوږدې پېښې ته داستان وايي.
- **ناول:** دا د ایټالوي ژبې د ناوله **Novella** څخه جوړه کلمه ده، چې لومړی انګریزي ادب او بیا اردو بیا پښتو ادب ته راغلې ده. لغوي معنی یې عجیبه او تازه ځیز دی. دا هغه کیسه ده، چې له داستان څخه لوی او له رومان څخه وړوکی وي، د کرکترونو شمېر هم زیات وي، پېښه پکې بله پېښه زېږوي، د مرکزي کرکترونو شمېر یې هم ډېر وي، د زمان له مخې اوږد مهال په بر کې نیسي، ځنګلوري پېښې هم تعقیبوي او هغو ته پرداس ورکوي.
- **رومان Roman:** رومان د لاتیني ژبې څخه کشف شوې فرانسوي کلمه ده، چې په لغت کې د خیالي کیسې، د مینې د کړکېچنو پېښو داستان په معنی راغلې ده، په ادبي اصطلاح کې د داستاني ادبیاتو هغه ژانر دي، چې د ژوندانه کړکېچن کیسې د خیال په قو په لوی داستاني

چوکاټ کې وړاندې کوي، له ناول څخه لوی وي او د زمان په نظر کې نیولو سره د قرنونو کیسې پکې بیانیدلای شي.

د نثري ادب ډولونو په کتاب کې د (انواع ادبي) اثر د لیکوال په قول یې تعریف داسې شوی دی:

((رومان هغه لویه کیسه ده، چې لیکوال یې د هغو رښتینو واقیعي او عیني معلوماتو پر بنسټ چې له شخصیتونو (کرکترونو) څخه چې په تاریخي، دیني، عشقي، پولیسي او نورو پېښو کې نقش په غاړه لری او یا خپل تخییل او هنري استعداد او ځواک په مرسته ادبي اثر رامنځته کوي او د هغو په ترڅ کې د خپل پام وړ شخصیتونو روحیات، سلوک، کړنې او وینا توصیف او تحلیلوي))

- ډرامه: ډرامه هم د یوناني ژبې له Drw کلمې څخه مشتق شوې او انګلیسي ژبې ته راغلې ده، چې لغوي معنی یې تمثیل، نمایش او ننداره ده او به ادبي اصطلاح کې د داستاني ادب هغه ژانر دی، چې کیسه پکې د دیالوګ، محاورې، کړنې او عمل په واسطه بیانیږي.

## د ژورنالېزم بنسټونه:

ژورنالېزم ر یالیزم دی، د رامنځته کېدو فلسفه یې هم همدا ده، هغه څه چې واقع شوې وي، یا واقع کېږي او یا هم پېښېدونکې وي، ژورنالېزم یې څېړي.

د خبرونو، رپوټونو او د ژورنالېزم د نورو ژانرونو په بڼه یې خلکو ته د رسنیو له لارې رسوي، معنی دا چې ژورنالېزم د رښتیا ویلو مسلک دی، نو ویلای شو، چې رښتیا او واقعیت د ژورنالېزم اصلي بنسټونه دي، خبر، رپوټ، پکېج، فیچر، مرکه، ګردی مېز ... او نور یې ډولونه یا ژانرونه دي یا هم د ژورنالېزم د بنسټونو وړاندې کولو مسلکي چوکاټونه دي، چې ژورنالستان د همدې بېلابېلو ژانرو په کارولو دغه بنسټونه لاپیاوړی کوي او خلکو ته واقعیتونه رسوي.

## د ژورنالېزم اړتیا او ارزښت:

له ادمه تر دې دمه که انساني ژوند مطالعه شي، معلوماتو ته انساني تنده تر<br>ې جوتېدلای شي، انسان په طبیعي ډول تلوسه لري، چې له پېښو، پرمختګونو، ننګونو د مسوولینو له کړنو او حالاتو نه خبر شي.

ژورنالېزم دی،چې خلک د خپل هېواد، سیمې او نړۍ له حالا تو خبروي او د همدې معلوماتو پر بنسټ ډېری خلک خپل د ژوند لوری بدلوي، په تصمیمونو کې تغیر راولي، د راتلونکې لپاره تدابیر نیسي.

د بېلګې په ډول د هوا پېژندنې اداره وړاندوینه کوي، چې په دغو او هغو ورځو کې د باران اټکل شوی دی، ځینې خلک خپلې برنامې تغیروي، که دواده نېټه ټاکي، د هوا حالات په نظر کې نیسي، که د غونډو او نورو مراسمو لپاره تابیا نیسي، ځای ورسره په پام کې نیسي، چې د باران له امله خلک لامده نه شي.

دغه راز که يو څوک کابل ته سفر ولري او معلومات ترلاسه کړي، چې په لاره کې جګړه ده، لاره بنده ده، خپل سفر ځنډوي.

که له دې لږ وړاندې لاړ شو، د ملت او دولت لپاره د ژورناليزم اړتيا ته پام وکړو، جوته به شي، چې خلک هره ورځ تمه لري، چارواکي د دوی د ژوند د پرمختګ لپاره څه کړي دي، څه کوي؟ او څه کول غواړي؟

دولت هم اړتيا لري، چې ملت ته د خپلو اجرااتو لپاره معلومات ورکړي، د هغوي ستونزې واوري او د حل لپاره يې اقدام وکړي، چاروا‌کي تل هڅه کوي، چې خپل پيغام ترخلکو ورسوي او دا د ژورناليزم په واسطه ډېره اغېزمنه ده، که ووايو، چې ژورناليزم د ملت او دولت ترمنځ د پل حيثيت لري، مبالغه به مو نه وي کړی.

## ژورناليزم د زورواکی او فساد کمولود وسيلې په توګه :

د افغانستان تېرو جنګونو دا وښودله، چې د جګړې هر لوري، قتلونه وکړل، د خلکو مالونه يې لوټ کړل، زورواکو ځمکې غصب کړې، لنډه دا چې پر خلکو هر ډول ظلمونه ترسره شول، چې لا هم دوام لري.

د قانون پرځای روابط او زورواکي حاکمه شوه، د ازاد ژورناليزم او بيان آزادی په رامنځته کېدو تر ډېره دا ناخوالې کمې شوې.

يوه زورواکي کيسه کوله، ويل: له ټانګه نه وېرېږم، خو له مطبوعاتو وېرېږم، دا په خپله د ژورناليزم رول، اغېز، اړتيا او ارزښت ثابتوي.

## ژورناليزم د تفريح او بوختونې د وسيلې په توګه:

پخوا چې مطبوعات عام نه و او ټولو خلکو ورته لاس رسی نه لرله، خلکو به خپل وزګار وخت په افسانو، کيسو، لوبو او

غیبتونو تېروله، خو کله چې تلوېزیونونه او راډیوګانې عامې شوې او بوختوونکي پروګرامونه یې وړاندې کړل، ډېری خلک خپل وزګار وخت همدې پروګرامونو ته وقف کړی. فلمونه، سریالونه، موسیقي، لوبې او دې ته ورته نور پروګرامونه د خلکو پام ځان ته اړولی دی.

لوستي خلک بیا په نننې عصر کې په انلاین ژورنالېزم که هغه فېسبوک دی، که ټویټر دی، یا نور انټرنیټي سایټونه دي، ځان بوخت ساتي او د بوختونې تنده پرې خړوبوي.

## شکېلو غاړو ته د تفاهم د وسیلې په توګه:

په جګړه کې ښکېلې غاړې ډېری وختونه د مطبوعاتو له لارې یو بل ته په غیر مستقیم ډول پیغام رسوي، په یو ډول نه یو ډول مطبوعات د تفاهم د وسیلې په توګه کاروي. د بېلګې په ډول:
اوس مهال د طالبانو ادرس معلوم نه دی، کله چې دوی غواړي خلکو او یا هم دولت ته مهم پیغام ورسوي، د رسنیو له لارې دا کار کوي، دولت هم کله چې غواړي طالبانو ته پیغام ورسوي، د مطبوعاتو له لارې یې رسوي.

د سولې د پروسې لپاره که څه هم یو ځل مخامخ مذاکرات و شول، خو د دواړو غاړو دریځونه معلوم نه شول، دولت وایي، چې سوله به د ۱۳ کلنو لاسته راوړنو په قیمت نه وي، د ښځو او بشري حقونو خوندیتوب به تضمین وي او دې ته ورته نور.
طالبان بیا وایي، ترڅو چې بهرني قواوې په افغانستان کې وي، سوله نشي کېدای.

څرګنده شوه، چې دا ټول پیغامونه د رسنیو له لارې یو بل ته رسول کېږي او یو ډول تفاهم رامنځه کوي.

## ژورنالېزم قدرت ته رسېدو د وسیلې په توګه:

سیاستوال تل هڅه کوي، رسنۍ د ځان په ګټه وکاروي، له دې لارې قدرت ته ځان ورسوي.

که موږ د ثور کودتا ته ځیر شو، ګورو، چې شهید داوود خان لا وژل شوی نه وو، کودتاچیانو رادیو تلوېزیون ونیوله او د

رژيم د بدلون اعلانونه يې وکړل، په ټولو ولايتونو کې د همدې مطبوعاتو له لارې د کودتاچيانو واک ټينګ شو.
يا هغه مهال چې د ډاکټر نجيب الله د واکمنۍ دفاع وزير شهنواز تڼي پر نجيب د کودتا ناکامه هڅه وکړه، ډاکټر نجيب وکولای شو، د رسنيو له لارې په ولاياتو کې حالت قابو کړي او د تڼي ملګري او کودتاچيان مايوسه کړي او د اقدام مخه يې ونيسي.
اوسمهال چې د ازادو ټاکنو له لارې څوک واک ته رسېدل غواړي، هم رسنۍ ډېر استعمالوي او د رسنيو له لارې، خپل پيغامونه، پروګرامونه او راتلونکي پلانونه خلکو ته رسوي، چې دا په خپله واک ته رسېدو لپاره مطبوعات بهترينې وسيلې دي.

## ژورنالېزم د ښوونې او روزنې د وسيلې په توګه:

پخوا به زده کړې يوازې په علمي او اکاډميکو مرکزونو کې کېدلې، ښوونځي، پوهنتونونه، انستيتيونه، علمي کورسونه او نور علمي مراکز به د زده کړې وسيلې وې، خو اوس ګورو، چې ټولې رسنۍ ښوونيزې او روزنيزې برنامې لري، آن ځينې لا يوازې همدا چاره ترسره کوي، لکه (راديوتلوېزيون تعليمي او تربيتي) د پوهنې وزارت له لورې د هېواد بچيانو ته ښوونه او روزنه ورکوي.
د انګليسي ژبې لوست خو په اکثرو رسنيو کې موجود وي، ذهني ازموينې پوښتنې او ځوابونه، د ميلونر خپرونې ... ټول هغه څه دي، چې ژورنالېزم د ښوونې او روزنې د يوې وسيلې په توګه ګڼل کېږي.

## رسنۍ د خلکو د خبرونې د وسيلې په توګه:

نن سبا د رسنيو له برکته نړۍ د يوه کلي بڼه غوره کړې ده، که په امريکا کې څه پېښېږي، په افغانستان کې خلک پرې هماغه شېبه خبرېږي، که په افغانستان کې څه پېښېږي، د نړۍ خلک پرې خبرېږي.

د تجربو تبادله، د فرهنګونو پېژندنه، له حالاتو خبرېدنه، د هېوادونو پېژندنه، د ملتونو د ژوند سطحې معلومول او دې ته ورته نور مسایل هغه څه دي، چې رسنۍ د خبرونې د وسیلې په توګه موږ ته راپېژني.

اوس خو لا د انټرنېټ پرمټ ټوله نړۍ د جال په بڼه یو بل سره نښتې، آن تر دې چې دغه وسیلې د انقلابونو او بدلونونو سبب ګرځېدلې دي.

د بېلګې په ډول په عربو کې پسرلنی بدلون یادولی شو، چې له سعودي پرته په ټولو عربي هېوادونو کې یې انقلابونه رامنځته کړل.

د ژورنالېزم په اړتیا او ارزښت که هر څومره بحث وکړو، پای ته به یې ونه شو رسولی، په همدې به بسنه وکړو.

# ژورنالستيک ژانرونه

وړاندې له دې چې ژورنالستيکو ژانرونو باندې بحث وکړو، لازمه ده، چې لومړی ژانر وپېژنو، چې ژانر څه ته وايي.

د( پښتو نظم کلاسيک ژانرونه) په کتاب کې د ژانر د کلمې په باب په زړه پورې تشريح موجوده ده، د کتاب ليکوال په کابل مجله کې د فوکلور پېژندنې ترسرليک لاندې د ژانر تعريف اخيستی او ليکي:

ژانر فرانسوي کلمه ده، چې په انګرېزۍ کې هم لکه د فرانسوي په شان ژانر تلفظ کېږي، خو Gener ليکل کېږي.

ژانر په لغت کې ډول، صنف، ټيپ او بېلګې ته ويل کېږي، په ادبي کره کتنه کې ژانر ادبي اثارو پر جلا ټيپونو يا کټګوريو دلالت کوي، چې د جلا والي معيار يې فورم (شکل) دی. يا په بله ژبه ادبي ژانرونه د شکل يا تکنيک په اساس يو له بله بيلېږي. (7)

دغه راز په ژورناليزم کې هم ژانر د شکل، فورم او بڼې په بدلون رامنځته کېږي.

يعنې کله چې د ژونالستيکي ليکنې چوکاټ، فورم يا شکل بدلون مومي، په حقيقت کې يو بل ژورنالستيک ژانر رامنځه کېږي، لکه د خبر چوکاټ او شکل يو ډول دی.

د رپورټ بل ډول، د مرکې بل ډول، د پکېج و فيچر بل ډول، دغه راز کالم، سرليکنه، تبصره، او دې ته ورته نور ژورنالستيک ژانرونه ,هر يو ځان ته د ليکنې جلا چوکاټ او جوړښت لري، هر کله چې د يوې ژورنالستيکې ليکنې بڼه او شکل تغير کوي، ژانر هم ورسره بدلون مومي.

اوس به راشو په لومړي سر کې پر نګه ژونالستيکي ژانرونو باندې بحث وکړو، وروسته به د ادب او ژورناليزم ګډ ژانرونه وړاندې کړو.

## نګه ژورنالستيک ژانرونه:

## ۱: خبر:

---

[7] د پښتو نظم کلاسيک ژانرونه

دا یوه عربي کلمه ده، چې د پوهې، ځیرکتیا، خبروني او خبري معنی لري، د ژورنالیزم په اصطلاح ، د پېښو په اړه هغه لنډو معلوماتو ته چې خلکو ته په زړه پوري وي او د خلکو پر ژوند، منفي یا مثبت اغېز ولري، خبر ګڼل کېږي، دا پېښه کېدای شي، ښه وي او یا بد.

خبر ته په انګلیسي ژبه کې نیوز **News** وایي، نیوز د نیو **New** جمع ده، **New** نوي شي ته وایي.

د خبر په اړه بېلابېل تعریفونه موجود دي، هر یوه او د نظر خاوند له خپله انده او د خپلو تجربو پر بنسټ یې پېژندنه کړې ده.

په دې پېژندنو کې ځینې داسې دي، چې د لوستونکي قناعت پرې نه حاصلېږي.

استاذ محمد داوود وفا په خپل کتاب (د نوي ژورنالېزم بنسټونه) کې دغه نظریات داسې راټول کړي دي.

**Lyle Spensoer** د خبر لیکنې د کتاب لیکوال وایي: هغه رښتینی عمل او فکر چې د لوستوالو لپاره زړه راښکونکی او جالب وي، خبر بلل کېږي.

امریکایي خبریال **W.G. Blaire** په خپل (ورځپاڼه لیکنه) کتاب کې وایي، چې ټولې ورځنی پېښې خبرونه دي، چې د زړه راښکون له امله په خپرونو او خبري سرویسونو کې خپرېږي.

د خبرموندنې لیکوال **S. Moully** بیا ورځینی رښتینې یا پام وړ او عیني پېښې خبر بولي.

د امریکا د مینه سوتای پوهنتون د خبریالی استاذ **Mitegell–v–charnley** د خبر لیکنې په کتاب کې وایي:

خبر د یوې پېښې وړ، لنډ او روغ راپورتاژ دی، نه په خپله پېښه.

ځینې نظریې په خپل ځای د ارزښت وړ دي، په عین زمان کې ځینې پوښتنې هم راولاړوي، چې کېدای شي، ډېری ژورنالستان ورسره توافق ونه لري.

لکه : خبر د واقعیتونو راپورتاژ دی.

خبر یو پیغام دی، چې هم رښتیا وي هم دروغ.
خبر یوه پېښه ده، چې پېښېږي.
د پېښې ټول اطلاعات خبر ګڼل کېږي.
خبر د یو لړ لغتونو ټولګه ده، چې د یوه کار د سرته رسېدو اطلاعات ورکوي.
زما په اند خبر د یوې پېښې (هغه که ښه وي او یا بد) هغه لومړني معلومات دي، چې د شپږو لومړنیو پوښتنو ځوابونکی وي.
پېښه کله رامنځته شوې ده؟ چېرته رامنځته شوې. څنګه رامنځته شوې؟ چا رامنځته کړې؟ ولې رامنځته شوې؟ څومره زیان چا ته اوښتی دی؟ دا یو بشپړ خبر دی.
د بېلګې په ډول که په یوه ځای کې خلک سره راټول وي، شروشور وي یا یوه ډله خلک د آسمان لوري ته ګوري او یا هم یوې خوا ته منډې وهي، په طبیعي ډول تاسو ته ځینې پوښتنې راولاړېږي، څه خبره به وي؟ څه پېښ شوي؟ چا پېښ کړي؟ ولې به پېښ شوي وي؟ خلک ولې اوتر دي؟ خلک ولې منډې وهي؟ دا تلوسه ییزې پوښتنې دي، چې ستاسو ذهن ته به خطور کوي.
بله بېلګه :
که چېرې تاسې په یو ټولګي یا یو ځای کې ناست یاست، یو څوک ناڅاپه په وارخطا یی، ستاسو مجلس ته رانونځي، ساه یې بنده بنده کېږي، اوتر وي، رنګ یې الوتی وي، حتماً تاسو هر یوه ته پورته ذکر شوې پوښتنې په ذهن کې ګرځي او ځان پوهول غواړئ، دې ته هوسېږئ، چې وپوښتئ، څه خبره ده؟ ولې وارخطا یې؟ چا په منډو کړی یې؟ که نوموړی شخص تاسو ته د یوې پېښې کیسه کوي. طبعاً تاسې د پېښې له جذیاتو نه ځان خبرول غواړئ او پوښتنه ترې کول غواړي، چې چا کړي؟ ولې یې کړي؟ تا څه کړي وو، چې داسې درپېښ شول؟ دا ټولې خبري پوښتنې دي ، چې تاسې یې ځان ته معلومول غواړئ، کله چې دا ټولې پوښتنې مو ځواب شوې، هله تسکېنډېږئ او تلوسه مو خړوبېږي. بس همدا خبردی.

دا قضاوت وروسته کوئ، چې دا يو په زړه پوري خبرو او که نه؟ که چېرې تاسو ته پر زړه پوري و، ستاسو عاطفه او احساسات يې راوپارول. په طبيعي ډول غواړئ، د موضوع له عمق او شاليد نه هم خبر شئ او که چېرې پېښه تکراري وه، پر زړه پوري نه وه، تاسې پرې تېره ږدئ او نور يې نه پلټئ، د پېښې په زړه پوري والی، نوی والی او اغېزمنتيا تاسې پلټنې او لازياتو معلوماتو ته هڅوي، ستاسو دغه تجسس څېړنيزه خبريالي تشکيلوي، چې طبعاً لازيات معلومات ، څه نا څه وخت نيسي، اما ساده خبر زمانګير نه وي.

خبر د ژورنالېزم هغه ژانر دی، چې له امله يې مسلکي ژورنالېزم رامنځته شوی او بنسټ يې ابښودل شوی دی. وروسته د موضوع د روښانيا او ژر پوهېدنې په موخه د ژورنالېزم د مسلک د نظر خاوندان خبر په بېلابېلو ډولونو ويشلی، چې هر يوه يې د خبر په عمومي چوکاټ کې ځان ته پېژندنې لري. اما د ټولو سکښت او چوکاټ يو دی.

د خبر چوکاټ يا سکښت:

هر خبر له دغه چوکاټ يا سکښت نه دباندې نه وي، دا چوکاټ څلور برخې لري.

## ۱- سرليک:

دا د خبر تر ټولو مهمه او اشتهاري برخه وي، چې تلوسه زېږوي، ليدونکي، اورېدونکي او يا هم لوستونکي د خبر اورېدو، ليدلو او لوستلو ته اړ باسي.

دا په تاسو پوري اړه لري، چې سرليک څومره هڅونکی جوړولای شی، ستاسو ظرفيت، توانايي او مسلکي پوهه په سرليک کې معلومېږي، که چېرې يوه مهمه پېښه وي او تاسې يې سرليک هيښونکی، تلوسه زېږونکی او لنډ جوړ نه کړی، تاسې په دې نه توانېږئ، چې د خبر تر پايه مو مخاطبان ځان سره وساتئ. سر ليک د خبر سرنوشت ټاکي. سرليک په چاپي، غږيزو او تصويري رسنيو کې په توپير سره جوړېږي. په چاپي رسنيو کې سرليک

کېداى شي، يوه بشپړه خو لنډه جمله وي، اما په راديو او تلوېزيون کې يوه تلوسه زېږوونکى عبارت.

## ۲- ليډ:

ليډ د خبر پيل ته وايي، چې د ټول خبر شيره يا نچوړ هم ګڼل کېدلاى شي، معمولاً يو پاراګراف چې له څو لنډو جملو نه جوړ وي، لرونکى وي، کله کله د موضوع د حساسيت او مهموالي په اساس دوه پراګرافه هم کېدلاى شي. په ليډ کې معمولاً څلور پوښتنې، څه؟ کله؟ چا؟ چېرته؟ ځوابېږي. دا برخه هم ډېره مهمه ګڼل کېږي، ځکه لوستونکي بايد جوړه شي، ځينې خبريالان بيا ولې؟ او څنګه؟ پوښتنې هم په همدې ليډ کې ځوابوي او تشريح يې په متن کې کوي.

## ۳- متن يا تشريح:

دا د خبر بدنه ده، دا هغه برخه ده، چې ټوله موضوع تشريح کوي او د بېلابېلو خواوو نقل قولونه د سند په توګه وړاندې کوي. د ټولو خواوو لنډ نظرونه پکې اخيستل کېږي او لوستونکي، اورېدونکي او يا ليدونکي ته نوره پوښتنه په ذهن کې نه پرېږدي.

## ۴- پاى يا شاليد:

په انګليسي کې ورته **Background** وايي، په دې برخه کې د خبر تېر تاريخ ته نظر اچول کېږي، که له دې وړاندې دې ته ورته پېښه شوې وي، په لنډ ډول ورته اشاره کېږي، که نه وي، په داسې جملو خبر پاى ته رسول کېږي، چې د موضوع په بشپړېدو دلالت وکړي . ځينې موضوعات او يا هم پېښې تعقيب او پلټنې ته اړتيا لري، کېداى شي، د خبر په پاى کې داسې جملې وکارول شي، چې ستاسې مخاطبان د هغه د تعقيب او يا ژورو ته کېږتو په موخه وخت ته انتظار وکړي او په يو ډول لاهم په تلوسه کې پاتې شي. اوس به په عملي ډول د يو بشپړ خبر برخې وليکو:

## سرليک:

په جلال آباد کې ځانمرګي بریدګر، لسګونو خلکو ته مرګ ژوبله واړوله.

د راډیو تلویزیون لپاره همدا سرلیک:

په جلال اباد کې د ځانمرګي برید له امله لسګونو خلکو ته مرګ ژوبله ...

د دې سرلیک په اورېدو او یا هم لوستلو تاسو ته ډېرې پوښتنې راولاړېږي، کله؟ د ښار په کوم ځای کې؟ چاته مرګ ژوبله واوښته؟ زیان یې څومره و؟

هغه لومړنې پوښتنې چې ستاسو د مخاطبانو ذهن یې ژر ځواب غواړي، په لیډ کې ځوابېږي.

## لیډ:

د شنبې سهار اته بجې د جلال آباد کابل بانک مخې ته د ځانمرګي برید له امله لسګونه تنو ته مرګ ژوبله واوښته، چې ډېری قربانیان یې ملکي وګړي وو.

د دې لیډ نه وروسته ستاسو مخاطبانو ته نورې پوښتنې هم راولاړېږي. آیا قربانیان یوازې ملکي وګړي دي؟ د پېښې نور قربانیان څوک دي؟ اوښتی زیان به څومره وي؟

د دې پوښتنو ترځنګ، ستاسو مخاطبان تمه لري، چې ټوله کیسه واوري. ځانمرګی څنګه راغی؟ څنګه یې ځان ته چاودنه ورکړه؟ ټپیان څنګه شول؟ په ټپیانو کې څوک شامل دي؟ روغتیایي حالت یې څنګه دی؟ کومې ډلې دا پېښه رامنځته کړې ده؟ پولیسو یې ولې مخنیوی ونه کړ؟ د دغسې پېښو د مخنیوي لپاره تدابیر څه دي؟ وضعیت اوس څنګه دی؟ او دې ته ورته نورې پوښتنې چې کېدای شي، په یو تفصیلي رپوټ کې ځواب شي، خو د خبر په اډانه کې همدا پوښتنې په لنډ ډول ځوابېږي او هغه په متن کې تشریح کېږي. په رپوټ وروسته خبرې کوو.

## متن:

چارواکي وایي، ځانمرګي بریدګر هغه وخت د خلکو په ګڼه ګوڼه کې ځان ته چاودنه ورکړه، چې پولیس او خلک د خپلو معاشونو اخیستنې په موخه کابل بانک مخې ته را ټول شوي وو.

د جلال آباد روغتون مسوولین وايي، دوی ته د پېښې له ځای نه ۳۶ تنه مړي او ۱۵۰ تنه ټپیان راوړل شوي، چې ډېری یې ښځې، ماشومان او ملکي وګړي دي.
د چاودنې له امله د شاوخوا دوکانونو، ودانیو او کابل بانک شیښې ماتې شوي او مالي زیان یې خلکو ته اړولی دی.
ډاکټرانو د یو شمېر ټپیانو روغتیایي وضعیت د اندېښنې وړ ښودلی دي.
د دې پېښې مسوولیت داعش ډلې په غاړه اخیستی.

## شالید:

دوه کاله وړاندې هم ځانمرګو بریدګرو پر دغه بانک برید کړی و، چې ګڼو پولیسو او عامو خلکو ته مرګ ژوبله اړولې وه.
د خبر پای که شالید ونه لري، په داسې جملو باید پای ته ورسول شي، چې د لیدونکو، اورېدونکو او یا هم لوستونکو په ذهن کې د پېښې په اړه جدي پوښتنې پاتې نه شي . او کیسه پای ته رسېدلې وښيي.
لکه دا جمله چې د پېښې مسوولیت داعش ډلې پر غاړه اخیستی.
که جزیات په بشپړ ډول د خبریال لاسته نه وي ورغلي، کېدای شي، خبر په داسې جملو پای ته ورسول شي، چې مخاطبان مو په راتلونکي خبرې سرویسونو کې د بشپړو جزیاتو په تمه پاتې شي او پاتې خبري سرویسونه هم تعقیب کړي.
لکه: د پېښې نور جزیات زموږ په راتلونکو خبري سرویسونو کې وړاندې کېږي.
د بشپړ خبر بله بېلګه:
د شپږو سوو نجونو زده کوونکو د سر پناه ستونزه حل شوه.
د بهسودو ولسوالۍ د تعمیراتو په کلي کې د شپږو سوو نجونو زده کوونکو د سرپناه ستونزه د یوې ودانۍ په جوړولو حل شوه.

د ښوونځي دغه ودانۍ د جاپان هېواد د جاى کـا موسسـې د دوه سوه زره امريکايي ډالرو په مرسته په يوه پوړ کې په پاخـه او اساسي ډول جوړه شوې ده.

د پوهنې رئيس... وويل: دا ودانۍ د غازي امان الله خـان لېسـې په انګړ کې جوړه شوې ده، چې په دوو شـفتونو کـې شـپږ سـوه نجونې پکې زده کړې کوي.

د پوهنې رئيس زياته کړه، په نوموړې لېسه کـې ورې نجـونې د هلکانو سره يوځاى زده کړې کولې او د لوړو ټولګيو لپـاره د سرپناه ستونزه د دې سبب شوې وه، چې خلک خپلې نجونې ښوونځي ته پرېنږدي، چې د دې ودانۍ په جوړولو سره ياده ستونزه حـل شوه.

ده د ودانۍ د څرنګوالي په اړه وويل، دغه ودانـۍ لـس درسـي خونې، تشنابونه او نور ضروري ملحقات لري.

د سيمې خلکو هم د دې ودانۍ په جوړېدو خوښي وښوده.

د لنډ خبر لپاره همدومره جزئيات هم کافي دي.

که له همدې خبر نه اوږود خبر جوړوى، کېداى شي، د پـوهنې د رئيس خبرې وغزوئ او د ودانۍ د جوړېدو د پيل او پـاى نېټـه هم ياده کړئ. دغه راز د زده کوونکو نظر هم پکې شامل کړئ.

## د خبر ډولونه:

خبر په مختلفو حالاتو کې په مختلفو ډولونو ويشل کېږي.

د حجم له پلوه خبر په دوه ډوله دى.

الف: لنډ خبر، ب: اوږد خبر.

د لنډ خبر بېلګې مخکې وړاندې شوې، که ذکر شوي خبرونـه پـه تفصيل سره وليکل شي، اوږد خبر ګڼل کېداى شي.

د کيفيت له پلوه د خبر ډولونه:

د کيفيت له پلوه خبر په پنځو ډولونو وېشـل کېـږي، يـا پـه رسنيو کې کارول کېږى.

١: سخت خبر

٢: نرم خبر

٣: تازه خبر

۴: سوړ خبر
۵: تود خبر

۱: سخت خبر: د هغو بوړنوونکو پېښو خبرونو ته سخت خبر ويل کېږي، چې اورېدل، لوستل او ليدل يې مخاطبان وبوړنوي.لکه د کابل بانک د پېښې خبر چې مخکې يې بېلګه وړاندې شوه.

بله بېلګه:

يوې ترافيکي پېښې څلوېښتو کسانو ته مرګ ژوبله واړوله.

د تورخم-جلال آباد د لوی لارې ډکې په سيمه کې د دوو کاستر موټرو د ټکر له امله څلوېښتو کسانو ته مرګ ژوبله واوښته.

د ننګرهار ترافيکو مدير... وويل: دا پېښه هغه مهال رامنځته شوه، چې يو کاستر موټر له تورخم څخه جلال آباد او بل يې له جلال اباد نه تورخم ته روان و، چې د ډېر سرعت له امله نن سهار لس بجې د ډکې په سيمه کې ټکر شول.

د ترافيکو مدير زياته کړه، په دواړو موټرو کې لس تنه چې ډېری يې ښځې او ماشومان دي مړه او دېرش تنه نور ټپيان شوي دي.

د عامې روغتيا رئيس ... وايي، ټپيانو کې ښځې، ماشومان او سپين ږيري شامل دي، چې د لسو تنو روغتيايي حالت د اندېښنې وړ دي.

د يادونې وړ ده، چې تېره مياشت هم د تورخم-جلال آباد سړک د دغسې خونړيو ترافيکي پېښو شاهد وو.

خلک وايي، که د تورخم-جلال آباد دوهم سړک جوړ نه شي، په راتلونکې کې هم د دغسې پېښو اټکل کېدای شي.

هغه خبريالان چې په خصوصي رسنيو کې کار کوي، هڅه کوي، چې خپل خبر په ننګوونکو جملو پای ته ورسوي.

## يادونه:

له دې وروسته چې د هر ډول خبر پېژندنه او بېلګه وړاندې کوو، په ياد ولرئ، چې هغه به د لنډ خبر يا اوږد خبر په چوکاټ کې وي، که ستاسو رسنۍ په خبري سرويس کې کافي وخت ولري، د پېښې خبري ارزښت ته په کتو هماغسې خبر ليکئ. يعنې

که وخت ډېر و او پېښه مهمه وه، اوږد خبر او که وخت کم و، لنډ خبر ولیکئ.

دغه راز، کله چې د خبر ټول جزیات په لاس کې ونه لرئ، هم تاسې مجبوراً لنډ خبر لیکی.

دا هم په یاد ولرئ، چې په چاپي او انټرنیټي رسنیو کې تصویر، ویډیو، په تلوېزیون کې ویډیو او په غږیزو رسنیو کې د پېښې غږونه ستاسې خبر په زړه پورې کوي او اغېز یې زیاتوي، وچ په وچه د پېښې کیسه ستاسو خبر بې خونده کوي او ستاسو تنبلي ښیي. د پېښې سیمې ته د خبریال ورتګ، خبر قوي او اغېزمن کوي او ستاسو اعتبار هم زیاتېږي.

## ۲: نرم خبر:

نرم خبر د سخت خبر برعکس دی، هغه مسایل او ورځنۍ پېښې چې اغېز یې سملاسي محسوس نه وي، بوختوونکي او دوامداره مسایل رانغاړي. استاذ محمد داوود وفا په خپل کتاب (د نوي ژورنالېزم بستونه) کې کاږي.

((که تاسې د تودې جګړې د یوه لوري د بري خبر خپروئ، دا سخت خبر دی، خو که د جګړې، زیانونو او اوږد مهاله اقتصادي تاوانونو په باب خبر لیکئ، ښایي نرم خبر وي.))

کله کله رسنۍ د خبري فقر سره مخ شي، تود او سخت خبرونه لږ وي، خبریال په ځینو عادي ورځنیو بوختوونکو مسالو مواد راټولوي او د خبري سرویس د ډکولو او بشپړولو لپاره ترې کار اخلي.

کله کله د یو چا د مرکې له نچوړ نه هم نرم خبر جوړېدلی شي.

د دې خبر نه د خبریال یا رسنیو موخه د خلکو بوخت ساتل او له ورځني ژوندانه نه د خلکو خبرول دي.

په نرم خبر کې وخت مهم نه وي، دې ته نه زړېدونکي یا تولیدي خبرونه  هم وایي، کېدای شي، خبریال یوې سیمې ته سفر کړی وي او هلته د هماغه سیمې له خلکو نه د هغوی د سیمه ییزو ستونزو او بریاوو په اړه پوښتنې کړې وي، د خلکو

د ستونزو او برياوو منعکسول او چارواکو تر غوږونو رسول يې موخه وي، د دې ډول خبرونو ګټه په دې کې وي، چې خلک د خپلو هېوادوالو د عادي ژوند له څرنګوالي خبرېږي، د خلکو ستونزې تر چارواکو رسول کېږي، کېداى شي چارواکي پرې غور وکړي او ورحل يې کړي، د يوې سيمې د خلکو له برياوو او لاسته راوړنو نور خلک هم زده کړه وکړي هغه په خپلو سيمو کې عملي کړي ، په يو ډول خلک د رسنيو سره علاقمند او په اړيکو کې پاتې کېږي.

د بېلګې په ډول، که خبريال داسې لرې سيمې ته تللى وي، چې هلته د زعفرانو حاصلات ډېر وي او بزګران يې د حاصلاتو له عوايدو خوښ وي، کېداى شي، يو نرم خبر ترې جوړ کړي، يا په دره نور کې د ګلابو له حاصلاتو نه د عطرو په جوړونه کې ګټه اخيستل کېږي، خبريال پرې نرم خبر جوړ کړي.

بېلګه:

د دره نور ولسوالۍ هغه بڼوال چې ګلاب کري، له خپلو حاصلا تو خوښ دي.

دوى وايي، د ګلابو له حاصلاتو نه عطر جوړوي او ښه ګټه ترې پورته کوي.

يو تن بڼوال حضرت ګل د خپلو حاصلاتو په باب وايي، د ګلابو دوه بڼونه لري، چې د يوې موسسې پرمټ ورته د عطرو کارخانه جوړه شوې ده او هر کال د دغو ګلابو د حاصلاتو له امله دومره ګټه ترلاسه کوي، چې په کوکنارو کې يې هېڅکله هم نه ده حاصله کړې.

حضرت ګل زياتوي، خوښ دى، چې له دې لارې حلاله نفقه ګټي او د خپلې ټولنې د خدمت مصدر ګرځېدلى دى.

دى په نورو بزګرانو هم غږ کوي، چې د کوکنارو له کر نه لاس واخلي او پر نورو بديلو کښتونو غور وکړي، چې ښه ګټه ترلاسه کړي.

ده د امريکا متحده ايالتونو د پراختيايي اداري د بديلو کښتونو څانګې له مسوولينو نه مننه وکړه، چې د دوی ګلابو ته يې ښه بازار پيدا کړی او د عطرو کارخانه يې فعاله کړې ده.
دا خبر نور هم غزېدلی شي، کېدای شي، بزګر يا بنوال له کرنې رياست نه شکايت کړی وي، کېدای شي، خبريال د کرنې رياست د مسوول ځواب هم پکې ځای کړي، يا د USAID نظر هم واخلي او ښه يې اوږد کړي.
د خبر لنډوالي او اوږدوالي د موضوع په ارزښت او څرنګوالي پورې اړه لري، خبريال پکې خلاص مټ لري، کېدای شي د خپلې رسنۍ اړتيا ته په پام د خبر حجم وټاکي.
دغه راز دا خبر په وخت پورې اړه نه لري او هر وخت ترې کار اخيستل کېدلای شي، آن که اوونۍ او مياشت وروسته يې هم خپور کړي، نه زړېږي، خو سخت خبر برعکس کېدای شي، ۲۴ ساعته وروسته د خپراوي وړ نه وي ژر زړېږي.
بله بېلګه:
د سره رود ولسوالۍ کې د نعنا يلني کرکېله زياته شوې ده، بزګران وايي، د دوی د نعنا حاصلات خورا ښه بازار لري او ښه ګټه ترې ترلاسه کوي.
محمد هاشم چې د سره رود ولسوالۍ په چهارباغ صفا سيمه کې جريبونه ځمکه کې نعنا کرلي وايي، دلته د دوی د حاصلاتو لپاره د نعنا د مقطرو اوبو فابريکه جوړه شوې ده او د دوی حاصلات په لوړه بيه پلورل کېږي.
دی وايي، څو تنو بزګرانو په ګډه د نعنا د اوبو يوه کارخانه فعاله کړې ده، چې هره ورځ لسګونه بوتله د نعنا اوبه بازار ته وړاندې کوي او ډېر اخيستونکي لري. دی وايي د نعنا له پروسس وروسته د نعنا مقطرې اوبه دواخانو او يوناني درمل ځايونو ته وړل کېږي او په ښه بيه پلورل کېږي.
جاويد د جلال اباد په ښار کې درملتون لري او د نعنا اوبه هم خرڅوي، وايي: د نعنا اوبه د معدې لپاره ګټوره او د

هاضمي سيستم په فعال ساتلو کې ډېره اغېزمنه ده او خلک يې ډېر استعمالوي.

احمد شاه چې د نعنا اوبه له درملتون نه پېرلې، د نعنا اوبو له کيفيت نه خوښ دی. دی وايي، کله چې د معدې تکليف ورته پيدا شي، دی د نعنا له اوبو ګټه اخلي.

د کرنې کارپوهان وايي، که زموږ بزګران دغسې کښتونو ته مخ واړوي لري نه ده، چې د کوکنارو د کښت مخنيوی به وشي او هم به د بزګرانو اقتصاد پياوړي شي.

دا خبر هم کېدای شي، په لنډ ډول وړاندې شي او هم کېدای شي، په اوږد ډول جوړ شي،دا په خبريال پورې اړه لري، چې اړونده رسنۍ ورنه څه ډول خبر غواړي.

هغه خبريالان چې مسلکي نه دي، تل په دې فکر کې وي، چې څېرته پېښه رامنځته شي او دوی ترې خبر جوړ کړي، خو کله چې کومه پېښه نه وي، لاس تر زنې حيران ناست وي، چې څه وکړي، مسلکي خبريالان د نرم خبر په جوړولو ډېر برلاسي وي.

په دې ډول خبر ډېرې نورې خبرې هم کېدلای شي، خو د موضوع د لنډون لپاره به همدومره بس وي

## ۳: تازه خبر:

تازه خبر هغه خبر ته وايي، چې سم لاسي پېښ شوی وي، دا که نرم خبر وي او که سخت، نوی والی پکې مهم دی، په ځانګړي ډول هغو رسنيو ته چې په لومړي لاس رسېږي او نورې رسنۍ ترې خبرې نه وي، که هم مهاله څو رسنۍ ترې خبرېږي، ټولو ته تازه خبر وي، کله کله موږ په رسنيو کې اورو تازه معلومات دا دي چې ... معنی دا چې نوي معلومات دادي. يا تازه دم ځواکونه د جګړې لومړۍ کرښې ته رسېدلي دي. معنی دا چې نوي ځواکونه رسېدلي دي.

د خبر نور ډولونه کېدای شي، د موضوع له پلوه تکراري وي، مثلاً پېښه شوې وي، نوي معلومات ورکول کېږي، دې ته تازه خبر نه ويل کېږي ،بلکې چې د موضوع له پلوه هم تازه وي، هغه خبر ته تازه ويل کېږي، د بېلګې په ډول:

ځو شېبې وړاندې څو تنو وسلو والو بریدګرو د ننګرهار پر هوایي ډګر برید پیل کړی او د درنو چاودنو غږونه هم اورېدل شوي دي.

د سیمې یو شمېر عیني شاهدان وایي، چې دواړو لوریو لخوا پر یو بل د سپکو او درنو وسلو ډزې کېږي او توده جګړه روانه ده.

د دغسې خبرونو بشپړ جزیات نه وي څرګند او د رسنیو ماد ر یتوران خپل مخاطبان د نورو جزیاتو لپاره په تمه ساتي.

کله کله داسې هم پېښېږي، چې تازه خبر بشپړ وي، خو د تازه خبر یو خصوصیت او مهم والی په دې کې دی، چې د مادریشن نورکریوال یا ویاند لخوا په مقدمه کې ویل کېږي
پام وکړئ، یو تازه خبر ته چې همدا اوس راورسېده.

دې ټکي ته مو هم باید پام وي، چې کله کله په ملي رسنیو کې د لوړو مقاماتو خبرونه خبري سرویس ته وروسته رسېږي. د دې لپاره چې مشران خپه نه شي، نطاق له مجبوریت نه وایي، چې پام وکړئ، یو خبر ته چې همدا اوس زموږ لاسته راورسېد.

مسلکي نطاق دې ته تازه خبر نه وایي، یوازې وایي، (یو خبر ته چې همدا اوس راورسېد) ځکه په تازه خبر کې نوی والی او مهموالی مهم وي، خو په ملي رسنیو، کې تشریفات په نظر کې نیول کېږي، نه خبري ارزښت، د مقاماتو موقفونو ته پام کېږي، اول د ولسمشر، دوهم د مرستیال ... همداسې سلسله وار. خو دا ټول خبرونه په نورو رسنیو کې د خبري ارزښت له مخې ډلبندي کېږي.

## ۴: سوړ خبر:

دغه ډول خبر ته ځینې ژورنالستان فیچري خبر یا نرم خبر هم وایي، د تود خبر سره یې توپیر په دې کې دی، چې سخت خبر یا تود خبر د وخت په لومو کې نښتی وي، خو سوړ خبر د وخت له قیده خلاص وي او طبق معمول د ژوندانه د ځینو اړخونو د څرګندولو لپاره لیکل کېږي، چې لکه د نرم خبر بوختوونکی وي، د بېلګې په ډول:

د شينوارو د علي شېرخېلو او سه پاى قومونو ترمنځ د يوې دښتې پر سر شديده جګړه ونښته.
دا يو سخت خبر دى، خو كه خبريال مياشت يا له هغې هم وروسته سيمې ته ځي، چې جګړه كراره شوې وي، د جګړې پر اغېزو خبر جوړوي، دې ته نرم خبر ويل كېږي.
د بېلګې په ډول:
د شينوارو د سه پاى او علي شېرخېلو د قومي جګړې له امله ګڼ شمېر خلكو ته رواني او روغتيايي ستونزې پيدا شوې دي.
د غني خېلو روغتون مسوولين وايي، دوى ته داسې ناروغان هره ورځ راځي، چې په جګړه كې يې خپل اولادونه له لاسه وركړي او رواني ستونزو سره مخ شوي دي...

## ۵: تود خبر:

ځينې خلك دې ته سخت خبر هم وايي، خو د تود خبر او سخت خبر ترمنځ يوه باريكي شته، هغه دا چې تود خبر هغه خبر ته وايي، چې يوه توده موضوع وي او د هر چا په خولو كې وي، يعنې بحث زېږوونكې وي، دغسې خبرونه ډېر په وخت پورې تړلې نه وي، لكه سخت خبر، بله دا چې دا خبر بوږنوونكې نه وي، لكه سخت خبر، د بېلګې په ډول:
د افغانستان او پاكستان ترمنځ د استخباراتي تفاهمليك موضوع ډېر بحثونه او خبرونه وزېږول.
په هره رسنۍ كې ګردي ميزونه جوړ شول، د عام و خاص په خولو كې همدا بحث و، په ولسي جركه، مشرانو جركه، سياسي كړيو او مدني نهادونو كې پرې بحثونه وشول، قابو مياشت پرې تېرېږى، اوس هم پرې بحثونه كېږي او په اړه يې خبرونه خپرېږي، دغو خبرونو ته تاوده خبرونه ويل كېږي.
بېلګه:
ولسي جرګې د ملي امنيت شورا پر هغې پرېكړې نيوكه وكړه، چې له مخې يې د پاكستان استخباراتي شبكې سره استخباراتي تفاهمليك لاسليك كېږي.

د ولسي جرګې غړي وايي، پاکستان په تېرو دېرشو کلونو کې افغانان وژلي، زموږ هېواد يې وران کړی او تراوسه پورې زموږ په هېواد کې جګړه توده ساتلې ...

له بشپړ خبر نه د لندون په موخه تېرېږم، ځکه د خبر سکښت او جوړښت مخکې تشريح شوی، جزيات په هماغه سکښت کې بايد ځای شي.

## د محتوا له مخې د خبر ډولونه:

د محتوا له مخې خبر ډېر ډولونه لري، کېدای شي، د ژوندانه له بېلابېلو اړخونو نه جوړ شوي خبرونه په هماغه نوم ونومول شي، خو بايد په ياد ولرو، چې په جوړښت کې يې کوم ځانګړی بدلون نه راځي، دغه نومونه يادولی شو.

## ورزشي خبر:

دې ته د لوبو خبرونه هم ويل کېږي، چې د لوبو په سياليو، پرمختګونو ننګونو او جريانونو باندې ليکل کېږي، ځينې رسنۍ يوازې همدې برخې ته ځانګړې شوې وي، خو اکثراً رسنۍ دې برخې ته ځانګړی ځای ورکوي او د يو جلا سګنل په واسطه د لوبو خبرونه وړاندې کېږي.

بېلګه:

د افغانستان او پاکستان د کرکټ ملي لوبډلو ترمنځ پنځوس اوريزې سيالۍ پيل شوې.

په دې سياليو کې چې د اسلام آباد، په کرکټ لوبغالي کې د دوشنبې په ورځ پيل شوې د بټينګ پړه افغانستان وګټله او لوبه يې پيل کړه...

په ياد ولرئ، چې دغسې خبرونو ته تخصصي خبرونه هم وايي، يعنې خبريال د خبريالۍ زده کړې ترڅنګ په کرکټ يا نورو لوبو هم بايد وپوهېږي.

هغه خبريالان چې په لوبو نه پوهېږي، بشپړ خبر نه شي جوړولای، لکه څنګه چې په لوبو پوه خبريال يې ليکلی شي.

## اقتصادي خبر:

دا ډول خبرونه اقتصادي پېښې، پرمختګونه او ننګوونې رانغاړي، دې ته وته ييز خبر هم ويل کېږي، په دې کې د مهمو اقتصادي پروژو پرانستل، د مهمو اقتصادي پروژو پروړاندې ستونزې او ننګوونې اونور په بر کې نيسي.

بېلګه:

د سلما بند د جوړولو چارې پيل شوې.

د هرات ولايت د سلما بند چې درې کاله وړاندې يې تخنيکي سروې بشپړه شوې وه، د هند په ... مليارده ډالرو بلاعوضه مرسته په لسو کلونو کې جوړېږي... ادامه

## روغتيايي خبر:

دا ډول خبرونه روغتيايي پرمختګونه، ننګوونې، لوى او بې ساري عملياتو نه او روغتيايي چارې رانغاړي، د دې ډول خبر جوړوونکي خبريالان هم بايد لږ تر لږه د روغتيايي اصطلاحګانو سره اشنايي ولري.

بېلګه:

د ننګرهار په حوزوي روغتون کې په لومړي ځل د زړه عمليات ترسره شول، دغه عمليات د ننګرهار د حوزوي روغتون د جراحانو لخوا په برياليتوب ترسره شوي دي.

د عامې روغتيا رئيس ... وايي، مونږ له دې وروسته دې ته اړتيا نه لرو، چې ناروغان پاکستان او يا نورو هېوادونو ته د زړه د عملياتو په موخه ولېږو... نور د خبر د اصولو او سکښت له مخې بايد خبر بشپړ شي.

## امنيتي خبر:

دا ډول خبرونه د معمول له مخې هغه پېښې رانغاړي، چې په امنيت پورې تړلې وي، لکه جګړې، انسان تښتوونه، جنايي کيسونه ...

بېلګه:

د شېرزادو په ولسوالۍ کې د طالبانو او حکومتي ځواکونو د نښتې له امله سلو تنو ته مرګ ژوبله واوښته.

د امنيې قوماندانۍ ويياند ... وويل: ...

کېداى شي، پوښتنه درته پيدا شي، چې د خبرونو په ځينو برېلګو کې ولې سرليک نشته، دې ته بايد ځير اوسئ، چې کله خبر بشپړ شي، سرليک ورته ليکل کېږي، د دې لپاره چې د خبر مهم جزيات پکې ځاى شي او تلوسه ولري او هم د خبر جملې ، په سرليک کې تکرار نه شي، کېداى شي، په نويو کلماتو د تکرار مخه ونيول شي.

## څېړنيز خبر:

دا ډول خبر په څېړنيز ژورنالېزم پورې تړاو لري، په دې ډول خبر کې خبريال د موضوع ژورو ته ځان رسوي، نا ښرګندې او پټې خواوې يې رابرسېره کوي، خبريال ته د رېپوټ يوازې يو سند په لاس ورځي، وروسته خبريال په خپله پلټنه کوي او د پېښې په تړاو د ولې او څنګه پوښتنو د ځواب په لټه کې کېږي.

په دې ډول خبر کې څه نا څه وخت ډېر مصرفېږي، ځکه پلټنه کافي وخت غواړي، دغسې موضوعات نه زړېدونکي وي، بله ځانګړنه يې دا ده، چې دغسې خبرونه د يوې رسنۍ امتياز وي. کېداى شي، اسناد يوې رسنۍ ته رسېدلې وي، نورې رسنۍ که دا خبر خپروي، د هماغه رسنۍ په امتياز به يې خپروي او يا هم له هغې نه په الهام، به خپله پلټنې کوي او هماغسې اسناد تر ګوتو کوي، د بېلګې په ډول، د ١٣٩۴ کال د غبرګولي په لسمه شپه يک تلوېزيون د کابل د پوليسو د دوو حوزو د امرينو ترمنځ پر يوې مېرمنې چې دواړو ورسره نامشروع اړيکې درلودې پرده پورته کړه، د دې دواړو حوزو امرينو دا کيسه دمياشتو او کلونو کيسه وه، خو يک تلوېزيون يوازې هغه راپور ترلاسه کړى و، چې يو آمر پر بل آمر عمليات تر سره کړي وو او په نتيجه کې د ښځې پښه زيانمنه شوې وه، هغه خبر داسې وو:

د کابل د درېيمې او ديارلسمې امنيتي حوزو د امرينو ترمنځ د يوې ښځې پرسر جنجال رامنځته شو.

دا پېښه هغه وخت رامنځته شوه، چې د دریېمې امنیتي حوزې آمر د یوې موضوع پر سر له یوې مېرمنې د هم بستره کېدو غوښتنه کړې وه او نامشروع اړیکې یې ورسره ټینګې کړې وې، د شواهدو پر بنسټ کله چې د دریېمې امنیتي حوزې امر راپور ترلاسه کوي، چې هغه مېرمن د دیارلسمې امنیتي حوزې د آمر سره په یوه اپارتمان کې یوځای شوې ده. د دریېمې امنیتي حوزې آمر پر اپارتمان عملیات کوي، چې په پایله کې مېرمن له اپارتمان نه ځان غورځوي او پښه یې زیانمنه‌یږي.

د دریېمې حوزې آمر دا پېښه ردوي او دا افترا بولي، خو د دیارلسمې حوزې آمر له خبرو ډډه کوي.

په دې خبر کې یک تلوېزیون هغه مکتوبونه هم د تلوېزیون پر پرده ښيي، چې د پولیسو په آمریت کې د دې ښځې په اړه تبادله شوي او آن د کابل تر امنیې قوماندانی هم رسېدلي وو.

دا خبر دومره په زړه پورې و، چې ما تر پایه تعقیب کړ، چې د پولیسو د یونیفورم نه چې د خلکو د پت او عزت ساتنې سمبول دی، څنګه ناوړه ګټه اخیستل کیږی، که څه هم دا خبر لا هم بشپړ نه دی، لا پلټنو ته اړتیا لري او کېدای شي، نور تعقیبي خبرونه هم وزېږوي، ځکه د ډېرو خواوو نظرونه پکې نه و، خو په یاد ولرئ چې دغسې خبرونه که څه هم د موضوع له پلوه ډېر جدي نه دي خو د په زړه پورې کیسې په درلودلو د خلکو پام ځانته اړوي ځکه چې د پټو رازونو څېړل په طبیعي ډول د هر چا خوښیږي.

## سیمه ییز خبر:

هغه خبر ته ویل کیږي، چې یوازې د یوې سیمې خلک ترې اغېزمن کیږي، که د نورو سیمو خلک یې واوري یا وګوري، هغسې ترې نه اغېزمن کیږی، چې د هماغې سیمې خلک ترې اغېزمن شوی وي.

د بېلګې په ډول:

په خوګیانو ولسوالی کې د ړلی له امله د خلکو شته فصلونه له منځه تللي دي

تېره شپه د ننګرهار ولایت لویدیځ ته د خوګیاڼو ولسوالی شنه فصلونه د تېزې ږلی له امله له منځه تللي او کروندګرو ته مالي زیانونه اوښتي دي.

د خوګیاڼو یو تن بزګر ... وویل: تېره شپه اسمان په غورېدو شو، لومړی باران وشو او بیا شدیده ږلی وورېده، چې له امله یې زموږ د کوکنارو، شولو، غنمو او مېوو شنه فصلونه ټول تباه شول...

د خوګیاڼو ولسوال ... بزګرو ته د اوښتي زیان پخلی کوي او وایي: بزګران له دولت نه د مرستې غوښتنه کوي...

کولای شئ خبر ته ادامه ورکړئ او نور جزیات یې هم ورانديې کړئ، خو په یاد ولرئ، چې د دې خبر مستقیم اغیز د خوګیاڼو پر سیمه پرېوځي.

د نورو سیمو یا ولایتونو خلکو باندې له خواخوږۍ پرته بل خاص اغېز نه لري، دا ډول خبرونه سیمه ییزې رسنۍ ډېر خپروي.

## ملي خبر:

د دې ډول خبر اغیز د هېواد په کچه وي، یعنې داسې موضوعات رانغاړي، چې د افغانستان ټولو خلکو ته یو ډول وي یا لږ تر لږه ډېرو خلکو باندې منفي او یا هم مثبت اغېز ولري، دغسې پېښې هم منفي او هم مثبت کېدای شي، لکه:

د افغانستان ولسي جرګې د ۱۳۹۴ کال ملي بودیجه تصویب کړه.

یا د جمهوري ریاست له څلورو کاندیدانو څخه دوه تنه یې یو د بل په ګټه تېر شول.

یا دا چې افغان ولسمشر د الکترونیکي تذکرو قانون توشیح نه کړ

یا د مخابراتو وزارت د هېواد په۳۴ ولایتونو کې د نوري فایبر دستګاه فعاله کړه او دې ته ورته نور موضوعات چې هر یوه یې د خبر لیکنې د اصولو له مخې په تفصیل لیکل کېدلای شي.

## نړیوال خبر:

دا هغه خبرونه دي، چې دننه په هېواد او یا هم په نورو هېوادونو کې پېښ شوې وي، خو اغېز یې منحصر د یو هېواد پر خلکو نه وي یا لږ تر لږه د نړۍ خلکو ته په زړه پورې وي او هغوی اغېزمن کړي. معنی دا چې نړیوال ارزښت ولري لکه:

د امریکې ولسمشر پر خپلې نړیوالې پالیسی له سره غور کوي

یا دا چې:

ملګري ملتونه داسې طرحه تصویب کړه، چې له مخې به یې په نړیواله کچه د بېوزلۍ مخه نیول کېدلای شي. یا په جاګارتا کې د زلزلې له امله شل زره کورونه ونړېدل.

په یاد ولرئ، د بل هېواد هر خبر نړیوال نه وي، هغه خبر ته نړیوال ویل کېږي، چې نړیوال ارزښت ولري.

کله کله په خبري سرویسونو کې داسې خبرونو ته نړیوال ویل کېږي، چې اصلاً نړیوال نه وي، د بل هېواد ملي یا سیمه ییز خبر وي خو ماډریتران په غلطۍ هغه نړیوال بولي، کېدای شي، دغسې خبرونو ته چې نړیوال ارزښت ونه لري، بهرني خبرونه او یا له هېواده بهر خبرونه ووایو لکه:

د پاکستان پیپل ګوند صوبایي وزیر له خپلې دندې استعفا ورکړه.

یا په کراچۍ کې د ترافیکي پېښې له امله پنځو کسانو ته مرګ ژوبله واوښته.

یا جرمنانو د خپلو حقوقو دغو ښتنې په خاطر مظاهره وکړه.

موږ باید د دغسې خبرونو او نړیوالو خبرونو توپیر وکړو.

## معلوماتي خبر:

دا خبر دوه برخې لري.

د عادي مسایلو په اړه د معلوماتو راټولول

د یوې پېښې تعقیبي معلومات وړاندې کول

که موږ د یوې صنعتي، زراعتي او یا بلې پدیدې په اړه سوږ او یا هم نرم خبر لیکو او خلکو ته پکې معلومات وړاندې کوو، موخه مو د هغې په اړه د خلکو د معلوماتو زیاتول وي، دغسې خبر ته هم معلوماتي خبر وایي لکه:

د کابل سيلو هره ورځ زرګونه سرتېرو ته ډوډۍ پخوي
دغه فابريکه چې ۲۴ ساعته فعاليت کوي، د ورځې (          )
ټنه غنم اوړه کوي، د ماشين الاتو په وسيله وړه لمدوي او
بيا د همدې ماشينونو په واسطه د سيلو ډوډۍ پخوي...
کله کله داسې وي، چې موضوع يوه وي، خو هره ورځ نوې پېښې
زېږوي.
دلته خبريال د موضوع او پېښې د جالبيت پر بنسټ هره ورځ
او ان کله کله هر ساعت نوي معلومات وړاندې کوي.
د بېلګې په ډول په ۱۳۹۰ کال کې د شينوارو د دوو خېلونو
ترمنځ د يوې دښتې پر سر شخړه رامنځته شوه، چې يو کال يې
دوام وکړ.
هره ورځ به نوې پېښې او زيانونه رامنځته کېدل او خبريالان
به په تعقيبي ډول نوي خبرونه ترې جوړول او د اوښتو مالي
او ځاني زيانونو په اړه نوي معلومات خپرول.
يا کله چې پر کابل بانک ځانمرګي بريد کوونکي ورننوتل او
جګړه پيل شوه.
له سهار نه  تر مازيګره يې دوام وکړ، ما په هغه ورځ شپږ
خبرونه ازادۍ راډيو ته ورکړي وو، پېښه يوه وه، خو په
تعقيبي ډول نوي معلومات مې ترلاسه کول او خلکو ته مې
وړاندې کول.

## ناڅاپي خبر:

دا هم د خبر يو ډول دی چې په رسنيو کې وړاندې کېږي
په دې ډول خبرونو کې ټول هغه موضوعات او پېښې رانغاړل
کېږي، چې د توقع خلاف وي.
د ځينو پېښو په باب خلک له پخوا نه ذهني چمتووالی لري، که
د جګړې پرمهال چاودنې کېږي او يا هم بمبار کېږي، دا
ناڅاپي خبر نه دی، ځکه چې معمولاً په جګړو کې داسې پېښېږي.

او يا هم يو ولسمشر د يو پلان او برنامې له مخې بل هېواد ته سفر کوي، هم ناڅاپي نه وي، خو که پرته له پلان او مخکې اعلان شوې برنامې ، ناڅاپه يوځای ته ځي، ناڅاپي خبر دی.

بېلګه: د امريکې ولسمشر بارک اوباما په ناڅاپي سفر افغانستان ته راغی،

نوموړی په بګرام کې د خپلو سرتېرو سره خبرې وکړې او پرته له دی، چې افغان ولسمشر سره ورګوي، بېرته واشنګټن ته ستون شو...

## د اټکل وړ خبر:

ځينې داسې پېښې هم وي، چې اټکل يې کېدلای شي، لکه د هوا حالاتو اټکل، يا د پسرلي په موسم کې د سېلابونو راوتل، يا د ځينو طبيعي پېښو لکه زلزلې د نورو ټکانونو اټکل:

لکه: د هوا پېژندنې ادارې اټکل کوي، چې د پنجشنبې په ورځ به په سالنګونو کې ډېره واوره وشي او له امله به يې د سالنګونو لاره تړلې وي...

## توضيحي خبر:

دا هغه خبر ته ويل کېږي، چې د يو سياسي يا حقيقي شخص خبرې مبهمې خپرې شي، يا تحريف شي او يا هم بل ډول وانګېرل شي، هغه شخص مطبوعاتي کنفرانس ورکړي او يا د هغې خبرې وضاحت وکړي.

د بېلګې په ډول: د ننګرهار والي د پاکستان په اړه خپلې خبرې توضيح کړې.

ننګرهار والي... چې تېره ورځ يې د دوربابا قومي مشرانو سره خبرې کولې، ويلي وو، چې دوی نور دې ته اړ شوي، چې پاکستاني کارګران له ننګرهاره وباسي.

د والي دې خبرو د پاکستان سخت غبرګون وپاراوه او دغسې څرګندونې يې د دواړو هېوادونو په زيان وبللې، خو ننګرهار والي د خپلو خبرو چې تېره ورځ يې قومي مشرانو ته کړې وه، وضاحت وکړ، ده وويل: رسنيو د ده په خبرو کې تحريف کړی دی.

ده زیاته کړه، په پاکستان کې افغان کارګران په ډول ډول پلمو ځورول کېږي، کار ته نه پرېښودل کېږي، زنداني کېږي او وروسته له ډیورنډ کرښې افغانستان لوري ته اړول کېږی، ده وویل: زما هدف دا و، چې پاکستان باید د افغان کارګرانو لپاره ستونزې جوړې نه کړي، که نه موږ هم کولای شو، هغه سلګونه پاکستاني کارګران، چې په ننګرهار کې کار کوي، له ننګرهاره وباسو...

له دغسې خبرونو نه موخه د شویو خبرو، ابهاماتو،او تحریفاتو واضح کول وي.

## تائیدي او تردیدي خبر:

هغه خبر ته ویل کېږي، چې کله د دوو سیاسي ډلو د یوځای کېدو یا ایتلاف نه د وتو راپورونه ورکړل شي، مسوولین خپل دریځ څرګندوي یا یې تائیدوي او یا هم که دروغ وي ردوي یې، که تائید یې کړي تائید ي او که رد یې کړي، تردیدي خبر بلل کېږي.

کله کله په ځینو سیاسي او مطرحو شخصیتونو او ادارو تورونه هم پورې کېږي، چې وروسته د مسوولینو لخوا ردېږی، دا هم تردیدي خبر ګڼل کېږي.

کله کله د یوې ادارې د اجراتو، یا د ځینو سیاسي شخصیتونو یا هېوادونو ترمنځ، تفاهمنامې لاسلیک کېږي، خو جزیات یې نه وي څرګند، یا پټ سفرونه او لیدنې کتنې ترسره شوې وي، چې وروسته د پټو سرچینو لخوا افشاء کېږي، رسنیو ته راوځي او د مسوولینو لخوا تائیدېږي یا ردېږي، که تائید شول، تائید ي خبر او که رد شول تردیدي خبر ګڼل کېږی، لکه راپورونه وايي، چې ولسمشر غني د پاکستان سره د ډیورنډ کرښې په اړه خبرې پیل کړي دي...

خو د ولسمشرۍ ویاند... دغه ډول راپورونه بې بنسټه بولي او ردوي یې.

## تشریفاتي خبر:

دا هغه ډول خبرونه وي، چې د هرم ډوله سبک له مخې لیکل کېږي او د لوړپوړو چارواکو کړنې د کیسې په ډول خپرېږي.

د خبر په چوکاټ کې وي، خو یو طرفه وي، موقفونو ته ارزښت ورکول کېږي، نه خبري ارزښت ته.

په ملي رسنیو کې اکثراً دغسې خبرونه وي، مثلاً که د شپږ ملیون ډالرو په ارزښت یو مهم بند افتتاح شوی وي او په هغې کې والي یا وزیر برخه اخیستې وي. د دې پرځای چې د خبر لیډ د شپږ میلیون ډالرو په رقم پیل شي، په والي یا وزیر پیلېږي.

لکه؛ د کرنې وزیر ... د ... والي ... سره وکتل.

په دې کتنه کې چې فلانی، فلانی هم برخه اخیستې وه.

وزیر .... خبرې وکړې، ویې ویل: نن په جلال آباد کې د اوبو لګولو یو بند پرانست، چې د جاپان هېواد لخوا پرې شپږ میلونه ډالره لګښت شوی و...

خو په ازادو رسنیو کې د خبر لیډ د سرچپه هرم ډوله سبک له مخې جوړېږي.

بېلګه:

په ننګرهار کې د شپږ ملیون ډالرو په لګښت د اوبو لګولو بند جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

دا بند چې پنځه زره جریبه ځمکه خړوبوي، د جاپان هېواد په مالي مرسته د یوه کال په موده کې جوړ شوی دی.

د کرنې وزیر... د دې بند په پرانستغونډه کې د ننګرهار خلکو ته ډاډ ورکړ، چې په راتلونکې به هم دې ته ورته بندونه جوړ کړي...

ننګرهار والي... د جاپان هېواد له مرستو مننه وکړه...

او په دې ډول خبر بشپړېږي.

## تبلیغاتي خبر:

دا هغه ډول خبر دی، چې سیاسي ډلې، سازمانونه یا حاکم نظام د دغسې خبرونو په خپرولو سره غواړي، د ټولنې عامه ذهنیت د ځان په ګټه واړوي.
په دې ډول خبر کې له مبالغې نه کار اخیستل کېږي او د تشریفاتي خبر په څېر موقفونه غوړ غوړ پکې یادېږي.
که څه هم چې ژورنالېزم ریالیزم دی او مبالغه نه مني، خو، کله کله سیاسي ډلې او سازمانونه دا کارد سیاسي ګټو او پر نظام یا سیاسي ډلې د خلکو د باوري کولو په موخه ترسره کوي، چې دا د پروپاګندا یوه برخه ګڼلی شو. د پروپاګندا بحث جلا بحث دی.
د موضوع د لنډون په خاطر ترې تېرېږم.
کله کله د یوې موضوع د تبلیغولو او د خلکو توجه اړولو لپاره هم دغسې خبرونه لیکل کېږي، دغسې خبرونه اکثراً په ټولنیزو رسنیو ،دولتي ،ګوندي او تنظیمي رسنیو کې خپرېږي، ازادې رسنۍ له دې ډول خبرونو ډډه کوي، که خپاره یې هم کړي، په پای کې یوه ننګونه هم ورکوي، چې چلینج یې بولي.
بېلګه:
د عامې روغتیا وزارت وایي، چې د ۱۳۹۵ کال تر پایه به زموږ هېڅ هېوادوال اړ نه وي، چې بهرنیو هېوادونو ته د درملنې لپاره سفرونه وکړي.
د عامې روغتیا وزیر... وایي، داسې روغتیایي خدمات به وړاندې کړي، چې د سیمې هېوادونو په کچه به ساری ونه لري...
دولتي رسنۍ دا خبر همداسې خپروي، خو که ازاده رسنۍ دا خبر خپروي، شایي له دغسې ننګوونې سره یې مل خپور کړي.
خو خلک وایي، په تېرو دیارلسو کلونو کې دغه وزارت په دې ونه توانېده، چې لږ تر لږه معیاري روغتون جوړ کړي، نو دغسې خدمات به څنګه وړاندې کړي، وخت به دا ثابته کړي، چې دغه وزارت به په رشتیا خپله ژمنه پوره کړي او که نه؟

## د تخنیکي وسایلو له مخې د خبر ډولونه:

د تخنیکي وسایلو له مخې خبر په څلورو ډولونو ویشل کېږي.

۱: تلوېزیوني خبر ۲: رادیویي خبر ۳: چاپي خبر

د انټرنېټي سایټونو خبر:

## تلوېزیوني خبر:

په تلوېزیوني خبر کې سرلیک بشپړه جمله نه وي، بلکې د یو عبارت په بڼه وي، چې اشتهاري بڼه لري. تلوسه ولري اود خبر مهمه برخه وي.

لکه: په سره رود ولسوالۍ کې د تصفیوي عملیاتو پیلېدل...

دغه راز په تلوېزیوني خبر کې تصویر ډېر مهم دی، یعنې د تلوېزیون په خبري سرویس کې بې تصویره خبر باید نه وي. که د پېښې وېډیو نه وي، کېدای شي له ارشیف نه ګټه واخیستل شي.

پرمختللي تلوېزیونونه داسې هم کوي، چې د کومې پېښې وېډیو تر لاسه نه کړای شي، د پېښې په تړاو کارټون جوړوي، لکه د غزني کندهار په لویه لاره کې چې ۴۰ تنه مساپروتښتول شول، طلوع تلوېزیون د پېښې کارټون جوړ کړ او په خبر کې تري ګټه واخیسته، دا کار خبر ډېر جالبه کوي او د راډیویي خبر سره یې توپیروي.

## ۲: راډیویي خبر:

په دې ډول خبر کې له غږونو نه استفاده کېږي، د راډیو خبریالان هڅه کوي، چې د پېښې له غږونو په ګټې اخیستنې خبر په زړه پورې کړي، مثلاً د جګړې خبر کې د ډزو غږونه، د اورلګېدنې په پېښه کې د اطفایې غږونه.

دغه راز په راډیویي او تلوېزیوني خبرونو کې هڅه کېږي، چې اوږدې جملې ونه کارول شي، ساده او مانوسو کلماتو نه استفاده وشي، په ساده او عام فهمه ژبه خبر وړاندې شي.

## ۳: چاپي خبر:

په دې ډول خبر کې د لیک نښو مراعاتول، ګرامري قواعد په پام کې نیول او تفصیل یې ځانګړنه ده، ځکه د اخبار لوستونکي د فکر کولو او پوهېدو لپاره کافي وخت لري، خو په راډیو او تلوېزیون کې دا وخت محدود وي، د همدې لپاره په راډیو او تلوېزیون کې د خبرونو سرټکي یا لنډ خبرونه بیا بیا تکرارېږي.

## انلاین خبر:

په دې ډول خبرونو کې ذکر شوې سپارښتنې ټولې په نظر کې نیول کېږي، ځکه چې هم لیکل پکې وي، هم عکسونه او هم وېډیوګانو نه پکې ګټه اخیستل کېږي.
د انلاین او چاپي رسنیو په خبرونو کې طبق معمول سرلیک بشپړه جمله وي، چې د خبر شیره یې هم بولي، تلوسه زېږونه او اشتهاري بودن یې بل صفت دي.

## رپوټ:

رپوټ انګلیسي کلمه ده، ګزارش ته وایي، دا ژانر د خبر تفصیلي بڼې ته وایي.
په رپوټ کې نقل قولونه او د پېښې په تړاو د ټولو اړخونو نظرونه موجود وي، په رپوټ کې د خلکو د نظرونو برخه کټ مټ اخیتسل کېږي. د لنډون په موخه له یادونې یې تېرېږم. ځکه د خبر په ژانر کې مې په ټولو ډولونو په تفصیل بحث کړی او بېلګې مې هم وړاندې کړي دي.
د اوږد خبر سره یې توپیر په دې کې دی، چې په رپوټ کې خبریال د خبر په نسبت خلاص لاس لري او کولای شي، د یو چا د نظر له څو برخو نه ګټه واخلي، خو په خبر کې دا چاره محدوده وي.
خبر کېدای شي، تر یوې یا یوې نیمې دقیقې پورې وخت واخلي، خو رپوټ تر څلورو دقیقو هم غزېدلی شي.

نور نو څه چې په خبر کې مراعاتېږي، په رپوټ کې هم مراعاتېږي، که په لنډ ډول ووايو، رپوټ د خبر نسبتاً پراخ او تفصيلي چوکاټ دی، چې په بېلابېلو غږونو سره مستنده بڼه غوره کوي. رپوټ له خبر نه اوږد او له پکېچ نه لنډ وي.

## د رپوټ بيلګه

د غه رپوټ فرض کړئ، د ټلويزيون يا هم د راډيو لپاره ليکل شوی دی:

## سرليک:

د جلال آبا د- تورخم دوهم لين سرک د کار بيا پيلېدل ......

د مادريتور لپاره سريزه:

د جلال آبا د- تورخم دوهم سړک جوړولو کار چې د تېرو شپږو کلونو راهيسې په ټپه ولاړوو، نن بيا پيل شو.
دغه سړک د پاکستان په مالي مرسته دېوې پاکستانی پوځي کمپنی له لوري جوړېږي چې (۷۰۰) ميليونه کروړه پاکستانی کلداري لګښت پرې کېږي.
په دې اړه پام وکړئ، زموږ د همکار(...) رپوټ ته.

## ليډ:

له شپږ کلن ځنډ او افغان چارواکو مکرروغوښتنو وروسته د جلال آباد تورخم دوهم سړک د جوړولو چارې د فوايد عامې د وزير او پاکستاني سفير له لورې د پټې په پرېکولو سره پيل شوې.

## متن:

د فوايد عامې وزير ... د پټې پرېکولو پر مهال رسنيوته وويل: دا يوازې د ننګرهار سړک نه، بلکې د ټول هېواد او منځنی آسيا لپاره يو ترانزيټي سړک دی، چې د جوړېدو چارې به يې د يوه کال په موده کې پای ته ورسېږي. (د وزير د خبرو کلپ)

د پاکستان سفير .... وويل، پاکستان هوډ لري، چې په افغانستان کې خپلې ټولې نيمګړې پروژې بشپړې کړي، چې دا يې پيل دی .(د سفير کلپ)

د جلال آبا د- تورخم موټر چلونکي د سړک جوړونې چارو په بيا پيلېدو خوښ دي، خو لا هم اندېښمن دي، چې کيداى شي د سياسي ملحوظاتو له امله يې چارې بيا ودريږي.

(ددوو تنو ډريورانو لنډ لنډ کلپونه)

د فوايد عامې چارواکي وايي، دغه سړک (۱۷۰) کيلومتره اوږدوالى (۸) متره سور او دواړو خواوو ته يې (۲) شولډر لري، چې د چارو په بشپړېدو سره په دې لاره کې به د مسافرو تګ راتګ او ترافيکي پېښو ستونزه هواره شي.

## پای:

خوداچې داخل به دا سړک په بشپړ ډول جوړ شي او که نه، وخت به ورته ځواب ووايي.

يادونه:

په ياد ولرئ، که په دې رپوټ کې تخنيکي جزيات نه وي څرګند شوي، هغه به په کلپونو کې روښانه شوي وي.

دې ته مو پام وي چې کلپ ټاکی، هغه برخه يې استعمال کړئ چې ستاسو په متن کې نه وي، که چيري ستاسې متن او کليپ يو ډول وي، له يوي خوا د وخت ضايع ده، له بله پلوه تکراري خبرې ستاسو رپوټ بې خونده کوي.

دغه راز دې ته مو هم پام وي، چې ستاسو کليپونه له يوي دقيقې نه کم وي، کيداى شي (30)، (40) ثانيې کليپ وټاکئ، په استثنايي حالاتو کې تر يوې د قيقې هم کلپ ټاکلی شئ.

## Interview (مرکه):

په انګليسي ژبه کې ورته انټرويو وايې،په لغت کې ګډې ناستې ،خبرواترواو اکاړې ته وايې،په اصطلاح کې هغه ژورنالستيک ژانر دی،چې د هدف د ترلاسه کولو په موخه د هدف وړ تن سره د پوښتنو او ځوابونو په حالت کې ترسره کېږي.

مانا داچې ژورنالستيکه مرکه د يوه ډاکلي هدف په اړه معلومات ترلاسه کولو،سوال او ځواب ،ډيالوګ او تفاهم ته وايي.
کيداى شي چې دغه سوال او ځواب او تفاهم د يو کس او يا له ډيرو کسانو سره وي.
له عادي خبرواترو او سوال او ځواب سره يې توپير په دې کې دى ،چې په ژورنالستيکه مرکه کې هدف مشخص وي خو په ورځينو خبرواترو کې هدف مشخص نه وي،دا په دې مانا چې ژورنالستيکه مرکه هدفمنده او منظم سوال او ځواب وي چې د يوې مشخصې موضوع په اړه ترسره کيږي.
مرکه هم مختلف ډولونه لري دبيلګې په ډول: تلويزيوني مرکه، راډيوي مرکه، لايف مرکه، ثبتي مرکه،ټيلفوني مرکه،د سکايپ له لارې مرکه، خبري مرکه ،سياسي مرکه، د اقتصادي مرکه ،روغتيايې مرکه،ځانګړې مرکه،معلوماتي مرکه......او داسې نور چې هر يوه يې خپلې ځانګړنې لري.

## ۱.تلويزوني مرکه:

هغې مرکې ته وايي چې د تلويزيون له لارې خپريږي،په دغسې مرکو کې ځاى،دغږ خوندېتوب ،شا ځمکه په پام کې نيول ــــ نور،سيورى، لمر، ورېځ، بکرونډ، زمان او مکان په پام کې نيول اړين وي.
په دغسې مرکو کې د غږ کيفيت سره د تصوير کيفيت اومنظرې ته هم جدې پاملرنه کيږي،ذکر شوي موارد په خاصو حالاتوکې په پام کې نيول کيږي.

## ۲.راډيويي مرکه:

په دې ډول مرکو کې يواځې د غږ کيفيت په نظر کې نيول کيږي،په داسې ځاى کې مرکه ترسره کيږي چې غږ خوندي وي،د بيلګې په توګه که مونږ غواړو مرکه انځوريزه بڼه غوره کړو،لوکېشن يا موقعيت ته پاملرنه په کار ده،د بيلګې په ډول که مونږ د يو بزګر سره مرکه کوو،په داسې يوځاې کې يې بايد وکړو چې د قلبې دغوايانو او زنګونو شور او غږونه

وي، اويا كه د كوم شپونكي سره مركه كوو د رمې او جرس غږونه وي ،زمونږ مركه مستند او په زړه پورې كوي،كه مونږ د بزكر او شپونكي سره د كوټې په كونج كې مركه وكړو،وچه مركه راځي چې خلك به يې ډېر خوښ نه كړي. يعني په راډيوي مركه كې بايد هڅه وشي چې مستند سازي وشي.

### ۳. اخباري مركه:

په دغسې مركه كې يواځې يادداشت اخيستل كافي دي،او يا كه ثبتيږي د غږ كيفيت هم مهم نه وي،دغسې مركې په تصويرونو مستند كيداي شي اوهم كله كله په الفاظود مركې تصويروړاندي كول مركه خوندوره كوي.

### ۴. لايف يا ژوندۍ مركه:

دا ډول مركې د معمول په څېر باتجربه ژورنالېستان پرمخ بيايي چې په موضوع حاكميت ولري ،دالفاظو او كليماتو ښه ذخيره ولري، اخلاقي جرءت ولري ،د تخنيكي وسايلوميك ،كمرې.... سره آشنايي ولري ،دستونزې د رامنځته كېدو پرمهال د مركې كنترول اويا هم ليدونكو او اوريدونكو د بوختولو توانايي ولري. مبتدي ژورناليستان بايد له لايف مركونه ډډه وكړي.

### ۵.ثبتي مركه:

دغسې مركې دمعمول په څېر مبتدي ژورنالستان هم كولاى شي،مخكې له مخكې په يوې مشخصې موضوع تمرين كوى،پوښتنې يادداشت كوئ او د مركې پرمهال له خبرو بايد ضمنې پوښتنې هم وكړئ. دغسې مركې طبق معمول په راډيو او تلويزيون كې وي او داخبار لپاره ټولې مركې ثبتي بڼه لري.

### ۶.تيليفوني مركه:

داډول مركه د اړتيا پرمهال ترسره كېږي،ژورنالستان بايد تل هڅه وكړي چې د مركه كوونكي ځاي ته لاړ شي او مركه وكړي ځكه چاپيريال پر مركې خپل اغيز لري ،خو د وخت د كموالي ،خبر د بشپړولو او يا ګردي مېزونود تنوع لپاره تيليفوني

مرکي ترسره کیږي ،یا هغه مهال دا ډول مرکه ترسره کیږي چې خبریال نه شي کولای چې د وخت د کموالي یا د وخت د نشتوالي اویا هم فاصلې دزیاتوالي له امله سیمې ته لاړشي ،په دې ډول مرکه کې د مرکې اخلاق باید مراعات شي،خبریال باید لومړی ځان مرکه کیدونکي ته وروپیژني،موضوع ورسره شریکه کړي،خپله رسنۍ ورته معرفي کړي او دا ورته ووایي چې ستاسې غږ ثبتیږي،د مرکه کیدونکي شخص له اجازې وروسته ترسره کیږي .

## ۷.د سکایپ له لارې مرکه:

نننۍ تکنالوژۍ فاصلې لنډې کړي، وختونه یې سپمولي، د انټرنیټ او کمپیوټر د سکرین له لارې خبرې اترې په داسې ډول ترسره کیږي چې خبریال او مرکه کیدونکي یوبل سره ویني،دمرکې ټول ارونه په پام کې نیول کیږي او دسکایپ له لارې مرکه هم ترسره کیدلی شي.

## ۸. خبري مرکه:

دا هغه ډول مرکه ده،چې خبریال د خبر دبشپړولو لپاره د یوې خبري منبع سره مرکه کوي او یواځې دهغه له خبرو نه استفاده کوي ،خبریال له خپلو پوښتنو نه تیریږي ،دا ډول مرکه خبریالان یواځې د خبر د تکمیلولو په موخه ترسره کوي،خوکله کله دېو خبري موضوع په اړه شوې مرکه په مستقل ډول هم خپریدلی شي،دېته هم خبري مرکه وایي.

## ۹.معلوماتي مرکه:

دمرکې داډول هم د اکچو یلتې په توګه کاریږي ،اوهم د بشپړې مرکې په بڼه خپریدلی شي ،موخه یې د یوې ځانګړې موضوع په هکله معلومات اخیستل ،پلټل او وړاندې کول وي.

## ۱۰.ځانګړې مرکه:

دا ډول مرکه د مشخصو حالاتو او اړتیاوو پر بنسټ ترسره کېږي ،یوه حاده موضوع پکې څېړل کېږي.

د ځانګړو خلکو سره د ځانګړو مسایلو د سپړنې ،شننې او معلوماتو په خاطر ترسره کېږي او په ځانګړې بڼه خپرېږي.

## ۱۱.سیاسي مرکه:

دسیاسي خلکو سره د سیاسي مسایلو د څېړنې ،شننې او معلوماتو په خاطر ترسره کېږي.

## ۱۲.اقتصادي مرکه:

د اقتصادي مسایلو په باب د ټولنې د هرې طبقې په ځانګړي ډول داقتصاد دانانو ،دفابریکو خاوندانو او دزیربطو ادارو د مسولینو سره ترسره کېږي.

## ۱۲.روغتیایې مرکه:

د مختلفو ناروغیو په باب د ناروغانو ،ډاکټرانو او روغتیایې چاورله مسولینو سره ترسره کېږي.

## ۱۳.ورزشي مرکه:

د لوبو مختلفو ډولونو په اړه،د لوبو دبریاوو ننکوونو،ستونزو او جریانونو په اړه د اړوندو لوبغاړو ،لوب څارو او دلوبې مینه والواو مسولینو سره ترسره کېږي.

د موضوع له مخې د ژوند هر اړخ د مرکې یو ډول کیدلی شي ،د موضوع دلنډون په خاطر به د مرکې په ډولونو کې پر همدې بسنه وکړو.

## د مرکې پړاوونه:

هره مرکه درې پړاوه لري.

۱.له مرکې وړاندې پړاو

۲.د مرکې پړاو

۳.له مرکې وروسته پړاو

۱. له مرکې وړاندې پړاو:

په دې پړاو کې دغه ټکي باید په پام کې ونیسو.

موضوع وټاکو

د مرکې لپاره شخص مشخص کړو
د مرکې له کېدونکي سره اړيکه ټينګه کړو،دپوښتنو لست يادداشت کړو
وخت ترې واخلو اوپه خپل هدف يې وپوهوو
خپل وسايل چک او چمتو کړو مثلا ميک،بطرۍ،دثبت ماشين ،کمره او داسې نور د ضرورت وړ شيان لکه لايت .... ورته برابر کړو .
مرکه کېدونکي سره لومړني معلو ما تې خبرې او پيژندګلوي وکړو

## ۲.د مرکې پړاو:

د مرکه کيدونکي خواته له ټاکلي وخت نه لس دقيقې وړاندې لاړ شو
دصميميت فضاء رامنځته او د پيژندګلوۍ پړاو ترسره کړو.
آسانې پوښتنې په سرکې او سختې پوښتنې په پاى کې وکړو
کوښښ وکړو چې دمرکې پرمهال مرکه کيدونکي ته مخامخ وګورو او په رواني ډول هم يو د بل له خبرو څه واخلواو ځان عيار کړو.
په پاى کې د هغه پيغام واخلو او له هغه څخه مننه وکړو.
دهغه تيليفون شميره ،ايميل آدرس ،بزنس کارت،او دکارکولو د ځاي پته واخلو.
که مرکه کيدونکى بهرنى وي دهغه نوم د همغه په قلم پرې وليکو او سپل يې سم وليکو. دا کار تاسو سره مرسته کوي چې دقيق اوصحيح او داړتيا پرمهال اضافې معلومات هم ترې ترلاسه کړئ.

## ۳.له مرکې وروسته پړاو:

مرکه ايډيټ کړو ،که ټوخيدلي يو،ياکوم ځاى کې غلط شوي يو هغه سم کړو.
دمرکې لپاره سريزه چمتو کړو په سريزه کې د مرکې اړتيا بايد روښانه شي.

که اړتیا وي ځیني غږونه پکې واچوو او یا هم د مستند سازۍ لپاره اضافي شیان پکې زیات کړو.
نشر ته یې اماده او مسولینوته یې وسپارو
له نشر نه یې ډاډ ترلاسه کړو ،بیایې واورو،وې ارزوو او په راتلونکي کې خپلې نیمګړتیاوې پکې پوره کړو.
د مرکې پر ژانر کتابونه لیکل کیدلی شي او لیکل شوي هم دي ،د نچوړ لپاره به همدومره بس وي.
د مرکې پرمهال دغه ټکي په پام کې ونیسئ:
که مرکه تلویزوني وي، داسې ځای ورته وټاکئ چې بګرونډ مو تیاره یا آسماني رنګه وي،داسې فیشني شیان مه استعمالوئ چې شور ولري لکه د مېرمنو لپاره پاولی اویاهم داسې لباس مه اغوندئ چې نور منعکس کړي.
که د میرمنو سره مرکه کوئ،سپارښتنه ورته وکړئ چې داسې زیورات وانه غوندي چې شورماشور جوړ کړي.که مرکه هنري وي،باک نه لري.
هڅه وکړئ چې د ثبت وسیله یو ځل چک کړئ،کله کله داسې هم پېښیږي چې خبریال مرکه خلاصه کړي ،هغه ثبت شوې نه وي ،دا ډول تېروتنه ستاسو مسلکي وقار ټیټوي.
که مو له چا سره مرکه وکړه او هغه پیښیمانه شو ،وې ویل چې زه نه غواړم زما مرکه خپره شي ، تاسې حق نه لرۍ هغه مرکه خپره کړۍ ،کیدای شي د مرکې په خپرېدو دهغه ژوند د خطر سره مخ شي.

## دخبریال د سترګو لیدلی حال: (fooc)

په نوي ژورنالیزم کې په داسې ژانر هم کار شوی چې د خبر له پولو اوړي،ځینې راډیوګانې لکه (B.B.C) دا ژانر کله کله کاروي .
په انګلېسي کې ورته fooc وایي دا دخبریال دسترګو لیدلی حال دېوي په زړه پورې او بوړنوونکې پېښې کیسه کوي، داکیسه په داسې انداز کې کېږي چې نه خبر وي نه مرکه، نه رپوټ، نه پکېج، نه فیچر، بلکې د پېښې له پېښېدو وروسته خبریال د

خپلو سترګو لیدلی حال بیانوي ،چې اوریدونکو لپاره په زړه پورې وي لکه د عدلیې پروزارت چې ځان مرګی برید شوی وو، د (B.B.C) خبریال هماغه مهال په هغې ودانۍ کې وو له خبر او رپوټ وروسته ،خبریال خپل د سترګو لیدلی حال لیکلی و ،پیښه یې داسې انځور کړې وه چې کله برید ګر ودانۍ ته ننوتل ،هر چا مرګ څنګه په خپلو سترګو لیده،دا مهال د مامورینو څه حال او احساس وو،دوی څنګه وکولای شول چې له ودانۍ ووځي، دا کیسه د یو اورېدونکي په توګه زما دومره خوښه شوه، چې زړه مې غوښت بیا بیا یې واورم ،ما فکر کاوه چې هرڅه زه پخپلو سترګو ګورم . د خلکو احساسات ګورم،دمرګ ویره محسوسوم.
خو خبریال دهر څه په باب د سترګو لیدلی حال نه بیانوي بلکې داسې پېښې چې په اوریدونکو کې داوریدو تلوسه زیږوي د (B.B.C) د راډیو د خبریال دسترګو لیدلي حال بله کیسه ، د برما دمسلمانو ـــ روهنګیانو وه، په دې وروستیو کې په ټولیزو رسنیو کې ډیر بوږنونکي تصویرونه خپریدل چې د ټولو مسلمانانو احساسات یې پارول،په دې برخه کې له مبالغې نه ډیر کار اخیستل کیده،د (B.B.C) خبریال چې برما ته تللی و ، کیسه کوله چې روهنګیان په برماکې څه ډول ژوند لري،دوی د څومره ستونزو سره مخ دي،او کله چې د کشتیو په واسطه له برما څخه نورو هېوادونوته دوی تبعیدېږي، په سمندرکې د څه ډول ستونزو او ان دمرګ سره مخ کېږي،دا یوه کیسه وه ،خو ژورنالیستیکه کیسه.
که څه هم کیسه پخپله ادبې ژانر دی،خو په ادبي کیسه کې خیال ،مبالغه،منظر کشي اود دمبالغې احتمال موجودوي مګر په ژورنالیستیکه کیسه کې ددروغ او مبالغې امکان نشته،خبریال هغه څه وایي چې رښتیا پرې تېر شوي وي لکه یو څوک چې د خپل تیر ژوند خاطره چاته بیانوي،ادبي کیسې تر ډیره خیالي بڼه لري خو ژورنالیستیکه کیسه واقعي. لومړۍ بېلګه:
د خبریال د سترګو لیدلی حال داسې څه دي، چې د خبر له پولو اوړي، دلته خبریال د وخت، سرچینو او ډېرو چوکاټونو تابع

نه وي، د افغانستان په ختیځ کې د داعش څپلې سیمې په تړاو
د بي بي سي د خبریال سید عبدالله نظامي د سترګو لیدلی حال
تاسې ته په بېلګه کې وړاندې کوو:
اوازې چې غوښتل مې ویې سپړم




له کابله مو چې سهار سفر پیل کړ فلم اخیستونکي عطاء الله او موټر چلونکي نذیر سره مې د ډاډ خبرې غځولې.

په افغانستان کې خلک له جګړه ییز حالت سره نا اشنا نه دي، خو وخت پر وخت د جګړې بڼې بدلېږي. دا اوس د دغه هېواد په ختیځو څنډو کې د ''اسلامي دولت'' نومې ډلې یا ''داعش'' حضور د خلکو په زړونو کې د جګړې د یوې بلې څپې وېره راپورته کړې ده.

دغه جنګیالي تر ډېره په ننګرهار کې واکمن دي، هلته چې له پخوا د طالبانو او حکومت مخالف نورې ډلې وې. په وروستیو کې د کابل ننګرهار لاره هم له ډېرو ننګونو سره مخ ده. د بي بي سي خبریال سید عبدالله نظامي د ننګرهار شینوارو ته ورغلی او د خپلو سترګو لیدلي حال راته وایي.

ماته د جګړه ییزو سیمو سفرونه نوي نه و خو تګ داسې سیمې ته و چې نوې اوازې او د جګړې بله بڼه په کې انځور وه. له کابله مو چې سهار سفر پیل کړ فلم اخیستونکي عطاء الله او موټر چلونکي نذیر سره مې د ډاډ خبرې غځولې. هغوي هر یوه

راتـه د تـوکل پـه خداي سرښوراوه خو د سترګو پـه کـونـجونــو کــې مو یـو بـل تـه کـتل- پـوهېدم چې یـاران مې هومره ډاډمن هـم نــه دي.

د کـابـل جلال ابـاد لارې پـه اړه مــو اورېـــده چـې تـښـتونې او د وسله والـو بـریـدونـه پـکې شته. دا لاره پـه ټرافیکـي پېښـو هـم مشهوره ده ځکه مې د مـاهیپر پـه کږلېچونـو کې موټـر چلونـکي تـه د ا حتیـاط غږ کـاوه ا وچې یـو څه مزل مو وکړ د دوه مــوټـرو د جنګېدو پـېښه مو تر سترګو شوه. موټـرې لـه ډېـره زوره پـه یــوه بـل کې ننـوتـې وې. و مـو ویـل چې یـوه سپـرلـۍ بـه هم پـه کې روغــه نـه وي پـاتې.

ښوونځي او مـاشومـان مو ولـیدل چې د سړک پـه غـــاړه نـاســت و. د همدغه موټـر سپـرلـۍ وې. ټپیـان لـیږدول شوي و خــو امـنیتــي ډار زموږ د موټـر ځغاسته نـه راکمولـه. د کـابـل لـــه وروســتۍ ســیمې سروبي واوښتو. تښتونې ډېـرې پـه تـنګي سیمه کې کېږي. د موټـرو ګڼه ګونـه وه. موټـر چلوونکي تـنـدي تـه ټک ورکړ چې څه نــو لاره بـنده ده خو نـه بخت مو تـور نـه و. د ملي پوځ ســرتېرو اشــاره راتـه وکړه چې ځئ!



سبـا

مو تـکل شینـوارو تـه و. هلته چې د اسلامي دولت نـومې ډلــې پــه اړونـد بـېلا بـېلې اوازې خپرې وې.

دلته وسله والو په افغان ځواکونو برید کړی و. د مرګ ژوبلې کوم څه نه ښکارېدل خو وېره احساسېده. په درې نیمو ساعتونو کې جلال اباد ته ورسېدو. جلال اباد ښار هم د نا امنیو پېښې لرلې. په هماغه ماښام د دې لپاره چې ستړیا مو یو څه پسې واخلو د هوټل په غولي کې ګرځېدم چې د ګلونو یو څه انځورنه واخلم او یوه ګړۍ له کاري چاپیریاله لرې اوسم.
د هوټل یوه کارکونکي غبر راته وکړ، وروره! ډېره بده پېښه وه. ماشوم په کې وژل شوي. خپلې سرچینې مې وغږولې د جلال اباد ښار په خالص فامیلیو کې د بم چاودنې یو قومي مشر له خپل لمسي سره وژلي و او څو نور ټپیان و. همدغه ګړۍ د هغې لارې خبر هم راغي چې موږ پرې راتېر شوي و او په ماښام وسله والو شپږ تنه له موټره ښکته کړي و.
سبا مو تکل شینوارو ته و. هلته چې د اسلامي دولت نومې ډلې په اړوند بېلا بېلې اوازې خپرې وې. زما ډېره لیوالتیا هلته وه. د جلا اباد تورخم په لاره مو تګ و. د غازي امان الله خان مېنه چې کلونه کېږي ودانه شوې او یو ښکلي ځاي دي، ورته پښه نیولې شوم. خلکو راته وویل د دې مېنې اروا الوتې او څوک زړه نه ښه کوي ورته راشي کنه ښکلي کورونه هم ودان شوي. چاپیریال یې خوندور دي. د ګلونو باغچې او ښایسته سړکونه خو دا د شتمنو خلکو کورنه دي. هغوي په کې له وېرې نه شي اوسېدي نو د بې وسه خلکو بخت په کې ویښ شوي او ژوند په کې کوي. دغلته د افغانستان د کرېکټ تر ټولو مشهور لوبغالي هم جوړ دي. د مېنې یوې څنډې ته ورسېدو چې ودانۍ لا بشپړې شوې نه دي خو د کنډرو په کړکیو کې یې دا درک کېده چې څوک په کې مېشت دي.



نور مې جلال اباد پرېښود خو د ښار انځور کې راته مالومېده چې د شينوارو د کيسو سيوري پرې غوړېدلي او هر يو د ماښام له تياري مخکې کورته د تلو لار ګوري.
دغه برخه کې سړکونه هم نه دي جوړ شوي. ماشومان مې په ډاګه د يوه جوړ شوي تناره په غاړو ايبله پښې وليدل. يوې ماشومې نورو ته ډوډۍ ټوټه کوله. دا د اچين ولسوالی د مامندو سيمې هغه کورنۍ وې چې د ''اسلامي دولت'' يا ''داعش'' نومې ډلې له چلنده دلته کډه شوې دي.
په دوي کې مې هغه ۱۳ کلن هم وليده چې پلار يې وسله والو وژلي و او ده ته د کورنۍ ټولې چارې ورترغاړې وې. ځيرک و. ويل يې په دې هم خوښ يم چې دغه کنډر ودانۍ کې مې يو څو شپې پرېږدي ځکه څښتن يې هره ګړۍ راته وايي چې زموږ له کوره وځئ.
هغوي لومړي په موږ فکر وکړ چې ګوندې مرستندويه کارکونکي دي. ځوانانو غږ کړ لږ تم شئ. زموږ مشران درته راځي. موږ د يوه ديوال سيوري ته ولاړو چې يو سپين ږيري سړي، پګړۍ يې تړلې او په مخ کې يې ښکاري چې غم يې ليدلي، راغي. ملک ناموس و. ويل يې:
د ډيورنډ کرښې هاخوا خلک
''اسلامي دولت'' ډله په ډېر هنر زموږ په سيمه کې پيدا شوه. ډېر يې د ډيورنډ له کرښې هاخوا خلک دي. اول يې د ځاي پيدا

کولو لپاره ویل چې موږ مسافر یو. له چاسره کار نه لرو خو څو ورځې وروسته هم هغو مسافرو توري جامې واغوستې او په بیره یې د سیمې د ولکه کولو خواري پیل کړه. د ټوپک شپیلۍ یې د تمې خلاف د طالب جنګیالیو تندي ته ونیوله. جګړه شوه. طالبان چې پوهېده زور یې نه رسي، سیمه یې پرېښوده خو عام وګړي لا پاتې وو. موږ شل تنه حکومت ته راغلو. حالت مو ورته وواېه.

د حکومت ځواب دا و چې پورته شئ، پاڅون وکړئ، موږ درسره یو. خلک پورته شو. وسلې مو نه درلودې هغو ورځو کې. څو بریدونه وشو چې د اسلامي دولت نومې ډلې ځینې مشران پکې ووژل شول. له دې سره بس په هر کور کې د سر سړي په نښه شو او ورته ویل کېده چې تاسو د حکومت جاسوسان یاست. بله لار مو نه وه. کلي کور مو پرېښود.

د ملک ناموس په لاس کې د شنو چاي پیاله لړزېده او له نورو ځوانانو سره یې هلته د یرغمل شویو کلیوالو کیسه کوله. یو سړي یې یاداوه چې وژل شوي. نورو ویل نا لا یې ویډیو نه ده خپره شوې.

ملک ماته مخ واړاوه. هغه سپین ږیري چې داعش په بمونو کینولي تا یې ویډیو لیدلې؟ هغه زما ورور و. د کار او خبرې سړي و. په دې ناسته کې د اوږدې ږیرې یو سړي چې خبرو ته یې وخت نه درلود، ویل یې، د جمعې لمونځ تړې قضا کېږي خو وایي، دومره درته وایم ما د داعش زندان تېر کړي. ډېرې شکنجې دي. موږ له ۳۰ ډېر کسان په یوه خونه کې بندیان وو. د ورځې اته ډوډۍ ټولو ته راوړل کېدې.

په ناستو ځوانانو کې دوه تنه ووتل. څو دقیقې وروسته یې ډوډۍ راوړه خو زما له ستوني نه تېرېده ځکه د تناره په غاړه مې د ماشومانو بې وسي لیدلې وه. دوي نور د غم خبرې بس کړې. ټول په خندا شول. ویل یې، ډوډۍ پیدا کېږي خو کاش خپلې د عزت مېنې مو وي ځکه دا ډېره بده ده چې د کنډر ښتن راځي او وایي ځان ته سرپنا پیدا کړئ.

موږ همدلته له دوي سره مخه ښه وکړه او د شینوارو په لور روان شو چې هلته هم وګورو رېښتیا څه دي. د بټي کوټ یو اوسېدونکي را سره شو، په موټر کې راسره پر همدې دې غږېده. دي له طالبانو زړه خوړیني و نو ځکه یې نظر ''اسلامي دولت'' نومې ډلې ته ورکوړ و، ویلې د طالبانو د ورکولو ښه درمل دي.
ومې پوښت چې هلته رېښتیا ''اسلامي دولت'' ډلې خلکو ته ویلي که څوک کونډه په کور کې ولري، پر مېنه دې بیرغ ولګوي او یا هم ښځې له کوره د باندې کروندو ته نه شي تللي؟ سړي ویل هو خو که اسلامي شریعت غواړئ نو خو باید همداسې وشي. ډېرې خبرې یوازې اوازې دي خو دا سمه ده. د باندې د ښځو ګرځېدل منع شوي او د شینوارو قوم ځینې دودونه هم ننګول شوي.



د

اچین یوې سیمې ته ورسېدو. د جوارو له ولاړو کروندو وړره راوتله ځکه پخوا هم له دغو کروندو جنګیالیو چرکي بریدونه کړي وو.

د اچین یوې سیمې ته ورسېدو. د جوارو له ولاړو کروندو وړره راوتله ځکه پخوا هم له دغو کروندو جنګیالیو چرکي بریدونه کړي وو. په تېرو کلونو امریکایي پوځیانو د جوارو کرل بند کړي و. هره خوا چې تلو، هېچا له نورو سره خبرې نه کولې. د ''اسلامي دولت'' نومې ډلې جنګیالیو خپلو سیمو ته زموږ د

ورتګ یو شرط دا ایښي و چې موږ به د خبریالی وسایل له ځانه سره نه وړو نو موږ هم تیار نه شو او بېرته جلال اباد ته را وګرځېدو.

جلال اباد د افغانستان له مهمو ټرانزیټي او سوداګریزو ښارونو دي. د همدې کال په اپریل کې دغلته یو زورور ځانمرګي برید چې د یوه بانک مخې ته وشو لسګونه کسان ووژل لومړني لوي برید و چې اسلامي دولت نومې ډلې یې پړه واخیسته. بانک اوس تړلي دي.

نور مې جلال اباد پرېښود خو د ښار انځور کې راته مالومېده چې د شینوارو د کیسو سیوري پرې غوړېدلي او هر یو د ماښام له تیارې مخکې کورته د تلو لار ګوري

## مطبوعاتي کنفرانس:

په پښتو کې ورته مطبوعاتي یا خبري ناسته وایي،هغه ادبي ژانر دی چې د چارواکو،دادارو دمسولینو، د ادارو د ویاندویانو یا دمدني ټولنو دمسولینو ،غړو،وکیلانو او هر مسول شخص لخوا یکې خپل فعالیتونه یا داړوندې پېښې په اړه خبریالانو ته په یووار معلومات ورکول کېږي،خبریالان د پېښې یا اړوندې موضوع په هکله د پوښتنو په واسطه معلومات بشپړوي او بیا یې دخبر او رپوټ په بڼه خپروي.

داچې مطبوعاتي کنفرانسونه څومره ډولونه لري ،څنګه جوړېږي ،کوم فعالیتونه ورته ترسره کېږي،دا په خبریالانو پورې اړه نه لري ځکه دلته پرې بحث نه کوم،دعامه اړیکو په بحث کې چې هغه دچارواکو او مسولینو لپاره مطبوعاتي لارښود کتاب دی،انشاء الله ډېر ژر به پرې وغږیږو دلته غواړم په هغو ادابو او نزاکتونو رڼا واچوم چې د مطبوعاتي کنفرارنس پر مهال خبریالانوته اړین دي:

تاسوته دمسولو ادارو لخوا دخبري ناستې لپاره ، د مسیج ،تیلیفون یا ایمیل له لارې خبر ورکول کېږي،هڅه وکړی له ټاکلي وخته، لس دقیقې دمخه خبرې ناستې ته ورسیږئ.

کله چې خبري ناستې ته ورځئ،کیدای شي په لاره کې د امنیتي مسولینو او پولیسو لخوا وپلټل شئ ،په پلټنې خوا مه بدوئ،ځکه دا دهغوي مسولیت او وظیفه ده.

خبریالان کله کله په دې غره وي چې زه خو مشهور سړی یم،دېوې معتبرې رسنۍ سره کار کوم، زه ولې وپلټل شم، همدا علت دی چې د عسکرو سره بې ځایه بحث کوي اوبیا دتحدېد سره مخ کېږي،او هم دعسکرو لخوا ورسره بد چلند کېږي،چې وروسته خبره بیا په جرګو او مرکو خلاصه شي،د پلټنې پرمهال له ځانه شکېبایي ښودل،حوصله کول،ستاسو دلوړو ژورنالیستیکي اخلاقو استازیتوب کوي ، له جنجالونو مو ساتي،او پر وخت خپلو چاروته رسیدګي کولی شئ.

خپل تخنیکي او دثبت وسایل چک او اماده کړئ،میک او لوګو مو ولګوئ،د کنفرانس پرمهال د میک او لوګو لګول کنفرانس اخلالوي او تاسې تمبل او بې مسولیته معرفي کوي. یو وخت مطبوعاتي کنفرانس وو،د خبرو په منځ کې یو خبریال نوی راغی،غوښتل یې چې خپل میک پر میز کیږدي ،وارخطا شو ،دخپل میک سره یې ټول میکونه لاندې خطا کړل او دخلکو دخندا شو،دغه راز په غونډو کې هم خبریالان بایددغه نزاکت مراعات کړي.

دکنفرانس پرمهال د موضوع په تړاو پوښتنې له ځان سره نوټ کړئ.

دثبت دکمه ووهی، کله چې ثبت پیل شو په خپل ځای کې ارام کینی.

دخبرو پرمهال که کومه خبره درته واضحه او څرګنده نه شوه،هغه یادداشت کړئ.

د خبرو مهم پاینټونه په کتابچه کې له ځان سره یادداشت کړئ.دا کار دخبریال سره دکلیپ ( غږ ) په انتخاب او متن لیکلو کې د سره مرسته کوي.

کله چې دپوښتنو وخت شو،که پوښتنه درسره وي ،لاس جګ کړی، اجازه واخلی او خپله پوښتنه په لنډه توګه مطرح کړئ.

کله کله له خبریالانو پوښتنې دومره اوږده شي چې کنفرانس ورکونکی پرې پوه نه شي ،هغه بیا ترې وپوښتي. هڅه وکړئ چې پوښتنه لنډه وکړئ،او له تکراري پوښتنو ډډه وکړئ.

په مطبوعاتي کنفرانس کې زیات شمېر خبریالان موجود وي ،چې ټولوته د پوښتنې نوبت نه رسېږي،ځیني خبریالان ددې لپاره تکراري پوښتنې کوي چې ځان شودنه وکړي ،دا کار ستاسې ژورنالیستیکې اخلاق تر پوښتنې راولي،که دبل خبریال او یا نورو خبریالانوپه پوښتنو کې مو پوښتنه حل شوه، لطفا له تکراري پوښتنو ډډه وکړئ، خو که مو پوښتنه نه وه ځواب شوې ،هڅه وکړئ چې د پوښتنې ځواب ومومئ.

ځیني خبریالان داسې پوښتنې هم کوي چې په رپوټ کې ترې استفاده نه کېږي،بې ځایه پوښتنې کول هم وخت ضایع کوي او هم دنورو خبریالانو د پوښتنو مخه نیسي.

## له کنفرانس نه وروسته:

دکنفرانس ورکوونکي بشپړه پیژندنه او د موضوع په باب که لیکلي مواد لکه بروشرې یا نورې معلوماتي پاڼې ،انځورونه او C.D ګانې موجودې وي،هغه ترلاسه کړئ،دغه راز د کنفرانس ورکوونکي د تیلیفون شمیره ،ایمیل ادرس او فیسبوک هم واخلئ،خپله شمیره او پته هم ورکړئ، او ددوستی یوه عادې اړیکه جوړه کړئ چې د خبریالی په راتلونکې چارو کې له تاسو سره همکار پاتې شي.

کله چې خپل دفتر ته لاړی، مواد مو ایډیټ او دنشر لپاره یې آماده کړئ. د رپوټ د لیکلو پر مهال د رپوټ او خبر لیکلو اصول مراعات او قانون پرې تطبیق کړئ، خبر ترې جوړ کړئ، نه تشریفاتي متن.

## Walk Talk یا د قدم وهلو مرکه:

دا هغې مرکې ته وایي، چې خبریال او هغه شخص چې مرکه ورسره کېږي، په یو مناسب ځای کې د قدم وهلو پرمهال د خبریال لخوا پوښتنې کېږي او مېلمه یې ځواب وایي.

د نورو مرکو سره يې توپير په دې کې دی، چې قدم وهل او هماغه مناسب ځای د ليدونکي او اورېدونکي په ذهن کې د تجسوس او تلوسې حالت زېږوي او يو ډول دا مرکه په زړه پورې کوي.

## په ژورنالستيکو ژانرونو کې ادبي برخې:

که څه هم په ټولو ذکر شويو ژورنالستيکي ژانرونو کې ادبي خواوې نشي موندل کېدای، خو په مرکه، راپورتاژ او **Fooc** يا د خبريال د سترګو ليدلی حال کې ادبي څرکونه موندل کېدلای شي، د بېلګې په ډول که موږ يوه ادبي مرکه تنظيموو، طبيعي ده، چې له يوه اديب، ليکوال او شاعر سره به وي.

لومړی خو دا مرکه هغه څوک ښه ترسره کولای شي، چې په خپله اديب وي، معنی دا چې که ژورنالست هم وي، ادبي ذوق يې بايد پياوړی وي، که نه وي هم، دومره باک نه لري، خو څوک چې ځواب وايي، په ادبي مرکه کې هرومرو به اديب، ليکوال يا شاعر وي، په داسې يو حالت کې موږ په اديب قيد نه شو لګولی، چې هغه دې په خپلو خبرو کې له تشبېهاتو، استعارو او کنايو نه دې استفاده ونه کړي، د بېلګې په ډول که موږ د استاد محمد آصف صميم يا استاد فضل ولي ناګار سره مرکه کوو، له دوی نه د ادبي وينا تمه کېږي.

لکه مخکې چې استاد ازمو دې ټکي ته اشاره وکړه، چې که موږ ووايو، پروين راغله او پروين د جګ قد لرونکې وي، دا ژورنالستيکه ژبه ده، خو که موږ ووايو، چې سروه راغله، معنی دا چې تشبه مو وکاروله، دلته سروه د پروين د قد سره تشبه شوې، چې مبالغه پکې ده، ځکه د سروې قد ډېر لوړ وي، نسبت انسان ته، وجهه شبه يې هم د قد جګوالی دی، دلته ده، چې موږ ادب ته داخل شولو، نو د اديب سره مرکه له دغسې جملو او پروګرامونو خالي نه وي، دلته ده، چې د ادب سره يې ګډه پوله پيدا کړه.

یا په خبرو کې انځورګري هغه څه دي، چې ژبه له ژورنالستیکي بڼې ادبي ته اړوي او دا د قدم وهلو پرمهال په ادبي مرکو کې ډېرې تر سترګو کېږي.
په فوک یا د خبریال د سترګو لیدلی حال کې خبریال یوازې خپل مشاهدات وړاندې کوي، د رپوټ او راپورتاژ سره یې توپیر دا دی، چې بل څوک نه غږوي، یوازې هغه څه وایي، چې ده لیدلې وي، کله کله که موضوع خونړۍ او یا تراژېدي وي، خبریال هڅه کوي، خپل د سترګو لیدلی حال داسې بیان کړي، چې عاطفه وزېږوي، احساس راژوندی کړي، عاطفه او احساس د هنري ادب توکې دي، په ژورنالېزم کې خبریال حق نه لري، چې خپل احساس او عاطفه په رپوټ کې شریک کړي، دلته ده، چې موږ وایو، په دې ژانر کې هم ادبي څرکونه لیدل کېږي.
د راپورتاژ په ژانر کې که ادبي راپورتاژ د بېلګې په ډول یاد کړو، هماغه مخکیني خبرې بیا تکرار راځي، چې په ادبي راپورتاژ کې ژبه ادبي کارول کېږي، استعارې او تشبه ګانې هم پکې وي، چې په دې ژانر کې هم ادبي څرکونه او د ژورنالېزم سره د ادب ګډې خواوې لیدل کېږي.

# د ادب او ژورنالېزم ګډ ژانرونه

له دې وړاندې په نکه ژورنالستيکو ژانرونو بحث وشو، چې په ځينو کې يې ادبي خواوې ځرګندې شوې، اوس هغه ژانرونه څېړو، چې د ادب او ژونالېزم ګډ دي.

## پکېج :

پکېج د ادب او ژورنالېزم هغه ګډ ژانر دی، چې په ادبي او انځوريزه ژبه او بڼه وړاندې کېږي.
له راډيو وروسته کله چې ټلويزيون رامنځته شو، د راډيو مسولين او کارکونکي د تلويزون سره د يو ډول ننګونکي سيالۍ سره مخ شول، د تلويزيون مينه وال ډيرشول، راډيوګانو ورو ورو خپل مينه وال له لاسه ورکول . دې چارې پر ورځپاڼو هم خپل اغېز ښندلې و.
د راډيو مسوولين او چلوونکي پر داسې لارو چارو فکرکولو ته اړ شول چې څنګه وکولای شي، خپل مينه وال وساتي او په يو ډول داسي انځوريز رپوټونه وړاندې کړي، چې د سينما د پردې په شان اورېدونکي هرڅه ووينې، يعنې په الفاظو او کليماتو پېښې او مسايل ترسيم کړي، نو په دوو جلا ژورناليستيکو ژانرونو پکيچ او فيچر ليکنې يې پيل وکړ، د ژورناليزم دا ژانرونه د راډيو مينه وال ډېر کړل، وروسته ټلوېزيونونو هم دغه ځيلونه خپل کړل او اوس د رسنيو په ټولو ډولونو کې دغه ځيلونه شته دي.
پکيچ انګليسي کليمه ده، بستې ته وايي، کله چې د يو شي اړوند توکي بشپړې شي، هغه سرغوچ شي، يا پيک شي، دغې بستې ته پکېچ وايي.
په ژورناليستيکه اصطلاح کې پکېج د رپورت نسبتا پراخې اوږدې او تفصيلي بڼې ته وايي، چې د مختلفو نقل قولونو

غبرونو او لنډو مرکو په کارونې سره مسایل او پېښې رانغاړي او رپوټ ته انځوریزه بڼه ورکوي.

پکېج د رپوټ په پرتله نسبتا پر زړه پورې ژانر دی، چې د بیلابیلو بڼو او روشونو له کبله خپل مینه وال لري، د ښه پکېج په پیل سره اوریدونکي اړکېږي چې هغه ترپایه واوري، وي ګوري اویا یې هم ولولي.

د پکېج لپاره له درې نیمو تر (۷) دقیقو وخت ټاکل شویدی،خو ځیني بیا دا وخت تر دې هم ډیروي.

ما په خپله پر کونړ د پاکستاني پوځیانو د توغندېزو بریدونو په اړه د آزادۍ راډیو لپاره یو پکېج جوړ کړی وو ،چې(۲۱) دقیقې وو،دا پکېج زموږ د همکارانو دومره خوښ شوی و چې بیا بیا یې خپور کړ،په داسې حال کې چې درپوټونو د چمتو کولو پرمهال مونږ ته سپارښتنه کیدله چې له دوه نیمو تر درې نیمو دقیقو مو باید رپوټونه اوږده نه وي.

د پکېج په زړه پورې والې په دې کې دی ،چې خبریال اړ کېږي چې دپیښې سیمې ته لاړ شي او خپل دسترګو لیدلی حال وړاندې کړي.

رپوټ دومره مستند شي چې اوریدونکي احساس وکړي چې په خپله هم په هماغه سیمه کې دي ،هر څه ویني او حس کوي یې.

په راډیوګانو او ورځپاڼو کې د پکیجونو او فیچرونو برکت دی چې تراوسه په رسنیز ډګر کې سیالۍ کوي او لاد سقوط سره مخ شوي نه دي.

پکیچ په راډیو کې د استعمال موارد ډیر لري خو فیچر په ورځپاڼو او مجلو کې .تلویزوني خبریالان اوس هم له دې ژانر نه کله کله کار اخلي.

کله کله د پکېجونو پیل د موضوع په تړاو په پر زړه پورې غږونو کېږي وروسته د همدې غږ پیژندنه وړاندې کېږي ،د موضوع په تړاو لومړني معلومات وړاندې کېږي ورپسې له ځینو نقل قولونو نه استفاده کېږي،په یوه برخه کې خبریال د خپلو سترګو لیدلی حال بیانوي په راډیواو ټلویزیون کې د هماغه

مطلوب ځاي له پيژندنې وروسته د مرکې په ډول خبرې اترې ترسره کېږي او کټ مټ په پکېچ کې تري ګټه پورته کېږي،همداسې موضوع ته ادامه ورکول کېږي،پاي ته نژدې کېږي ،تجربه كاره خبريالان پكېچ په يوې پر زړه پورې موسيقی ،يا دموضوع اړوند کوم بل غږ چې انګليسي کې ورته افکت وايې يا داسې جملي پاي ته رسوي چې د موضوع پر بشپړتيا دلالت وکړي بېلګه :

پيل: (د مرغيو شور ماشور او غږونه (۳۰ ثانيو لپاره)
دا دهغو قيمتي مرغانو شر اوشور دی چې د خپلو ښايسته غږونو، ډول ډول رنګونو او ښايسته بڼو له امله هره ورځ د سلګونو خلکو پام ځانته اړوي.
په دې مرغانو کې داسې مرغان هم شته چې له لس زرو تر سل زرو افغانيو هم خرڅيږي.
زه همدا شيبه د جلال آباد ښا ر د وچ ډنډ مالګې کوڅې لويديځه څنډه کې ولاړ يم ،د لته ګورم چې دمرغانو قفسونه کتار کتار ځوړند دي او بيلا بيل ډوله واړه مرغان د خرڅلاو لپاره په قفسونو کې اچول شويدي چې د غږونو شورماشور يې د هر لاروي پام ځانته اړوي.
همدا شيبه يوتن ، د مرغی خرڅونکي سره د کنري مرغی د خرڅلاو پر سر چنې وهي .
( داخيستونکي او پلورونکي د مکالمې (۳۰) ثانيې چي دمرغانو شور ماشورپکې هم ګډوي.)
کاکا نوم دې څه دی؟
محمد ګل.
څه کاروبار کوې؟
د مرغانو کاروبار کوم.
څه ډول مرغان درسره دي ؟
ډير ډولونه يې دي ، کنري،ګل سر،ساءيره.....
کوم ډول يې ډير اخيستونکي او مينه وال لري؟
سايره خلک ډير اخلي.

ولې؟

ځکه چې خوږ غږ ،ښکلې بڼه او ښایسته بڼکې لري.

د ورځې څومره مرغان خرڅوی؟

لس ــ شل ــ

څومره پکې ګټې؟

پنځه ــ لس ، کله کله ان شل زره ، برابري ده نو.

مننه ــ

له تاهم مننه.

ګورم چې یو تن یوه جوړه مرغۍ اخیستي ،غواړم دی وپوښتم چې په دې مرغیو څه کوي؟

کاکا ستړی مه شې .

خیر یوسې.

څو مرغۍ دې واخیستې او جوړه دې په څو واخیستې ؟

شل زره.

ډیرې پیسې دې پرې بندې کړې، څه پرې کوې؟

والله شوق دی نو،کور کې یې ساتم،له غږونو یې خوند اخلم.

نور مرغان هم لرې که همدا دي؟

نه. لوی قفس مې پري ډک کړی دی،دورځې دزرو روپو یواځې دانې پرې خورم.

بیا څه ګټه هم درته کوي که دا ټول مصارف یواځې د خپل شوق لپاره کوې؟

نه دا بچي کوي،بچې یې بیا خرڅوم ګټه هم لري ،خو زه یې د ګټې لپاره نه ساتم ، دشوق لپاره یې ساتم .

مننه ــ

له تاسې هم مننه .

د جلال آباد په ښار کې یواځې د مالګې کوڅه نه ده چې دا ډول مرغان پکې پلورل کیږي،بلکې د غسې بازارونه د ښار په ختیځ او ځینې نورو برخو کې هم شتون لري.

دکرهنې او مالدارۍ کار پوهان اندېښنه لري چې په افغانستان کې د ښکار قانون نه تطبیقیږي.

دا كار دځينو مرغانو او وحشي حيواناتو د نسل دوركيدو ويره زياته كړيده.

( كه پكېچ غزول غواړی د كارپوهانو نظر هم پكې واچوئ. او بيا اړوند اركان وپوښتی چې ولې ،د خپل سرو ښكاريانو مخه نه نيول كېږي ،كه نه همدلته په څو جملو پكېچ پاي ته نژدې كړی )

كارپوهان وايې ،كه حكومت د خپلسرو ښكاريانو مخه ونه نيسي كيدای شي د ځينو مرغانو نسل ورک شي . (د مرغانو په غږونو پكيچ پاي ته ورسوئ.)

## د پكېچ ادبي خوا:

د پكېچ ليكوال د پكېچ د ښكلي كولو او انځوريزې بڼې وركولو په موخه اړ نه دی، چې يوازې ژورنالستيكه ژبه وكاروي، بلكې كولای شي، په خورا ادبي ژبه يې هم وړاندې كړي.

كله كله استعاره، كنايه او سمبولونه هم كارولای شي.

د الفاظو رنګيني او انځوريزه ژبه د پكېچ بله ځانګړنه ده، چې دا په ادب پورې اړه لري.

په پكېچ كې ژورنالست خپل احساساتو او عواطفو نه هم كار اخيستلای شي، ژورنالست هڅه كوي، چې د پكېچ په وړاندې كولو سره د اورېدونكي احساسات او عاطفه راوپاروي، د پېښې په تړاو يې خواخوږي زياته كړي او دې ته يې اړ باسي، چې پكېچ تر پايه واوري.

تلوسه زېږونه په پكېچ كې مهم اصل دی او د تلوسه مسئله په ټولو ادبي ژانرونو كې هم مهمه ګڼل كېږي.

په پكېچ كې ټولنيزو نېمګړتياوو ته په ادبي ژبه نغوته كېږي او د ټولنې وګړي په خورا مهرباني، پسته او ادبي ژبه د نېمګړتياوو د رفع كولو په خاطر بلل كېږي.

## د پكېچ ژورنالستيكه خوا:

پكېچ هم لكه د نورو ژورنالستيكو ژانرونو د رپوټ نسبتاً پراخ چوكاټ دی، چې د ژورنالستيک رپوټ ټول ارونه پكې په نظر كې

نیول کېږي. د بېلګې په ډول: هر پکېج د رپوټ له عمومي اډانې چې هغه سرلیک، لید، متن او شالید دی بهر نه جوړېږي.
د رپوټ سره یې توپیر په دې کې دی، چې رپوټ ۲ څخه تر ۳۰: ۳ دقیقو پورې وي، خو پکېج تر ۷ دقیقو پورې وخت نیسی.
همدارنګه پکېج په ژورنالېزم کې کارول کېږي او تولیدي مسایلو ته پکې نغوته کېږي، چې سخت او جدي خبرونه نه وي. که سخت او جدي خبرونه هم وي، پکېج یې د خپل نرم خصلت له مخې په پسته ژبه یې وړاندې کوي.
کېدای شي، پکېج کې ژورنالستیکه ژبه وکارول شي، خو د وړاندې کولو انداز به یې ادبي وي.

## فیچر (Feature):

دادب او ژورنالیزم هغه ګډ ژانر دی چې معمولاً په چاپي ژورنالیزم کې ډیر کارول کېږي، هماغسې چې دراډیو مسولین د ټلویزیون هغو سره سیالۍ لپاره پکېج شه ژانر ګڼه او راډیو یې ددې جوګه کړه چې په رسنیز ډګر کې سیالي وکړي، دغسې دورځپاڼو او مجلو چلوونکي هم دغسې ننګونو سره مخ وو، دوی هم غوښتل پر داسې ژانر کار وکړي چې تفریحي او ذوقي بڼه ولري او په دې ډول خپل لوستونکي زیات کړي.
ددې چارې د سرته رسولو لپاره دوی فیچر لیکنې ته مخه وکړه.
په پخوانۍ فرانسوي ژبه کې د (Feature) کلمه د فیشن یا د کوم شي د جوړښت په مانا کارول کېده .
فیچر په لغت کې د یوشي څرګندونښو نښانو ،ظاهري بڼې خد وخال ته ویل کېږي او د ژورنالیزم په اصطلاح کې د پېښو او مسایلو ډراماتیک یا لفظي تصویري بڼې وړاندې کولو ته فیچر وایی . کلارنس ــ ري سکونفېلډ په خپل کتاب Effective Feature Writing کې لیکي:
(( فیچر یوه داسې منځنۍ لیکنه ده چې یو ه خوا یې وچ خبر وي اوبل لورته یې تصویري کیسه او یا خیالي مضمون ،دا په

بنسټیزه توګه د حقیقي ریپورتنګ پایله ده،په دې کې د لیکنې خیالي او وضاحتي عنصر هم شامیلیږي.))
ځینې لیکوال بیا فیچر او پکېج یوشان بولي،دوی فکر کوي چې دپکېج تفصیلي بڼې ته فیچر وایې.یواځې توپیر یې په دې کې ګڼي چې پکېج په راډیو او تلویزیون کې ډیر کارول کېږي او فیچر په ورځپاڼو او مجلو کې .
مشهور فیچر لیکوال ریاض بټالوي وایې: (( فیچر زموږ د ژورنالیزم داسې یو صنف دی چې پر مټ یې انساني مسایل، دردونه او سیمه ایزې چارې دولس او حکومت پروړاندې په اغیزمنه توګه وړاندې کېږي لږ تر لږ زه له خپل فیچر څخه د غه کار اخلم .))
په عمومي ډول فیچر په ډوله دی.
ادبي فیچر او ژورنالستیک فیچر

## ادبي فیچر:

هغو فیچرونو ته وایي، چې په خورا ادبي انداز، ادبي ژبه، تصویرونو، استعارو او کنایو په کارونې وړاندې کېږي، یوازې اډانه یې ژورنالستیکه بڼه لري، محتوا یې ادبي او رنګارنګي وي.
د دې فیچر لیکوال د ادبي لیکنو په ځانګړي ډول داستاني ادبیاتو تخنیکونه کاروي، پیل، منځ، عوج او پای ورته ورکوي، تلوسه زېږوي، کرکترونه په ادبي او هنري ژبه غږوي، خپلې خبرې هم په هنري او ادبي ژبه وړاندې کوي.
په دې فیچر کې تاریخي، سوانحي، ټولنیز .... فیچرونه شامل دي، اکثراً تولیدي او نه زږېدونکي مسایلو باندې جوړېږي، که د یوې سوالګرې نجلۍ ژوند ته په ادبي فیچر کې نغوته کېږي، د هغه ژوند داسې انځورېږي، چې د لوستونکي عاطفه او احساسات راوپاروي، یا که د کومې کونډې یا سوالګرې مور ژوند معکسوي، دومره دردونو ته یې پرداس ورکوي، چې لوستونکي کله کله اوښکې تویولو ته مجبوروي.

د ټولنې د اصلاح، ناوړه دودونو پروړاندې د مبارزې او پیغام لېږدونې لپاره ادبي فیچرونه ډېر اغېزمن واقع کېږي.
که څه هم فیچر لیکنه په افغانستان کې ډېر دود نه ده، خو په پاکستان او انګلستان کې خورا زیات کاروونکي لري، ځینې د ډېر تېراژ لرونکي ورځپاڼې ځانګړی ځای ورته لري او دومره مینه وال لري، چې له امله يې د ورځپاڼې د تېراژ لوړېدو سبب ګرځي.

## ژورنالستیک فیچر:

دا هغه ډول فیچرونه دي، چې ژورنالستان يې له خبري پېښو جوړوي، خبري پېښې په ادبي ژبه وړاندې کوي، نن سبا اکثراً تلوېزیونونه له دغسې فیچرونو نه استفاده کوي.
په ژورنالستیک فیچر خبري پوښتنې په ادبي ژبه ځوابېږي، که څه هم دا ژانر په چاپي مطبوعاتو کې د استعمال موارد ډېر لري، خو د ډېر په زړه پورې والي له امله تلوېزیونونه يې هم کاروي.
کله چې راډیو رامنځته شوه، چاپي مطبوعات څه نا څه خپل ارزښت له لاسه ورکړ او ورو ورو د ورځپاڼو مینه وال کمېدل، د راډیو زیاتېدل، د رسنیو مسوولینو په داسې ژانر کار وکړ، چې تصویري بڼه ولري او د راډیو او تلوېزیون سره سره ورځپاڼې هم خپل مینه وال وساتي.
د ادبي فیچر سره يې یوازې د موضوعاتو له پلوه توپیر لري، هغه په دې معنی، چې ژورنالستیک فیچر خبري مسایل رانغاړي او ادبي فیچر تولیدي مسایل وړاندې کوي.
د ((کالم، فیچر او تبصره)) لیکوال محمد اسلم ډوګر په خپل کتاب کې د فیچر پورته ذکر شوي ډولونه په خبري او غیر خبري ډولونو وېشلی دی.

### ۱. خبري فیچر

### ۲. غیر خبري فیچر

کله چي يو رپوټ په ادبي او شاعرانه اندازه کي وړاندې شي او لفظي تصوير ولري خبري فيچر بلل کېږي خو که کله له توليدي موضوعاتو او د ژوند په بيلا بيلو اړخونو فيچر ليکل کېږي نو غير خبري فيچر بلل کېږي.

په غير خبري فيچر کي بيا دغه ډولونه هم پيژنو:

## ۱-ټولنيز فيچر:

په دې ډول فيچر کي هغه ټولينيزي ناخوالې، دودونه او مسايل ، په ادبي او فيچري انداز کې وړاندې کېږي چې د ټولنې د اصلاح لپاره پيغام ولري، لکه د طلاق مسايل، د بدو ورکول پر ښځو زور زياتی....

## ۲-شخصي يا سوانحي فيچر:

له نوم نه يې څرګندېږي چې د يو چا پر ژوند او فن ليکل کېږي، کيداي شي د مهمو شخصيتونو ژوند پکې انځور کړای شي. د شخصيت مهموالی د موقف په لحاظ نه بلکې خلکو ته د دلچسپۍ په لحاظ ټاکل کېږي،کيدای شي د يوې سوالګرې مور د ژوند انځورول له يو وزير نه ډير په زړه پوري وي.

## ۳ـ تاريخي فيچر:

د ا ډول فيچرونه په تاريخي مسايلو ليکل کېږي يا هغو ودانيو چې تاريخي وي . دبيلګي په توګه که يوه تاريخي ودانی او يا يو تاريخي ځاي چا غصب کړی وي، د ا ډول فيچر پري ليکل کيداي شي.

انسان په فطري ډول د تاريخ سره مينه لر ي ، تاريخ د تيرې زمانې کيسه کوي، خلک علاقه لري په دې وپوهيږي چې له دوي نه وړاندې څه تېر شوي او څنګه تېر شوي دي. ځکه په کيسو او تاريخونو کې پند وي او د راتلونکي لپاره د تصميم نيولو په پروسه کې د يو چا مرستندويه واقع کيدلی شي.

## روزنيز فيچر:

د ټولنې د وګړو دروزنې لپاره پيغام ورکول کېږي.

## ساینسي فیچر:

په بیلا بیلو ساینسي مسایلو لیکل کېږي.

فیچر لیکنه په افغاني ټولنه کې ډیر دود نه ده،خو د پاکستان ورځپاڼې د فیچر لپاره جلا ځای لري.

په فیچر کې تلوسه،ادبي ذوق،نرمه ژبه ،انځور ګري هغه څه دي چې دا ژانر د ادبیاتو سره ګډ وي.

په ډیرو پر تیراژه ورځپاڼو کې د فیچر داشتهار لپاره په لومړي مخ کې جذاب سرلیکونه او زړه راښکونکي عکسونه خپریږي،لوستونکو ته نغوته کوي چې دا په زړه پورې فیچر په فلاني مخ کې لوستلی شی.

## يونليک:

که څه هم دا يو ادبي ژانردی، خو اوس په چاپي مطبوعاتو کې ترې ډير کار اخيستل کېږي، دا يونليکونه د تلويزوني او راډيويي هغو سره ډير توپير لري.
په دې ژانر کې ليکوال خپل مشاهدات او خاطرې ليکې او په برخو برخو يې ويشي، ليکنه انځوريزه بڼه لري، د سفرنامو ليکوال د عادي خبريال په پرتله ډير حساس وي، معمولا هغو مسايلو ته پکې نغوته کېږي چې د نورو خلکو له سترګو پناه وي، ليکوال هڅه کوي د هرې برخې د لوستلو لپاره جلا جلا تلوسې وزيږوي.
که څه هم يونليکونه په کتابي بڼه چاپيږي خو په زړه پورې يونليکونه په اخبارونو او مجلو کې په برخو برخو چاپيږي ا و خپل مينه وال لري.
د يونليک يو کمال به دا وي، چې لوستونکي هم له ځانه سره په دې سفر کې ملګري کړي، هماغه څه، چې دی يې ګوري په لوستونکو يې هم وګوري.
تکراري خبرې او جملې يونليک بې خونده کوي د لنډون په موخه په همدومره مالوماتو بسنه کوم.
معمولاً زموږ ليکوال دوه ډوله يونليکونه ليکي، ادبي او ژورنالستيک.

### الف: ادبي يونليک:

لکه څنګه چې مخکې مو وويل: د ادبي يونليک ليکوال خپلو مشاهداتو ته ادبي رنګ ورکوي او په تصويري ژبه يې ليکي، استعارې، کنايې او سموونې او سمبولونه هم کاروي، ژبه يې له لفظي ښکلاوو او رنګارنګيو ډکه وي، په ادبي يونليک کې

ليكوال هڅه كوي، د سفر په ټاكلي سيمه كې پلټنې هم وكړي او د هغه سيمې پر اقتصادي، كولتوري او تاريخي مسايلو هم څه نا څه رڼا واچوي، كله كله پرتله هم وړاندې كوي، مثلاً د يو هېواد اقتصادي پرمختګ يا كولتور خپل هېواد سره پرتله كوي او لوستونكي هڅوي، چې په ځان كې مثبت بدلون راولي.
دغه يونليكونه معمولاً په كتابي بڼه چاپېږي او د مشخو خلكو تر ګوتو رسېږي، زموږ اوسني ليكوال خپل ادبي يونليكونه هم په برخو برخو وېشي او د ورځپاڼو او مجلو له لارې خپروي، پر فېسبوک پاڼو او وېب سايټونو كې هم بازار لري، هڅه كېږي، چې د ادبي يونليک برخې په داسې ځای كې پای ته ورسېږي، چې تلوسه په خپل ځای پاتې وي او لوستونكي د يونليک پاتې برخې لوستو سره خپله علاقه مندي وساتي، دا نو د ليكوال پورې اړه لري، چې څنګه يې په برخو وېشي.

## ب: ژورنالستيک يونليكونه:

دا ډول يونليكونو ته د سفر ګزارشونه هم وايي، له ادبي سره يې توپير په دې كې دی، چې په ادبي يونليک كې ژبه خورا ادبي وي، خو په ژورنالستيک يونليک كې ژبه ساده او عام فهمه وي.
په ژورنالستيک يونليک كې ليكوال يوازې خپل مشاهدات ليكي، څېړنه نه كوي، يعني د سفر په سيمه كې د كولتوري، تاريخي او اقتصادي مسايلوپه باب څه نه پلټي، بلكې د سفر پرمهال څه چې ويني، هماغه ګزارش كوي. لكه د پوهاند رښتين (د پښتو تاريخي سيمينار) يونليک چې د هرې ورځې د فعاليتونو ګزارش يې په خورا شكلي بڼه ليكلې او پر ځينو برخو كې خپلې لنډې تبصرې هم كښلي دي.

د پښتو تاریخي سیمینار ټولګه د ژورنالستیک یونلیک ماډل ګڼلی شو، یونلیک ځکه دی، چې د سفر د پیل نه تر پایه ټوله کیسه پکې خوندي ده او د لارې په اوږدو کې خپل مشاهدات یې هم لیکلي دي، ژبه یې ساده او عام فهمه ده.

د ژورنالستیک ګزارش یا رپوټ سره یې توپیر په دې کې دی، چې په رپوټ کې د لارې د مشاهداتو کیسه نه بیانېږي، یوازې د غونډې، سیمینار یا پېښې حالات بیانېږي.

## ژورنالستيک سفرونه:

دا هم د ادب او ژورنالېزم ګډ ژانر دی، په دې ژانر کې راديويي او تلوېزيوني سفرونه شامل دي، يونليکونه يې هم برخه جوړوي، چې د چاپي رسنيو لپاره ليکل کېږي.

په دې ژانرونو کې هم ليکوال خپلواکه دی، چې ادبي ژبه کاروي، که ژونالستيکه، هغه قيد چې په خبر او رپوټ کې په خبريال لګول کېږي، په دې ژانر کې نه لګول کېږي.

ژورنالست هڅه کوي، چې رنګينې جملې او ادبي ژبه وکاروي، چې د خلکو پام ځان ته واړوي، انځورګري يې بله مميزه ده، ځکه د ادب او ژورنالېزم په ګډو ژانرونو کې شمېرل کېږي.

## تلوېزوني او راديويي سفرونه:

دسفر کيسه هر چاته په زړه پورې وي،ځکه د ژوند تېره برخه په خپله کيسه ده او کيسه له خوږو- ترخو ډکه وي.

انساني فطرت له آدمه تر دې دمه ،خپله مينه له کيسو سره ساتلې ده خو دا لنډه کيسه ،داستان ،ناول،او رومان نه دی،نه دهغو چوکاټونو تابع دي، چې په ذکر شو و ادبي ژانرونو کې په پام کې نيول کېږي.

تلويزوني اوراډيوي سفرونه او اخباري سفرنامې يا يونليکونه دا دبياتو او ژورناليزم ګډ ژانر دی.

که څه هم په نورو خبري ژورناليستيکي ژانرونو کې ټينګار د ژبې پر ساده والی کېږي،خو په دې ژانرونو کې ادبي ژبه هم کارېدلی شي.

دا ژانر، راپورتاژ ته ورته دی،توپير يې په دې کې دی چې په دې ژانر کې خبريال د سفر له پيله دلارې په اوږدوکې د ستونزو او ،ننګونو ،يا تحولاتو په هکله هم ليدونکواو اوريدونکو ته معلومات ورکوي،کله چې ټاکلې موخې ته ورسېږي ،دهغه ځای په اقتصادي ،امنيتي ،کلتوري، ټولنيزوچارو، حکومتوالی،د خلکو ژوند پر ځرنګوالي او هر هغه څه چې خلکو

ته په زړه پورې وي، رڼا اچوي او خلکوته د مرکو پر بنسټ معلومات وړاندې کوي، نرى موزيک اوږد سفر لنډوي او د موضوع په تړاو له نورو غږونو نه هم ګټه اخيستل کېږي.

د تلويزوني او راډيوي سفر په پيل کې خبريال انونس ورکوي او خپل مينه وال له ځانه سره د تلويزون د پردې او يا هم راډيو د څپوله لارې ملګري کوي او ګام پر ګام معلومات وړاندې کوي.

تجربه کاره خبريالان چې کله له راډيوي او تلويزيوني سفرنه راستانه شي ،د سفر د مهمو معلوماتو په هکله ليکنه کوي او بيا وروسته هغه ليکنه په سټوډيو کې ثبتوي او د ايډيټ له لارې د تلويزوني او راډيوي سفر د تصويرونو او مرکو سره يوځاي کوي ،دسيمې دودونه اوسيمه ايزه موسيقي دغسې سفرونه ډير ښکلي کوي،طلوع تلويزون د (هي ميدان طى ميدان ) په نوم دا لړۍ پيل کړې وه چې ډير زيات ليدونکي او مينه وال يې لاره ،زه هم د دې خپرونې مينه وال وم،د خپرونې د چلوونکې مهارت په دې کې وو،چې ددلچسپۍ ځايونه يې په ښه ډول پيژندلی شو او د هماغو ځايونو په اړه يې معلومات وړاندې کول،ددودونو ترڅنګ د تاريخي سيمو پيژندل هم دا ژانر ډير جالبه کوي.

ددغسې سفرونو د خپرېدو وخت هم د راپورتاژ په اندازه وي ،خو سفرونه ډير اوږد او د ډيرو برخو لرونکي وي چې په تلويزون او راډيو کې ورته ځانګړى وخت او ځاى ټاکل کېږي اوپه منظم ډول خپريږي ،په ياد ولرئ چې په راډيو او ټلويزون کې وخت او ځاي ډير مهم وي،که په دې اړه مسولين له پاملرنې کاروانخلي نو خپل مينه وال له لاسه ورکوي .

نن سبا دمطبوعاتو په دې آزاده سيالۍ کې سيالي کول مسلک، ژوره پوهه ، مطالعه او له بازارنه اګاهي غواړي له دې پرته دسيالۍ په ډګر کې وروسته پاتې کېږي لکه اوسمهال چې په سلګونو راډيوي او تلويزوني چينلونو کې يوازې د ګوتو په شمار يې سيالي کوي او پاتې نور يې هسې شپې سبا کوي.

د تلویزوني اوراډیوي سفرونو ژورنالستان باید دغو ټکو ته پاملرنه وکړي :

دسفر لپاره کافي امکانات وسایط او لوازم درلودل

دتخنیکي وسایلو لکه کمرې،ټایپ،میک لپاره اضافي بطرۍ، چارجر،انټرنیټي وسایل ،کمپیوټر...نور.

دسفر لپاره پلان او نقشه

د هدف وړ خلک په نښه کول او له هغو څخه د همکارۍ غوښتنه

دسیمې او لارې په اړه کافي معلومات ترلاسه کول چې په لاره کې د کوم خطر سره مخ نه شي .

دانتقال وسیلې له خوندیتوب نه ځان ډاډه کول.

د یخې او ګرمې هوا په وړاندې د تودولو او سړولو وسیلې درلودل.

د ادارې سره پرله پسې اړیکې.

د سیمې خلکو دباورونو ،عقایدو او دودونو په اړه د معلوماتو ترلاسه کول.

د سیمې د چارواکو په جریان کې اچول او دهغوي د همکارۍ غوښتنه.

د سفر لپاره هغه ځایونه ټاکل چې په اړه یې خلکوته معلومات په زړه پورې وي.

# راپورتاژ

راپورتاژ د لاتیني کلمې د **Report** څخه مشتق شوې فرانسوي کلمه ده، چې په بېلابېلو فرهنګونو کې یې بېلابېلې معناګانې شوې دي.

په فرهنګ عمید کې یې معنی ګزارش، خبر بیانول، روایت او خبرې راټولول راغلې دي.

د ادبي اصطلاحاتو په ډکشنری کې راپورتاژ د خبرونو، راپور ورکولو او د خبرونو د راپور ورکولو د عمل تخنیک ښودل شوی دی.

په اصطلاح کې یو ژورنالستیکي اصطلاح یا لیکنی ژانر دی، چې د هاغه په وسیله لوستونکي ته د پېښو، مسایلو او عواملو په اړه معلومات او پایلې په منطقي، مدلله، منظمه او مرتبه توګه په اسانی ورلېږدېږي. دغه راز راپورتاژ د یوې پېښې په زړه راښکونکي او کیسه ییزه (افسانوي) بڼه او انداز کې لیکلو ته وایي. ([8])

دا ژورنالیستیک ژانر له رپوټ نه لوی او د پراخ چوکاټ لرونکی دی، چې د پېښو اومسایلو په باب تفصیلي معلومات په ځان کې رانغاړي .په دوه ډوله دی.

ادبي راپورتاژ

ژورنالیستیک راپورتاژ

## ادبي راپورتاژ:

دغه ډول راپورتاژونه له ادبي غونډو، ادبي او علمي سیمنارونو، مشاعرو، ادبي خوځښتونو، ادبي بهیرونو او نورو ادبي برنامو په اړه جوړېږي.

[8] په پښتو ادب کې ادبي راپورتاژ، د څېړنیا محمد اصف احمدزي اثر

د عادي رپوټ سره يې توپير په دې کې دى، چې په دې کې تفصيل تاريخوار خپريږي او د پيښې يا موضوع ډېر جزيات وړاندې کوي، پېښه په ادبي کليماتو او څه ناڅه انځوريزه بڼه اوادبي ژبه وړاندې کېږي.

## ژورناليستيک راپورتاژ:

له عادي غونډو، کنفرانسونو، مجالسو، د ځينو ادارو، مرکزونو، سيمو او موضوعاتو د پيژندنې په موخه جوړېږي.
راپورتاژونه په تلويزيون کې ډېر، په راډيو کې لږ او په ورځپاڼو کې په نشت شمار استعمالېږي.
د ژورناليستيکو راپورتاژونو ژبه ساده، روانه او عام فهمه وي.

## په تلويزيون کې راپورتاژ:

فرض کړئ، خبريال له ننګرهار پوهنتون نه راپورتاژ جوړوي، که دا راپورتاژ د پوهنتون دپېژندنې وي، بايد د پوهنتون لنډه تاريخچه، پرمختګونه، ننګووني او حل لارې پکې په ګوته شي او دا د پوهنتون د مسولينو، استادانو او محصلينو سره د خبرو او مرکو په استناد وي.
راپورتاژ کې د سوژې په اړه کافي معلومات وړاندې کېږي.
د راپورتاژ وخت د موضوع مهموالي پورې اړه لري، له شلو دقيقو نه تر څلويښتو دقيقو پورې غځيدلى شي، خو په راډيو کې دغه وخت له ۱۵ــــ ۲۰ دقيقو زيات نه وي، ځکه چې په راډيو کې يوازې غږونه وي، انځورونه نه وي، لږ څه خسته کن تمامېږي، خوتجربه کاره خبريالان د موضوع په اړه له ځينو سندرو، تصويري کليمو، د مرغانو خوندورو اوازونو، بوږنوونکو او ځوروونکو غږونو، شپيلى او د موضوع په تړاو له داسې نورو غږونو څخه کار اخلي، چې راپورتاژ ته رنګيني بخښي، په راډيو کې بايد هڅه وشي، چې د وړاندې کولو بڼه يې

انځوريزه وي، ځکه که اوريدونکي له ځانه سره سيمې ته بونه ځي راپور تاژ به تر پايه څوک وانه وري،دغه راز د ورځپاڼو او مجلو لپاره تصويرونه هم ضروري دي،ځکه په تصويرونو سره مستند سازي کېږي او دلوستونکو توجه جلبوي.
راپورتاژونه د موضوع او محتوا له پلوه په بيلا بيلو نومونو يادولی شو.
که مونږ د يوي لوبې په اړه راپورتاژ جوړوو، کېدای شي وايو ورزشي راپورتاژ ،که دکومې اقتصادې پروژې په اړه يې جوړوو کيدای شي اقتصادي يې ونوموو،همدارنګه ساينسي،روغتيايي او داسې نور نومونه هم يادولی شو.
يعني راپورتاژ دېوې پېښې ،مسلې او ځای په باب مفصل معلومات وړاندې کول دی.

## طنز:

طنز له اره ادبي ژانر دی، خو د بوختونې او د رسنيزو تشو د ډکون په موخه اوس په ژورنالېزم کې يې ډېر باب مونږدلی دی، ډېری رسنۍ د طنز لپاره ځانګړی وخت، ځای او طنازې څېړي لري.
طنز عربي کلمه ده، چې په لغت کې د ناز او کرشمې، پيغور، مسخره کول او سرزنش کولو په مفهوم کارېږي.
څېړنوال سيد محی الدين هاشمي په خپل اثر (د نثري ادب ډولونه) کې يو څپرکی بحث پرې کړی، هغه د طنز تعريف داسې کوي:
((طنز د ادبي ژانرونو څخه يو ژانر او د ليکنې ځانګړې لار ده، چې اصلي مقصد پکې ګوتنيونه (انتقاد) دی، خو دا انتقاد د شوخۍ، رېشخند او د تمسخر په جامه کې نغښتی وي، د وينا لمن او انداز يې په زړه پورې او د ټوکو ټکالو په بڼه وي او مسايل پکې زياتره وخت سرچپه (معکوس) مطرح کېږي.))
په دې ډول ويلی شو، چې اوسمهال طنز ژورنالېزم ته ننوتی او ډېری رسنۍ يې کاروي، بڼه يې څه نا څه بدلوي، له ليکلي حالت نه د وينا ژبې ته يې را اړوي او د ټولنيزې اصلاح په موخه ترې

استفاده کېږي، ليدونکي، اورېدونکي او هم لوستونکي پرې بوخت ساتي.

که وګورو د هېواد اکثره رسنۍ دغه ژانر ډېر کاروي، د بېلګې په ډول طلوع تلوېزيون د زنګ خطر په نوم، لمر د ډنډوره په نوم، شمشاد بلا دې واخلم او د ننګرهار ملي تلوېزيون خندا په څپو کې خپرونې يادولی شو.

## تمثيلي پارچه:

تمثيلي پارچې ته په فارسي کې نمايشنامه او په پښتو کې ننداريک وايي، دا هم اوس د ادب او ژورنالېزم ګډ ژانر ګڼل کېږي او په رسنيو کې ترې د بوختونې او ټولنيزې اصلاح په موخه ګټه اخيستل کېږي، که څه هم پخوا دا ژانر د سټېج پر سر تمثيلېده، خو په دې وروستيو کې د تلوېزيون او راډيو په سټډيوګانو کې هم ثبتېږي.

د نثري ادب ډولونو په کتاب کې چې د ښاغلي څېړنوال سيد محى الدين هاشمي اثر دى، پرې په زړه پورې بحث شوى دى.

ښاغلى هاشمي د فرهنګ عميد په حواله يې داسې تعريفوي:

هغه ليکنه چې په هغې کې يوه کيسه، په تياتر کې د لوبولو لپاره تنظيم شوې وي، لوبغاړي د هغې ليکنې له مخې خبرې وکړي او خپل نقش ولوبوي. نمايشنامه ګڼل کېږي (9)

د کيسې سره يې لنډ توپير په دې کې دي، چې ننداريک د ديالوګ په شکل ليکل کېږي او په کيسه کې ديالوګ نه وي، نوره په خپله کيسه ده.

9 د نثري ادب ډولونه

## ډرامه:

ډرامه هم د هنري تمثيلي ادب هغه ژانر دى، چې د رسنيو ځانګړې برخې پرې په قسطوار ډول ډکې وي، دا هم د ننداريک يا تمثيلي پارچې نسبتاً پراخ چوکاټ دى، چې متن يې د ډيالوګ په بڼه ليکل کيږي او صحنې يې هم د ليکوال لخوا تشريح کيږي.

په دې ژانر کې د ورځني ژوند بېلابېل اړخونه تمثيلېږي او يا هم د تېرو نسلونو ژوند پېښې په تمثيلي بڼه بيانوي.

دا ژانر په رسنيو کې د بوختونې په موخه استعمالېږي او کله کله د مهمو پيغامونو لېږدونکی وي، که توليد زموږ خپل وي، پيغام لېږدونه پکې حتمي وي، که د بل هېواد وي بوختونه يې اصلي موخه وي.

## سريالونه:

اوسنيو انځوريزو رسنيو ته په کتو د سريالونو بازار ډېر تود دى.

سريال هم د انساني ژوندانه اوږده پړاوونه او ژوند پېښې په هنري بڼه وړاندې کوي.

هماغسې چې په داستاني ادبياتو کې لنډه کيسه، داستان، ناول او رومان د بڼې له مخې يو له بل نه په ترتيب لوى، اوږد، د ډېرو صحنو او کرکترونو لرونکى وي، همداسې سريالونه هم له تمثيلي پارچې يا ننداريک او ډرامې نه د بڼې له مخې پراخ او لوى چوکاټ لري، چې په زماني لحاظ هم کېداى شي، پېړۍ پېړۍ په بر کې ونيسي، اما په ډرامو او تمثيلي پارچو کې د وخت محدوديت شرط دى، همدارنګه د کرکترونو، صحنو او د پېښو شمېر هم په سريالونو کې بې شمېره وي.

د BBC د نوي کور-نوي ژوند ډرامه يې په راديويي ډرامو کې ښه بېلګه او په تلوېزيونونو کې خو بې شمېره ترکي او هندي سريالونه يې بېلګې ګڼلى شو.

په افغاني ټولنه کې تراوسه موږ د اوږده سريالونو بېلګه نه لرو، يوازې د کونډې زوى سريال، چې هغه هم محدودې صحنې لري او ويل کېږي، چې بشپړ شوى هم نه دى، بله داسې بېلګه نه لرو، چې د هندي او ترکي سريالونو سره سيالي وکړاى شي.

## ادبـي خپـرونـې:

نړدې ټولـې غږيزې، انځوريـزې او چاپـي رسنۍ د يــوې مشخصــې کلـيشــې لانـدې ادبـي خپـرونـې لـري.
دغه ادبـي خپرونـې د اديـبو ژورنـالـستانـو لخوا چې تـرڅنګ يــې شــاعر هم وي، پـرمخ وړل کېږي.
د خپرونـې لـپاره سکرپـټ لـيکل کېږي او بـيا ورتــه کرکټرونــه ټـاکــل کېږي، د سکرپټ ژبـه کـاملاً ادبـي وي او په خورا ادبـي او هنري ژبـــه وړانـدې کېږي، د نظم او نـثر دواړه بـرخې پکې موجودې وي او د ادب او ژورنـالـېزم لـه ټـولـو ژانـرونـو نـه پکې کـار اخيستل کېدلـی شــي، د بېلګې پـه ډول د نظمي ادب ټـول ژانـرونـه، غزل، قـصيده، نـظـم... او هم د داستـانـي ادب هر ډول ژانـرونـه، لـنـډې کيسـې، ا دبـــي ټـــوټـې، داستـان او آن نـاولـونـو نـه هم پـه قسطوار ډول ګټه اخيستل کېږي.
دغه راز، مطالب او مضامين هم د ژورنـالـستيکي ژانـرونـو پــه ټـولـــو قـالـبونـو کې وړانـدې کېدلـی شي، لـکه د ادبـي غونډو او ادبـــي پېښــو خبرونـه، رپـوټـونـه، پکېجونـه او نـور پکې کـارولـی شي، ادبـي خپـرونــې د شپېلۍ او موسيقۍ پـه ځينو پـارچو او سندرو لا رنګينــې او غــوره کولـی شي. پـه ادبـي خپـرونـو کې ادب، هنـر او ژورنـالـېزم درېـواړو نـه ګټه اخيستل کېږي.
د شعر د کلمې، د ادبـي پـارچو لـوستنـه، د شــاعر او اديـبــانـو ســره مرکې، لـنـډې مشاعرې، ادبـي تـبصرې، خــاطرې، ځــان پېښــې او دې تـــه ورتـه نـور مسايـل پـه خپل چوکاټ کې رانـغاړلـی شي. د ادبـــي خپـرونــو چوکـاټ خورا پـراخ او حوصلـه يـې لـويــه وي، پــه رسـنـيو کــې تــرې د بـوختـونـې او پيغام لـېږدونــې پــه موخــه کــار اخيـســتل کېـږي، پــه ننګرهار ملي راديـو تـلوېزيـون کې لـه نن نـه شـل کـالــه وړانــدې (د وږمو بـهير) پـه نـوم د استـاد ازمـون پــه پـروديـوسـرۍ پــه کــچ مــېچ بـرابـر ادبـي خپرونـه د بېلګې پـه ډول يـادولـی شو.

# د ګډو ژانرونو ګټې او زيانونه:

په طبيعي ډول په ټولنه کې هره پديده مثبت او منفي اړخونه لري، د ذکر شويو ژانرونو مثبتې خواوې ډېرې دي، خو ځينې ژانرونه لکه ډرامې، سريالونه او طنزونه کله کله د فرهنګې يرغل او د شخصيت وژنې سبب هم ګرځي.

## الف: ګټې:

د ګډو ژانرونو په چوکاټ کې د انساني غوښتنې يوه ستره غريزه خړوبېږي، چې هغه د تفريح او بوختونې غريزه ده.
انسان په طبيعي ډول مينه لري، چې د اطلاعاتو ترڅنګ بوختوونکي مسايل هم واوري، ولولي، ويې ګوري او خپل ذهن پرې بوخت وساتي.
دغه راز د پيغام مسئله هم ډېره مهمه ده، د پيغام لېږدونې پرمهال که يوازې ژورنالستيکه ژبه وکارول شي، اغېز به يې هومره زيات نه وي، لکه څنګه چې ادبي ژبې کارونې سره پيغام ذهن نشين کېږي.
رسنۍ ډېرې وخت اطلاعاتي تشې سره مخ کېږي، په همدې ګډو توليدي ژانرونو دا تشه داسې ډکېږي، چې د لوستونکي، اورېدونکي او ليدونکي د لوستو، ليدو او اورېدو تنده پرې خړوبېږي.
په اطلاعاتي ژانرونو کې د تکرار مخه پرې نيول کېږي، په خپرونو کې رنګارنګي او شکلا پيدا کېږي او دا د دې سبب کېږي، چې رسنۍ خپل مينه وال وساتي.
د ادب د بډاينې، پرمختګ او ترويجولو سبب ګرځي او دې ته ورته نورې بلا ګټې له ځانه سره لري.

## ب: زيانونه:

د ګډو ژانرونو ځينې ژانرونه د ګټې ترڅنګ زيانونه هم لري، د بېلګې په ډول د اوسنيو وارد شويو بهرنيو سريالونو ډېرې برخې لکه: هندي سريالونو کې بوت ته سجده کول يا د بربنډو

صحنو ښودل او ځينې نورې خواوې يې زموږ د ملي کولتور سره په ټکر کې دي.

همدارنګه په طنزي خپرونو کې کله کله شخصيت وژنه کېږي او د شخصي عقدو له مخې او يا هم د ځينو پروډيوسرانو د شخصي غوښتنو د نه پوره کېدو په سبب د يو چا شخصيت ته پکې سپکاوى کېږي، خو ترڅنګ يې ګټې دا دي، چې ټولنيزې نېمګړتياوې سموي، ټولنه د سمون خوا ته بيايي، د نورو مليتونو د کولتو او نورو هېوادونو د خلکو له ژوند سره مو اشنا کوي.

د بيان ازادي هغه څه دى، چې دواړه حالتونه يې رامنځته کړي دي، زما په اند بې خرته ازادي زيانونو ته ډېره زمينه برابره کړې ده، چې محدوديتونو او څارنې ته اړتيا ليدل کېږي.

# پـــابـلـه :

د ادب او ژورنـالـېزم ګډو خواوو او ژانـرونـو پـه څېړنـه کـې مـوږ د ادب او ژورنـالـېزم پـه پـېژنـدنـې، د دواړو تـرمـنـځ تـوپـیـرونـو د ادبـي بـرخـې پـر اړتـیـا، نـګـه ژورنـالـسـتـیـکـو ژانـرونـو پـه پـېژنـدنـې، پـه هـغـو کې د ادبـي څرکـونـو پـیـدا کـولـو، د ادب او ژونـالـېزم د ګډو ژانـرونـو پـه پـېژنـدلـو بـریـالـی شـوو.
د دې بـحث پـه پـابـلـه کې ویـلـی شـو، موضوع ډېـره نـوې وه، پـخـوا پـرې کـار نـه و شـوی، چې د ژورنـالـېزم لارویـان تـرې ګـټـه پـورتـه کـړې وای، زمـا پـه انـد دا یـو ښه لاسونـد شو، چې پـه راتـلـونـکي کـې تـرې هـم د ژورنـالـېزم او هم د ادبـیـاتـو محصلین د مـاخـذ پـه تـوګـه ګـټـه اخـیـستـلای شي.
پـه دې تـیـزس کې خـبـر، د خـبـر ډولـونـه، رپـوټ، د رپـوټ ډولـونـه، پـکـېـچ، د پـکـېـچ ډولـونـه، مـرکـه، د مـرکـې ډولـونـه، د خـبـریـال د سـتـرګـو لـیـدلـی حـال یـا **Fooc**، فـیـچـر، د فـیـچـر ډولـونـه، تـبـصـره، د تـبـصـرې ډولـونـه، کـالـم، د کـالـم ډولـونـه، یـونـلـیـکـونـه، ژورنـالـسـتـیـک سـفـرونـه، طـنـز، تـمـثـیـلـي پـارچـې، ډرامـه، سـریـالـونـه، ادبـي خـپـرونـې او د هـمـدې ژانـرونـو ګـټـې او زیـانـونـه د نـویـو بـېـلـګـو سـره تـشـریـح شـول او تـفـصـیـلي بـحث پـرې وشو.
پـه ژورنـالـسـتـیـکـو ژانـرونـو کې ځـیـنـې نـوي ژانـرونـه لـکـه، **Fooc** او **walk talk**، فـیـچـر او کـالـم لـیـکـنـه چې زمـوږ پـه مـطـبـوعـاتـو کې لا ډېـر رواج نـه دی مـونـدلـی، پـه تـفـصـیـل پـرې بـحث وشو، چـې د افـغـانـي ژورنـالـېزم د غـنـي کـولـو لـپـاره یـې کـارونـه اغـېـزمـن واقـع کـېـدلـی شي.
پـه دې څېړنـه کې دا جـوتـه شـوه، چې ژورنـالـېزم او ادب یـو د بـل لازم او مـلـزوم دي او پـرتـه لـه ادب نـه ژورنـالـېزم نـېـمـګـړی دی، ادب د ژورنـالـېزم تـکـمـیـلـونـکـی او ژورنـالـېـزم د ادب وړانـدې کـوونـکـی او تـرویـجـوونـکـی دی.
دغـه راز دا هم ثـابـتـه شـوه، چې ژورنـالـېزم جلا فـن او مـسـلـک دی او ادب جلا، خـو خـپـلـمـنـځـنـي تـړاو او یـو لـه بـل سـره نـه شـلـېـدونـکـي اړیـکـې هم لـري.

# مـنـاقـشـه :

زمـوږ پـه دې څېړنـه کې ځـیـنـې داسې ژانـرونـه هم وکـارول شـول، چې لـه اره نـګـه ادبـي دي، لـکـه طـنـز، یـونـلـیـک، ډرامـه، نـنـدارلـیـک یـا تـمـثـیـلي پـارچـه د ژورنـالـېزم سره یـې څـنـګـه ګډولـی شو؟
زمـا پـه انـد پـه ژورنـالـېزم کې د دې ژانـر بـڼـه څـه نـا څـه تـغـیـیـر مـونـدلـی دی او مـوږ د ژانـر پـه تـعـریـف کې وایـو، هـره لـیـکـنـه چـې پـه

یو ځانګړي فورم یا چوکاټ کې د ځانګړو قاعدو پر اساس ترسره شي، جلا ژانر زېږوي.

یونلیک د ادب په برخه کې په ځانګړي چوکاټ کې لیکل کېږي، خو په راديويي او تلوېزیوني سفرونو کې دا بڼه یا چوکاټ لږ او ډېر بدلون مومي، مثلاً غږونه او افکټونه پکې اچول کېږي او د جذابیت لپاره ژورنالست ځینې نوښتونه پکې کوي. د دې کار په ترسراوي کې له دواړو تخنیکونو نه ګټه اخیستل کېږي، همدا علت دی، چې په دې بحث کې د ادب او ژورنالېزم ګډ ژانرونه ګڼل شوي دي. ډرامه او نندارلیک هم همداسې وګڼه.

په لیکني شکل یوازې دیالوګونه او مکالمې وي، خو وروسته تمثیلي بڼه ورکول کېږي او د رسني، له لارې خپرېږي.

استاد محمد داوود وفا په خپل کتاب (د نوي ژورنالېزم بنسټونه) کې ژورنالېزم داسې تعریفوي:

((هغه ټول فعالیتونه چې د خلکو د خبروني او پوهوني لپاره، د عامه ډله ییزو ارتباطي او اطلاعاتي وسایلو له لارې خپرېږي، ژورنالېزم ګڼل کېږي.))

پورته تعریف ته په کتو او د همدې تعریف په استناد ذکر شوي ژانرونه هم د ارتباطي او اطلاعاتي وسایلو له لاې خپرېږي، ځکه نو د ژورنالېزم سره تړاو پیدا کوی.

## پایلیزه:

د موضوع د څېړنې په پایله کې دې نتیجې ته رسېږو، چې ژورنالېزم د ادب له دایرې بهر نشي مطالعه کېدلی، یو د بل لازم او ملزوم ممد او تکمیلوونکي دي.

دغه راز د څېړنې په لومړی برخه، ادب په پېژندنه کې موږ د سرمحقق دوست شینواري په حواله او هغه د اریانا دایرة المعارف په ماخذ ښودانې، ادب داسې تعریف کړی و:

((ادب عربي کلمه ده، چې هم د روزنې، ښه معاشرت، ښو کړو وړو، حرمت او نمانځنې معنی لري او هم په عنعنوي توګه هغې ژبنی پوهې او ژبني هنر ته ویل کېږي، چې پخوانیو پوهانو پکې ژبني علوم یعنې ژبپوهنه، صرف، نحوه، معاني، بیان، بدیع، عروض، قافیه، حتی د لیک او لوست قوانین، اشتقاق،

انشا او تاریخ شامل کړي وو، چې اوس مجموعاً د ادبیاتو به نامه یادېږي))

دې پېژندنې ته په کتو ژورنالېزم په خپله هم د ادبیاتو یوه برخه ګڼلی شو.

همدارنګه ژورنالېزم د ادب د ترویجولو او بډاینې بهترینه وسیله ګڼلی شو، چې له ادبیاتو پرته د ژورنالېزم مطالعه او څېړنه به نیمګړې وي.

## وړاندیزونه:

١: د ادب او ژورنالېزم د ګډو خواوو د څېړنې لپاره کافي مواد نشته، باید هڅه وشي، چې په دې برخه کې لازیاتې څېړنې وشي او مهم اثر پرې ولیکل شي.

٢: زموږ هغه لیکوال چې د ژورنالېزم په ډګر کې یې عملي کار کړی او په دواړو مسلکونو برلاسي دي، باید خپلې تجربې په لیکلي بڼه وړاندې کړي، چې دغه تشه ډکه شي.

٣: د موضوع د څېړنې لپاره اړتیا ولیدل شوه، چې د کتابتوني څېړنې ترڅنګ، ساحوي څېړنې نه هم ګټه واخیستل شي، وړاندیز مې دا دی، هغه استادان چې پر دواړو، ادب او ژونالېزم برلاسي دي، د کتابتوني څېړنو د غني کولو په موخه د خپلو تجربو نه په ګټې اخیستنې، په دې برخه کې څېړنیز اثار رامنځته کړي.

۴: دا چې ژورنالېزم په افغانستان کې هغومره لا وده نه ده کړې، لکه په نورو پرمخ تللیو هېوادونو کې چې یې کړې ده، هغو لیکوالو او استادانو ته چې په انګلیسي ژبې برلاسي دي، وړاندیز کوم، چې په دې برخه کې ژباړې وکړي او زموږ دا برخه لا غني کړي.

۵: د هغو استادانو سره چې په ادب او ژورنالېزم دواړو کې برلاسي دي، له مرکو او خبرو اترو دا جوته شوه، چې دوی په دې برخه کې په شفاهي ډول بلا ډېرې خبرې لري، همدا تحریري کړي او د ادب او ژورنالېزم د لا بډاینې په موخه یې ټولنې ته وړاندې کړي.

# ماخذونه:

۱: احمدزی، امیر جان، کالم فیچر او تبصره، ژباړه، ۱۳۸۹ کال، دانش خپرونديه ټولنه.
۲: احمدزی، راډیویي ژورنالېزم، د ارشد علي کتاب، ژباړه، ۱۳۸۷ کال، د ختیزې سیمې لیکوالو او ژورنالستانو خپلواکه ټولنه.
۳: احمدزی، محمد اصف څېړنیار، په پښتو ادب کې ادبي راپورتاژ، کال ۱۳۹۱، عبدالمجید مومند کتاب پلورنځی
۴: ارزومند، محبوب شاه، د پښتو نظم کلاسیک ژانرونه، اثر، ۱۳۸۹ کال، ګودر کتاب پلورنځي.
۵: توکلی، احمد، مرکه، د محمد اصف شینواری ژباړه، ۱۳۸۹ کال، اسد دانش مطبعه.
۶: حلیم، صفیه، ژورنالېزم، اثر، ۱۳۹۱ کال، مومند خپرندویه ټولنه.
۷: رښتین صدیق الله پوهاند، د پښتو نثر هنداره، یونیورسیتی بک ایجنسي
۸: رښتین صدیق الله پوهاند، د هند سفر، ۱۳۹۴ کال، مومند خپروندویه ټولنه
۹: رښتین صدیق الله پوهاند، د پښتو تاریخي سیمنار، کال ۱۹۸۷ یونیورسیتی بک ایجنسي
۱۰: رښتین صدیق الله پوهاند، ادبي لیکونه، ۱۳۶۱ کال، دانش کتابخانه.
۱۱: شینواری، دوست، سرمحقق، د ادب تیوری اساسونه، ۱۳۹۳کال، دویم چاپ، یار خپرندویه ټولنه.
۱۲: میاخېل، ببرک، تود خبر او سوړ خبر، ژباړه، ۱۳۸۶ کال، مومند خپرندویه ټولنه.
۱۳: نجفي زاده، سید هارون، عملي ژورنالېزم، د ببرک میاخېل ژباړه،
۱۴: هاشمي، محی الدین، څېړنوال، د لیکوالی فن،

۱۵: هاشمي، محی الدین، څېړنوال، د نثري ادب ډولونه، (ادبي ژانرونه)، ۱۳۹۲ کال، وحدت خپرندویې ټولنه.
۱۶: وفا، محمد داودد، د اوسني ژورنالېزم بنسټونه، اثر،
۱۷: همدرد، شېرشاه، د اوسني ژورنالېزم نچوړ، ۱۳۹۴ کال، ګودر خپرندویه ټولنه.
۱۸: مومن، مسعود، انتخاباتي ژورنالېزم، ژباړه، ۱۳۹۲ کال، میدیویک افغانستان.
۱۹: مومن، مسعود، د سولې ژورنالېزم، تالیف او ژباړه، ۱۳۹۱ کال، میدیوتیک افغانستان.